د افغانستان بانک









# کلنی راپور سالانه ۱۳۹۳






DA AFGHANISTAN BANK

# د افغانستان بانک






# کلنی راپور
# سالانه ۱۳۹۳

**د افغانستان بانک کلنی راپور**

**د** اسناد او اړیکو عمومي آمریت

**د خپرونو او اړیکو معاونیت**

**د خپرونو مدیریت**

**چمتو کوونکی:** عبداللطیف بایاني

ایدیت:ایمل هاشور

عکس: زیرک ملیا

ژباړه: عین الله عیان

ډیزاین: خالد احمد فیضي

**پته:** **د افغانستان بانک، ابن سینا واټ، کابل – افغانستان**

**ټلیفون: ۲۱۰۳۸۱۵– ۲۱۰۴۳۶۱– ۰۲۰**

**برېښنا لیک:** info@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af

فیس بوک: AFGCentralbank

ټویټر: @AFGCentralbank

# د افغانستان بانک مشر تابه پلاوی



د افغانستان بانک لوی رئیس
خلیل صدیق



د افغانستان بانک لومړی مرستیال
خان افضل هډه وال



د افغانستان بانک دویم مرستیال
الحاج عیسی خان طراب

## د مطالبو لړلیک

**د افغانستان بانک د لوی رئیس پیغام** ........ الف
**۱-پولي سیاست** ........ ۱
- د پولي سیاست اډانه ........ ۱
- د پولي سیاست موخې ........ ۱
- عمده موخه ........ ۱
- د پولي سیاست عملیاتي موخه ........ ۱
- فرعي عملیاتي موخه ........ ۱
- د پولي سیاست ابزار ........ ۲
- د اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ ........ ۲
- د افغانستان بانک اسعاري زېرمې ........ ۳
- پولي پړسوب ........ ۳
- د پولي سیاست بریالیتوب ........ ۳

**۲. مالي نظام** ........ ۷
- ټولیزه شتمني ........ ۸
- ټولیزه پورونه ........ ۹
- ټولیزه امانات ........ ۱۳
- ټولیزه پانګه ........ ۱۴
- ګټه ........ ۱۴
- سیالیت ........ ۱۶
- د اسعارو پرانېستې وضعیت ........ ۱۶

**۳. د تادیاتو سیستم** ........ ۱۹
- د بانکونو ترمنځ تادیات ........ ۱۹
- نړیوال تادیات ........ ۱۹
- د نمایندګیو ترمنځ تادیات ........ ۱۹
- د چکونو د تسویې او تصفیې برخه ........ ۲۰

**۴. د بازار عملیات** ........ ۲۳
- اسعاري شتمنۍ ........ ۲۳
- د اسعارو لیلام ........ ۲۳

- د بیه لرونکو پاڼو لیلام ........ ۲۳
- د شپې د اماناتو اسانتیا........ ۲۴
- لیتراف کریډیټونه........ ۲۴

**۵. د عامه اعتباراتو ثبت........ ۲۷**

- د عامه اعتباراتو د ثبت سیستم ........ ۲۷
- د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت اداره ........ ۲۹
- سوداګریزه پرمختیا او عامه پوهاوی........ ۳۰
- الکترونکي خدمتونه او د اداري طی او مراحلو ټیټوالی........ ۳۲

**۶. د افغان اماناتو د بیمې اداره........ ۳۷**

- د افغان اماناتو د بیمې د ادارې د تاسیسیدو موخه او رول ........ ۳۷
- د ۱۳۹۳ مالي کال په ترڅ کې د افغان اماناتو د بیمې د ادارې غړي بانکونه........ ۳۷
- د دې ادارې پولي منابع........ ۳۸
- له سوداګریزو بانکونو څخه د حق البیمې وضع کول........ ۳۸
- د افغان اماناتو د بیمې ادارې د پیسو د پانګه اچونې پروسه ........ ۳۹
- د افغانستان بانک په بیه لرونکو پاڼو کې د افغان اماناتو د بیمې د پیسو پانګونه........ ۴۰
- د افغان اماناتو د بیمې د ادارې د قانون او حقوقي حیثیت پروسه ........ ۴۰

**۷. د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز........ ۴۳**

- د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز او نړیواله همکاري........ ۴۴

**۸. د مالي او محاسبې لوی آمریت........ ۵۱**

- د بودجې جوړښت........ ۵۱
- د ۱۳۹۳ کال د بودجې راپور........ ۵۱
- عایداتي شقوق........ ۵۲
- لګښتي شقوق........ ۵۲
- پانګه ایزه شقوق ........ ۵۳
- د مالی حالت صورت حساب ........ ۵۴
- د ګټې او زیان صورت حساب........ ۵۵
- دنقدی بهیر صورت حساب........ ۵۶

**۹. اداره او پراختیا** ........ ۵۹

- د ټولو ناظر اداره ........ ۵۹
- د اسنادو او اړیکو لوی آمریت ........ ۶۰
- حقوقي مشاوریت ........ ۶۰
- بانکي عملیات ........ ۶۲
- د بشري منابع لوی آمریت ........ ۶۳
- د مالي سکتور د ټینګښت پروژه ........ ۶۴
- معلوماتي تکنالوژي ........ ۶۶
- د مالي خطرونو اداري عمومی آمریت ........ ۶۹

**د ګرافونو لړلیک**


۱ ګراف: ۱۳۹۳ مالي کال لپاره د پولي زېرمو د دوې سلنه............ ۱
۲ ګراف: ۱۳۹۳ مالي کال لپاره په ګردښت کې د پیسو سلنه ............ ۲
۳ ګراف: په ۱۳۹۳ مالي کال کې د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې د نرخ اوسط............ ۳
۴ ګراف: په ۱۳۹۳ مالي کال کې د هېواد اسعاري زېرمې............ ۳
۵ ګراف: د ۱۳۹۳ کال د تلې په میاشت کې د بیو د مصرفوونکي شاخص پر بنسټ د پولي پړسوب نرخ............ ۳
۶ ګراف: له ۱۳۸۶ کال څخه تر ۱۳۹۳ کال پورې د پولي خدماتو د وړاندې کوونکو او صرافانو د زیاتیدو بهیر... ۸
۷ ګراف: له ۱۳۸۶ هجري لمریز کال څخه د ۱۳۹۳ کال تر لینډۍ پورې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د ودې بهیر ۹
۸ ګراف: د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د بانکي ګروپونو ونډه............ ۹
۹ ګراف: د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو وده............ ۹
۱۰ ګراف: د بانکي نظام د ټولیزه پورونو وده............ ۱۰
۱۱ ګراف: د ناخالصه صعب الحصول پورونو او د حصول وړ پورونو نسبت............ ۱۱
۱۲ ګراف: د بانکي نظام ټولیزه پورونه او امانات ............ ۱۴
۱۳ ګراف: د بانکي نظام د ټولیزه اماناتو وده............ ۱۴
۱۴ ګراف: د بانکي نظام ټولیزه پانګه............ ۱۴
۱۵ ګراف: د بانکي نظام د ګروپونو ټولیزه ګټه او زیان............ ۱۵
۱۶ ګراف: د ۱۳۹۳ مالي کال په اوړدو کې د افغانۍ، ډالري او د یورو د معاملو شمېر............ ۱۹
۱۷ ګراف: د ۱۳۹۳ کال په اوړدو کې د افغانۍ او اسعاري معاملو شمېر............ ۲۰
۱۸ ګراف: په ۱۳۹۳ کال کې د چکونو د تصفیې او تسویې د برخې د معاملو شمېر............ ۲۰
۱۹ ګراف: د ۱۳۹۳ مالي کال په ترڅ کې د بیه لرونکو پاڼو لیلام............ ۲۴
۲۰ ګراف: پانګه اچوونکو ته د پانګه ایزو پاڼو د ټکټانې ورکړه............ ۲۴
۲۱ او ۲۲ ګرافونه: د ثبت شویو پوروړو نوعیت............ ۲۹
۲۳ ګراف: د عامه اعتباراتو د ثبت شویو تړونونو سلنه............ ۲۹
۲۴ ګراف: د ۱۳۹۳ مالي کال په ترڅ کې ټولیزه راټوله شوی حق البیمه............ ۳۹
۲۵ ګراف: د افغان اماناتو د بیمې د ادارې د تأسیسیدو له پیل څخه تر اوسه پورې راټوله شوې ټولیزه حق البیمه... ۳۹
۲۶ ګراف: د افغانستان بانک په بیه لرونکو پاڼو کې د افغان اماناتو د بیمې د ادارې پانګونه............ ۴۰
۲۷ ګراف: په کندهار کې د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي............ ۴۶
۲۸ ګراف: په کندهار کې د پیسو مبادله............ ۴۷
۲۹ ګراف: د بودجې د شقوقو زیاتوالی او کموالی............ ۵۲

۳۰ ګراف: د افغانستان بانک د ۱۳۹۳ کال د بودجې عایداتي شقوق...................................................................... ۵۲
۳۱ ګراف: د افغانستان بانک د ۱۳۹۳ کال د بودجې لګښتي شقوق....................................................................... ۵۳
۳۲ ګراف: د افغانستان بانک د ۱۳۹۳ کال د بودجې د مخارجو شقوق.................................................................. ۵۳

**د جدولونو لړليک**


۱ جدول: په هېواد کې د نمايندګيو شمېر او نورې شته بانکي اسانتياوې ........ ۸
۲ جدول: د بانکي نظام د کارټونو شمېر ........ ۸
۳ جدول: د بانکي نظام د ټوليزه پورونو ډله بندي ........ ۱۰
۴ جدول: د کوچنيو او منځنيو پورونو ورکړه ........ ۱۱
۵ جدول: د بانکي نظام د ناخالصه پورونو تفکيک ........ ۱۱
۶ جدول: په ولايتونو کې (له جغرافيايي پلوه) د پورونو وېش ........ ۱۲
۷ جدول: د ۱۳۹۳ کال په ليندۍ کې د سکتوري پورونو وېش ........ ۱۲
۸ جدول: د پېرودونکو، پوروړو، د پور د مبلغونو، د ښځينه پېرودونکو د سلنې، او داسې نورو شمېر ........ ۱۳
۹ جدول: د ۱۳۹۳ کال د ليندۍ په پای کې د ټوليزه اماناتو ترکيب ........ ۱۴
۱۰ جدول: د کارکوونکو، پوروړو، امانت اېښودونکو او نورو مشتريانو شمېر ........ ۱۶
۱۱ جدول: د عامه اعتباراتو د ثبت په سيستم کې د ټوليزه ثبت شويو پورونو شمېر ........ ۲۹
۱۲ جدول: د رهني حقونو د ثبت د سيستم احصائيه ........ ۳۰
۱۳جدول: د اعتباراتو د ثبت په سيستمونو کې جوړ شوي يوزرونه ........ ۳۳
۱۴جدول: هغه بانکونه چې د افغان اماناتو د بيمې د ادارې غړيتوب لري ........ ۳۷
۱۵جدول: د افغان اماناتو د بيمې د ادارې د پيسو منابع ........ ۳۸
۱۶جدول: د حق البيمې د وضع کولو سلنه ........ ۳۸
۱۷جدول: له سوداګريزو بانکونو څخه وضع شوې حق البيمه ........ ۳۹
۱۸جدول: د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې د مرکز د ترلاسه شويو او ليږدول شويو مالي معلوماتو د غوښتنليکونو احصاييه ۴۴
۱۹جدول: له نورو هېوادونو سره د مالي معاملو او راپورونو د څېړنيز مرکز د مالي همکاريو هوکړه ليکونه ........ ۴۴
۲۰جدول: د درخواست کوونکې ادارې په تفکيک سره د غوښتنليکونو شمېر ........ ۴۵
۲۱جدول: د اصلي او مهمو جرمونو پر بنسټ د قانون تنفيذوونکو ادارو ته ځواب ........ ۴۶
۲۲جدول: د پېژندنې د کارټونو وېشل، د سوانحو ترتيبول او داسې نور ........ ۶۸
۲۳جدول: د افغانستان بانک د مرکزي نمايندګيو د بيا رغونې کړنې ........ ۷۷
۲۴جدول: د افغانستان بانک د ولايتونو د نمايندګيو بيا رغونه او په نوې بڼه جوړونه ........ ۷۸

## د افغانستان بانک د لوی رئیس پیغام

د افغانستان بانک د عالي شورا او مشر تابه پلاوي په استازیتوب خوښ یم چې د افغانستان بانک د خپل ستراتیژیک پلان له څلورم اصل سره سم هغو ادارو او اشخاصو ته چې د افغانستان بانک د سیاستونو او د بانکي نظام د کړنو په اړه شمېرو او معلوماتو ته اړتیا لري، په خپل وخت د معلوماتو په وړاندې کولو کې په بریالیتوب عمل کړی دی. د افغانستان بانک د تیرو څو کلونو په اوږدو کې د بېلابېلو ابزارونو په ځانګړې توګه د افغانستان بانک د کلني راپور له لارې د دې بانک او د هېواد د بانکي نظام کړنې د عامه خلکو، محصلینو، اکاډمیکې ټولنې او دولتي او خصوصي ادارو د پوهاوي لپاره وړاندې کړې دي. دا مهال د ۱۳۹۳ مالي کال راپور چې د پولي سیاست، د مالي نظام د کړنو، د بازار عملیات، د تادیاتو سیستم او د افغانستان بانک د نورو برخو کړنې رانغاړي، د عامه پوهاوي لپاره وړاندې کوم.

د افغانستان بانک د هېواد د مرکزي بانک په توګه، له خپلو موخو او دندو سره سم د انفلاسیون د ساتلو، د افغانۍ د مبادلې نرخ له سختو نوساناتو د مخنیوي او د اسعاري زېرمو د مدیریت، د عامه اعتباراتو د ثبت او د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت سیستمونو د جوړولو او اداري پراختیا په برخو کې بې دریغه هلې ځلې کړې چې مطلوبې پایلې یې درلودلې دي.

د ۱۳۹۳ کال په لیندۍ میاشت کې د پولي پړسوب نرخ شاوخوا ۱.۳ سلنه او همدا ډول د خوراکي توکو د پړسوب نرخ کابو ۲.۹ سلنه او د ناخوراکي توکو د انفلاسیون نرخ ۰.۵- سلنه ثبت شوی دی. د پولي انفلاسیون نرخ چې د ملي مصرفي بیو په شاخص (National CPI) کې د کلني بدلونونو د سلنې په اساس محاسبه کیږي، د تیر کال د همدې میاشتې په پرتله ۵.۹ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

د ۱۳۹۳ مالي کال په اوږدو کې د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې د نرخ اوسط شاوخوا ۵۷.۳۳ افغانۍ ؤ. د مالي کال په پیل کې د یو امریکایي ډالر ارزښت په اوسط ډول ۵۷.۰۳ افغانۍ ته رسیده چې دا شمېره د کال په پای کې ۵۸.۰۸ ته ورسیده چې په دې ډول د یو امریکایي ډالر پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې په ارزښت کې ۱.۸ سلنه ټیټوالی لیدل کیږي. په همدې شان د پاکستانۍ روپیۍ، هندي روپیۍ او ایراني ریال په پرتله د افغانۍ د مبادلې نرخ ښه ثبات درلودلی دی.

د افغانستان بانک اسعاري زیرمې د ۱۳۹۲ مالي کال د مرغومې په لومړیو کې ۷.۰۷۳ میلیارده امریکایي ډالره وې چې د ۱۳۹۳ کال د لیندۍ په ۳۰ نېټه ۷.۲۶۷ میلیارده امریکایي ډالرو ته ورسیدې چې ۱۹۴ میلیون امریکایي ډالره زیاتوالی ښکاره کوي چې دا زیاتوالی د افغانستان بانک مهمه لاسته راوړنه ګڼل کیږي او د هېواد د اسعاري زېرمو د اغیزناکه مدیریت ښکارونه‌دوي کوي.

د ۱۳۹۳ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان بانکي نظام په ټولیزه توګه ښې لاسته راوړنې درلودلې. د بانکي نظام ټولیزه شتمنۍ چې په ۱۳۹۲ مالي کال کې ۲۴۵.۷۵ میلیارده افغانۍ وې، د ۱۳۹۳ مالي کال په ترخ کې ۲۵۶.۷۹ میلیارده افغانۍ ته ورسیدې چې ۴.۵۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. په بانکونو کې د خلکو اماناتو هم لوړیدونکی بهیر درلود چې د ۱۳۹۳ مالي کال په ترخ کې کچه یې۲۱۸.۸۴ میلیارده افغانۍ ته ورسیده چې د ۱۳۹۲ مالي کال په پرتله ۵.۳۳ سلنه او د تیرې میاشتې (د ۱۳۹۳ لړم) په پرتله ۳.۸۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د افغانستان بانکي نظام د ۱۳۹۳ مالي کال په ترخ کې په ټولیزه توګه

۲.۱۷ میلیارده افغانی ګټه کړې ده چې د ۱۳۹۲ مالي کال د ۱.۴۳ میلیارده افغانی په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي.
د ۱۳۹۳ مالي کال په اوږدو کې له سوداګریزو بانکونو څخه د افغان اماناتو د بیمې اداري حساب ته په ټولیزه توګه ۳۶۰،۹۶۹،۱۶۴ افغانۍ راټولې شوي دي. د افغان اماناتو د بیمې حساب ته د سوداګریزو بانکونو لپاره د حق البیمې حساب د تاسیسیدو له پیل څخه تر اوسه پورې شاوخوا یو میلیارد او پنځه سوه او یو نوي میلیونه او شپږ سوه څلور نوي زره او څلور سوه شپاړس افغانۍ راټولې شوي دي.
د ۱۳۹۲ او ۱۳۹۳ مالي کلونو په اوږدو کې د عامه اعتباراتو د ثبت او د منقولو اموالو د رهني حقونو د ثبت له سیستمونو څخه ګټه اخیستل یو له هغه ارزښتناکه کارونو څخه دي چې نه یوازې د افغانستان بانک لپاره د پام وړ پرمختګ ګڼل کیږي، بلکې بانکي نظام او مشتریانو لپاره هم ځانګړی ارزښت لري، څکه چې اعتباري او رهني معلوماتو ته لاسرسي د مالي نظام د ټیکاو په برخه کې مهم رول لري او بانکي سکتور په بشپړ ډاډمنتیا سره کولای شي متشبیثونو ته پورونه ورکړي.
د افغانستان بانک د ۱۳۹۳ مالی کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه د خپرونو، اړیکو، اداري، تادیاتو، قانون او مقررو، د ظرفیتونو د لوړولو او په داسې نورو برخو کې ښې لاسته راوړنې درلودلې دي چې د چارو د لا ښه والي لپاره د افغانستان بانک د کارکوونکو ارزښتناکه هلې ځلې د قدر وړ دي او د افغانستان بانک موخو ته د رسیدو او دندو په برخه کې ټولو کاروونکو لا بریالیتوبونو هیله مند یم.

**په درنښت**

**خلیل صدیق**

**د افغانستان بانک لوی رئیس**

# پولي سیاست

# پولي سیاست

پولي سیاست د دولت د اقتصادي سیاستونو یو له ډېرو مهمو سیاستونو څخه ګڼل کېږي او یوازې د مرکزي بانکونو له انحصاري دندو څخه شمېرل کېږي. مرکزي بانکونه خپل پولي سیاستونه د خپل هېواد له اقتصادي شرایطو سره سم په داسې بڼه طرح کوي چې په واک کې د شته ابزارونو په مرسته خپلې ټاکلي موخې ترلاسه او د دوامدارې اقتصادي ودې لپاره زمینې برابرې کړي.

د افغانستان بانک د افغانستان د مرکزي بانک په توګه د هېواد د پولي او اسعاري سیاستونو د طرحې، تدوین او پلي کیدو مسؤولیت په غاړه لري. د افغانستان بانک، د پولي سیاست د تګلارې، اسعاري رژیم په ټاکلو او د پولي سیاست د ابزارو په کارولو سره چې د هېواد له اقتصادي شرایطو سره سم وي، هڅه کوي چې خپلې ټاکلي موخې په بریا تر لاسه او د هېواد د دوامدارې اقتصادي ودې په برابرولو کې مهم رول ولوبوي.

**د پولي سیاست اډانه**

د افغانستان بانک د هېواد د عیني شرایطو او اقتصادي وضعیت او همدا ډول د هېواد د مالي ادارو د اقتصادي پراختیا د کچې، شرایطو او وضعیت په پام کې نیولو سره د نقدینه ګۍ د کچې د کنټرول له اډانې(Monetary Aggregate Targeting) څخه چې په نړۍ کې د دودیزه پولي سیاستونو له ډلې څخه شمېرل کېږي، ګټه اخلي. د پولي سیاست دا اډانه د پیسو په مقداري تیورۍ (Quantitative Theory of Money) متکي ده. دا تیوري د پیسو د کچې او د بیو د عمومي کچې ترمنځ مستقیمې اړیکې تر بحث لاندې نیسي او د MV=PQ فورمول په واسطه وړاندې کېږي.

**د افغانستان بانک د پولي سیاست موخې:**

**عمده موخه:** د پولي سیاست عمده موخه د کورنیو بیو د ټیکاو تأمینول او د اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې د نرخ د نوساناتو ټیټوالی دی.

**د پولي سیاست عملیاتي موخه**

**۱. د پولي زېرمو د ودې کنټرول (Reserve Money):**

د افغانستان بانک په هېواد کې د اقتصادي کړنو او همدا ډول په هېواد کې د بانکي سکتور د پام وړ پراختیا په پام کې نیولو سره، پولي زېرمې (Reserve Money) چې په ګردښت کې پیسې، د سوداګریزو بانکونو جاري حسابونه او الزامي زېرمې(Required Reserves) په بر کې نیسي او د افغانستان بانک سره اړېنودل کېږي، د نقدینه ګۍ د شاخص په توګه په پام کې نیسي چې کچه یې د هېواد د اقتصادي ودې او د بیو د عمومي کچې په پام کې نیولو سره د کال په پیل کې ټاکل کېږي.

د ۱۳۹۳ مالي کال لپاره د پولي زېرمو د ودې کچه، ۱۲.۷ سلنه ( د کال په پای کې ۲۲۴.۳۳ میلیارده افغانۍ) ټاکل شوې وه چې د مالي کال په وروستیو کې د دولت د عوایدو د ټیټوالي له امله د هغه حقیقي کچه، له ټاکل شوې کچې یو څه بدلون کړی دی.

۱ ګراف د ۱۳۹۳ مالي کال په اوږدو کې د پولي زېرمو سلنه ښکاره کوي





منبع: د افغانستان بانک د پولي سیاست لوی آمریت

**فرعي عملیاتي موخه:**

**۲. په ګردښت کې د پیسو د ودې کنټرول (Currency in Circulation):** په ګردښت کې پیسې د افغانستان بانک په

خزانو کې له موجوده پيسو پرته له ټولو خپرو شويو پيسو څخه عبارت دي. په ګردښت کې د پيسو ودې لپاره ټاکل شوې کچه ۱۲.۷ سلنه ټاکل شوې وه چې د ۱۳۹۳ مالي کال په پای کې د هغه حقيقي کچه له ټاکل شوې کچې لږه زياته ده چې عمده لامل يې د دولت د عوايدو په راټولولو کې ټيټوالی دی.

۲ ګراف ۱۳۹۳ مالي کال لپاره په ګردښت کې د پيسو سلنه ښکاره کوي




منبع: د افغانستان بانک د پولي سياست لوی آمريت

**د پولي سياست ابزارونه**

د افغانستان بانک د پولي سياست موخو ته د رسيدو لپاره، لاندې درې وسيلې په واک کې لري:

**۱. د اسعارو پلور(FX Auction):** د اسعارو پلور په اونۍ کې دوه ځلې د افغانستان بانک لخوا د سياليت د کنټرول او د بهرنيو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د ارزښت د ساتلو لپاره ترسره کيږي چې په کې سوداګريز بانکونه او د اعتبار وړ جواز لرونکي صرافان ګډون کولای شي. اسعار د ليلام په بڼه پلورل کيږي او ګټونکي اړ دي څو خپل حساب په دريو کاري ورځو کې تصفيه کړي. د افغانستان بانک پورته موخې ته د رسيدو لپاره د ۱۳۹۳ مالي کال په ترځ کې په ټوليزه توګه ۳.۳۴ ميلیارده ډالر ليلام کړي دي.

**۲. د بيه لرونکو پاڼو ليلام(Capital Notes):** د بيه لرونکو پاڼو ليلام په اونۍ کې يو ځل د افغانستان بانک لخوا د سياليت د کنټرول په موخه ترسره کيږي چې په کې يوازې سوداګريز بانکونه ګډون کولای شي. بيه لرونکې پاڼې د مناقصې په بڼه ليلاميږي. د يادونې وړ ده چې بيه لرونکې پاڼې د مودې له پلوه په درې ډول: يو مياشتنی (۲۸ ورځنی)، شپږ مياشتنی (۱۸۲ ورځنی) او يو کلن (۳۶۴ ورځنی) دي او د بيه لرونکو پاڼو د دويمي بازار په دوديدو سره به د اسعارو پر ليلام د اتکاء کچه راټيټه شي. د افغانستان بانک په ۱۳۹۳ مالي کال کې په ټوليزه توګه ۸۸.۵۲ ميلیارده افغانۍ ليلام کړي دي.

**۳. اجباري زېرمې(Reserves Required)** له دې ابزار څخه د احتياطي- څارنيزو موخو د تأمينولو سربېره د پولي سياست د اجراء کولو په موخه هم کار اخيستل کيږي. اوس مهال په افغانستان کې د اجباري زېرمو د اماناتو نسبت ۸ سلنه ده، يعنې سوداګريز بانکونه اړ دي څو له خپلو ټوليزه اماناتو څخه ۸ سلنه د افغانستان بانک سره وساتي.

**د اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ**

له هغه ځايه چې څو لسيزو ګډوډيو، د هېواد اقتصادي جوړښت ته يو شمېره زيانونه اړولي دي چې په پايله کې يې د هېواد اقتصاد په يو وارداتي- لګښتي اقتصاد بدل شوی دی، د اسعارو پر وړاندې د ملي پيسو د ارزښت ټيټوالی د وارداتي توکو د بيو د زياتيدو لامل کيږي.

د افغانستان بانک د هېواد د عيني شرايطو، اقتصادي وضعيت او د هېواد د مالي ادارو د شرايطو او وضعيت په پام کې نيولو سره له متحول مديريت شوي رژيم څخه (Managed Floating Exchange Rate) چې په نړۍ کې د مبادلې د نرخ د دوديزو رژيمونو له ډلې څخه شمېرل کيږي، پيروي کوي چې په دې رژيم کې د اسعارو پر وړاندې د ملي پيسو د مبادلې نرخ په بازار کې د عرضې- تقاضا د عواملو پر بنسټ ټاکل کيږي.

د ۱۳۹۳ مالي کال په ترځ کې د امريکايي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې د نرخ اوسط ۵۷.۳۳ ؤ. د مالي کال په لومړيو کې د افغانۍ پر وړاندې د يو امريکايي ډالر ارزښت په اوسط ډول شاوخوا ۵۷.۰۳ افغانۍ ؤ چې دا شمېره د کال په پای کې ۵۸.۰۸ ته ورسيده چې ۱.۸ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي. د يادونې

وړ ده چې افغانۍ د پاکستانۍ روپيۍ، هندي روپيۍ او ايراني ريال په پرتله له ښه ثبات څخه برخمنه ده.

۳ گراف په ۱۳۹۳ مالي کال کې د امريکايي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې د نرخ اوسط ښکاره کوي





منبع: د افغانستان بانک د پولي سياست لوی آمريت

**د افغانستان بانک اسعاري زېرمې**

د اسعاري زېرمو د راټولولو لپاره په ۱۳۹۳ مالي کال کې ټاکل شوې کچه شاوخوا ۳۰۰ ميليونه امريکايي ډالره ټاکل شوې وه چې د افغانستان بانک وکولای شو شاوخوا ۴۰۰ ميليونه ډالره، چې له ټاکل شوې کچې زياته ده، راټول کړي. د هېواد اسعاري زېرمې په دې وروستيو کلونو کې د پام وړ وده درلودلې ده چې د افغانستان بانک لپاره يوه ستره لاسته راوړنه گڼل کېږي.

۴ گراف په ۱۳۹۳ مالي کال کې د هېواد اسعاري زېرمې ښکاره کوي





منبع: د افغانستان بانک د پولي سياست لوی آمريت

**پولي پړسوب**

د هغه وروستيو شمېرو پر بنسټ چې د احصائيې د مرکزي اداري لخوا خپرې شوي دي، د ۱۳۹۳ کال په لېندۍ مياشت کې د پولي پړسوب نرخ شاوخوا ۱.۳ سلنه راپور شوی چې د خوراکي توکو د پړسوب نرخ شاوخوا ۲.۹ سلنه او د ناخوراکي توکو ۰.۵- سلنه دی. د پولي پړسوب نرخ چې د ملي بيو د مصرفوونکي شاخص(National CPI) د کلني بدلونونو د سلنې له مخې محاسبه کيږي د تير کال د ورته مياشتې په پرتله شاوخوا ۵.۹ درجې ټيټوالی ښکاره کوي.

۵ گراف د ۱۳۹۳ کال د تلې د مياشتې په اوږدو کې د بيو د مصرفوونکي شاخص پر بنسټ د پولي پړسوب نرخ ښکاره کوي




منبع: د احصايې د مرکزي اداري شميرې/ د افغانستان بانک د پولي سياست د لوی آمريت د کارکوونکو محاسبې

**د پولي سياست برياليتوب:**

په يوه لنډه ارزونه کې کولای شو ووايو چې د افغانستان بانک پولي سياست د ټاکل شويو موخو په تأمينولو کې د پام وړ برياليتوبونه درلودلي دي. څرنگه چې وويل شو، د پولي سياست اصلي موخه د کورنيو بيو د ثبات ساتل او د اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې د نرخ د نوساناتو ټيټوالی دی. په همدې ترتيب، له شته ننگونې سره سره د افغانستان بانک پولي سياست توانيدلی دی څو د پولي پړسوب نرخ په مطلوبه کچه (د يو رقمي شمېرې په محدوده کې) وساتي.

همدا ډول د ۱۳۹۳ مالي کال په ترڅ کې د امريکايي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ له بشپړ ثبات څخه برخمن ؤ.

افغانۍ د گاونډيو هېوادونو د پيسو لکه؛ د پاکستانۍ روپيۍ، هندي روپيۍ او ايراني ريال په پرتله ښه وضعيت لري.

# مالی نظام

# مالي نظام

د هېواد مالي نظام چې د بازار اقتصاد په اډانه کې فعالیت کوي، یو له بریالیو نظامونو څخه ګڼل کیږي چې په دې وروستیو کلونو کې په ځانګړې توګه د ۱۳۹۳ مالي کال په ترڅ کې یې د پام وړ لاسته راوړنې درلودلې دي. دې نظام په خپل وار سره د هېواد د اقتصادي ودې په پراختیا کې ارزښتناکه رول لوبولی دی. د هېواد مالي نظام د ۱۳۹۳ مالي کال په ترڅ کې په ټولیزه توګه ښه ګټه درلودلې چې دلته لومړی په لنډه توګه د بانکي نظام شتمنۍ، امانات، ګټه او نورې موضوعګانې تر مطالعې لاندې نیسو او بیا د هغه نور جزئیات وړاندې کوو.

په ۱۳۹۳ مالي کال کې د بانکي نظام ټولیزه شتمنۍ ۲۵۶.۷۹ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تېرې دورې (۱۳۹۲ مالي کال) د ۲۴۵.۷۵ میلیارده افغانۍ په پرتله یې ۴.۵۰ سلنه زیاتوالی موندلی دی او همدا ډول د مخکنۍ میاشتې (د ۱۳۹۳ لړم) په پرتله د بانکي نظام شتمنۍ ۳.۲۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د ۱۳۹۳ کال له مخې د بانکي نظام ټولیزه ناخالصه پورونه ۴۳.۲۳ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تېرې دورې ( د ۱۳۹۲ مالي کال) په پرتله ۷.۸۹ سلنه راټیټ شوي دي او د مخکنۍ میاشتې (د ۱۳۹۳ لړم) په پرتله ۲.۴۵ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

د مشتریانو امانات چې په بانکونو کې د تمویل بنسټیزه منبع ګڼل کیږي د ۱۳۹۳ مالي کال په ترڅ کې ۲۱۸.۸۴ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تېرې دورې ( د ۱۳۹۲ مالي کال) په پرتله یې ۵.۳۳ سلنه زیاتوالی درلودلی او د تېرې میاشتې راپدېخوا ۳.۸۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې په ټولیزه توګه په څلورو بانکونو پورې اړه لري.

بانکي نظام کافي مالي پانګه لري چې د تېرې دورې ( د ۱۳۹۲ لینډۍ) په پرتله یې ۶.۸۵ سلنه زیاتوالی درلودلی چې عمده لامل یې د پانګې او ګټې تزریق دی.

د افغانستان بانکي نظام د ۲۰۱۴ (د ۱۳۹۳ مالي کال) په ترڅ کې په ټولیزه توګه ۲.۱۷ میلیارده افغانۍ ګټه کړې ده چې د تېرې دورې ( د ۱۳۹۲ مالي کال) د ۱.۴۳ میلیارده افغانۍ ګټې په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي چې شتمنیو ته د بیرته ګرځېدو د نسبت په پایله کې یې د ۱۳۹۲ کال په لینډۍ کې د۰.۶۱ سلنې په پرتله په دې دوره ( د ۱۳۹۳ کال په لینډۍ) کې ۰.۹۰ سلنه ښه والی راغلی دی.

ټول بانکونه، د سیالیت لپاره د افغانستان بانک د ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد سره مطابقت کې قرار لري خو د اسعارو د عمومي پرانیستي وضعیت له پلوه ټول بانکونه (پرته له څلورو بانکونو چې د مرکزي بانک له ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد څخه د ټولو اسعارو لپاره ±۴۰ سلنه او انفرادي اسعارو لپاره ±۲۰ سلنه څخه سرغړونه کړې ده) د افغانستان بانک د حداقل ټاکل شوي حدودو په مطابقت کې واقع دي.

د ټولو بانکونو د مقرراتي پانګې نسبت د افغانستان بانک د ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد ( د خطر په اساس د عیار شوې شتمنۍ په سلو کې ۱۲ ) څخه لوړ دی.

د هېواد بانکي نظام له ۱۵ جواز لرونکو بانکونو څخه جوړ دی چې له دې ډلې ۳ دولتي بانکونه، ۹ خصوصي بانکونه او ۳ د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ دي. د امنیتي دلیلونو له مخې د کابل د فرعي نمایندګۍ د ټرولو په اړه

د پنجاب نشنل بانک د فرعي نمایندګی د غوښتنلیک او د ۲۰۱۴ زیږدیز کال د نومبر میاشت کې د افغانستان بانک لخوا د یادې فرعې (نمایندګی) د غوښتنلیک له منلو سره سم د دې نمایندګی حسابونه عزیزي بانک او د افغانستان بانک ته لیږدول شوي دي.

د لا وضاحت لپاره، په هېواد کې د نمایندګیو شمېر او نورې شته بانکي آسانتیاوې په ۱ جدول کې وړاندې کیږي.

| آسانتیاوې | شمېر |
|---|---|
| له بشپړ خدماتو سره نمایندګی | ۲۰۱ |
| له محدودو خدماتو سره نمایندګی | ۲۱۷ |
| د صرافی اتومات ماشینونه (۲۲ ډوله) | ۱۳۶ |
| *[۱]نورې آسانتیاوې (۲۱،۲۴،۲۵ ډوله) | ۸۷ |
| د پلور ځایونه (۲۳ ډوله)** | ۳۹۸ |
| **مجموع** | **۱،۰۳۹** |


۲ جدول د بانکي نظام د کارتونو شمېر ښکاره کوي.

| | |
|---|---|
| د پوراینې کارت (دبټ کارت) | ۱۳۷،۵۴۳ |
| د اعتبار کارت (کریدت کارت) | ۷۵۰ |
| د ای ټي ایم کارت ( ATM ) | ۷۰،۸۰۳ |
| ویب سرفر کارت | ۳،۶۲۹ |
| د مخکې ادايني کارت | ۵۶۴ |
| **مجموع** | **۲۱۳،۲۸۹** |

پورته ذکر شوې آسانتیاوې د کابل ښار په ګډون د هېواد په ۳۳ ولایتونو کې د لاسرسی وړ دي، په داسې حال کې چې ATM کارت په کابل، دبت کارت د هېواد په ۲۹ ولایتونو او کریډټ کارت د هېواد په ۱۰ ولایتونو کې د لاسرسی وړ دي.

د دې تر څنګ، تر اوسه پورې په ټولیزه توګه ۵۸۱ جوازونه د پولي خدماتو وړاندې کوونکو او ۱.۷۷۲ جوازونه صرافانو ته ورکړل شوي دي. د پولي خدماتو ۵۸۱ وړاندې کوونکو څخه د پولي خدماتو ۲۵۲ وړاندې کوونکي په کابل او ۲۱۰ وړاندې کوونکي د هېواد په نورو ولایتونو کې په فعالیت بوخت دي. سربېره پر دې، د پولي خدماتو د وړاندې کوونکو د مرکزي دفتر ۳۰۹ نمایندګی په کابل ښار او نورو ولایتونو کې په فعالیت لګیا دي. له ۱.۷۷۲ مجوزو صرافیو څخه،۳۷۶ صرافی په کابل او ۱.۲۴۲ صرافی د هېواد په نورو ولایتونو کې فعالیت کوي.

۶ ګراف له ۱۳۸۶ کال څخه تر ۱۳۹۳ کال پورې د پولي خدماتو د وړاندې کوونکو او صرافانو د زیاتیدو بهیر ښکاره کوي.




**ټولیزه شتمنی:**

د بانکي نظام ټولیزه شتمنی په ۱۳۹۳ کال کې ۲۵۶.۷۹ میلیارده افغانی (۴.۴۳ میلیارده ډالرو) ته رسیږي چې په تېره دوره ( ۱۳۹۲ مالي کال) کې له ۲۴۵.۷۵ میلیارده افغانی (۴.۳۰ میلیارده ډالرو) څخه ۴.۵۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د زیاتیدو عمده لامل په خزانه کې د نغدو پیسو او د افغانستان بانک باندې د طلباتو

۱.*د ۲۱ ډول آسانتیا: هغه واحد یا دفتر چې د پور د لومړنیو پړاوونو د اجراء کولو واک لري، خو د پور د ورکولو واک نه لري.


د ۲۴ ډول آسانتیا: هغه واحد چې یوازې د نغدو پیسو د تادیې واک لري لکه: دولتي او غیر دولتي کار کوونکو ته د معاشونو ور کول او یا د بانک پیرودونکو ته داسې نور نغدي تادیات رانغاړي.

د ۲۵ ډول آسانتیا: دا واحد یوازې د مختلفو حکمي او حقیقي اشخاصو (معمولاً د سفارتونو، هوټلونو او داسې نورو) په حسابونو کې د اماناتو په توګه له عامه خلکو څخه د نغدو پیسو د ترلاسه کولو په موخه د رسید د صادرولو واک لري.


** د ۲۳ ډول آسانتیا: په پلورنځایونو کې خدماتي شبکې ( یوازي لګښتونه وضع کوي خو د سپما واک نه لري).

او د پانګونو زیاتوالی په ګوته شوی دی. څرنګه چې لیدل کیږي د اماناتو تر ټولو زیاته برخه په بیه لرونکو سندونو کې په پانګه اچول شوې ده. د شتمنیو تر ټولو ډېره وده خصوصي بانکونو درلوده چې د تیرې دورې (د ۱۳۹۲ لیندۍ) په پرتله ۹.۰۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي، په داسې حال کې چې دولتي بانکونه د ۱.۷۳ سلنه ودې په لرلو سره په دویم ردیف کې راځي او د بهرنیو بانکونو فرعې ۱۲.۳۶ سلنه ټیټوالي ښکاره کوي. د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو په ونډه کې د ټیټوالي اصلي لامل په کابل کې د هندوستان پنجاب نشنل بانک د نمایندګۍ تړل دي. د بانکي نظام د تولیزه شتمنیو د سلنې له مخې، خصوصي بانکونه ۶۳.۳۲ سلنې ونډې په لرلو سره په لومړۍ درجه، دولتي بانکونه ۲۶.۵۶ سلنې ونډې سره په دویمه درجه او په همدې ترتیب د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ د ۱۰.۱۱ سلنې ونډې په لرلو سره په دریمه درجه کې راځي.

۷ ګراف له ۱۳۸۶ هجري لمریز کال څخه د ۱۳۹۳ کال تر لیندۍ پورې د بانکي نظام د تولیزه شتمنیو د ودې بهیر ښکاره کوي چې د زیاتو معلوماتو لپاره هغه ته مراجعه کولای شئ.





۸ ګراف د ۱۳۸۶ څخه تر ۱۳۹۳ کال پورې د بانکي نظام په تولیزه شتمنیو کې د بانکي ګروپونو ونډه ښکاره کوي.




**د تولیزه شتمنیو وده**

د بانکي نظام تولیزه شتمنۍ د ۱۳۹۱ او ۱۳۹۲ کلونو په اوږدو کې نوساني بهیر درلوده خو په اوسنۍ میاشت (د ۱۳۹۳ په لیندۍ) کې د بانکي نظام شتمنیو ۳.۲۰ سلنه زیاتوالی ښیي. دا زیاتوالی په یو شمیر بانکونو پورې تړاو لري چې د مشتریانو د اماناتو د زیاتیدو له امله رامنځ ته شوی دی. د لا وضاحت لپاره ۹ ګراف ته مراجعه وکړئ.





**تولیزه پورونه**

د بانکي نظام له تولیزه شتمنیو څخه د بانکي نظام ناخالص پورونه، ۴۳.۲۳ میلیارده افغانۍ(۷۴۶ میلیونه ډالرو) ته رسیږي چې د بانکي نظام د تولیزه شتمنیو ۱۶.۸۴ سلنه جوړوي او د تېرې دورې ( د ۱۳۹۲ لیندۍ) د ۴۶.۹۴ میلیارده افغانۍ (۸۲۲ میلیونه ډالرو) په پرتله چې د تولیزه شتمنیو ۱۹.۱۰ سلنه یې جوړوله، په اوسنۍ دوره (د ۱۳۹۳ په لیندۍ کې) یې ۷.۸۹ سلنه ټیټوالی موندلی دی. تولیزه ناخالصه پورونه د ۲۰۱۴ کال په اوږدو کې ټیټیدونکی بهیر درلوده چې اصلي لاملونه یې د خسارې د پورونو حذفول Charge off، د پورونو بیا ورکړه

او د اضافه برداشت له پورونو(OD) څخه لږ کار اخیستل ؤ.
له ټولیزه ناخالصه پورونو څخه په بانکي نظام کې په افغانیو د پورونو کچه ۱۴.۰۳ میلیارده افغانۍ (۲۴۲ میلیونه ډالرو) ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصه پورونو په سلو کې ۳۲.۴۶ او یا د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۵.۴۷ سلنه جوړوي چې د مخکنۍ دورې (د ۱۳۹۲ لیندۍ) په پرتله ۲۶.۴۷ سلنه زیاتوالی موندلی دی. د بانکي نظام ډالري پورونه ۵۰۳ میلیونه ډالره (۲۹.۱۹ میلیارده افغانیو) ته رسیږي چې د ټولیزه پورونو ۶۷.۵۲ سلنه او د ټولیزه شتمنیو ۱۱.۳۷ سلنه جوړوي او د ۱۳۹۲ کال د لیندۍ میاشتې په پرتله ۱۸.۵۵ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. د پورو ورکولو په برخه کې، خصوصي بانکونه د ټولیزه پورونو ۸۹.۰۶ سلنه ونډې په لړلو سره مخکښه دي، دولتي بانکونه ۸.۸۱ سلنې ونډې په لرلو سره په دویمه درجه او د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ د ۲.۱۲ سلنې ونډې په لرلو سره په دریمه درجه کې راځي.

د ۱۳۹۱ او ۱۳۹۲ کلونو په اوږدو کې د بانکي نظام پورونو نوساني بهیر درلوده خو د ۱۳۹۱ کال د لیندۍ میاشت کې ۵.۵۷ سلنه زیات شوی چې بنسټیز لامل یې په یو شمېر بانکونو کې د پورونو د کچې زیاتوالی دی. په روانه میاشت (د ۱۳۹۳ کال په لیندۍ) کې د بانکي نظام ټولیزه پورونه ۲.۴۵ سلنه راټیټ شوي دي چې عمدتاً په دوو بانکونو پورې اړه لري.

۱۰ ګراف د بانکي نظام د پورونو بهیر ښکاره کوي.




۳ جدول د بانکي نظام د ټولیزه پورونو ډله بندي ښکاره کوي.

| اقلام | د ۱۳۹۲ لیندۍ ۲۰۱۳ دسمبر | د ۱۳۹۳ وږی د ۲۰۱۴ سپتمبر | د ۱۳۹۳ لیندۍ د ۲۰۱۴ دسمبر | د ټولیزه ناخالصو پورونو سلنه | د هرو دریو میاشتو د ودې سلنه | د کلنۍ ودې سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| صعب الحصول پورونه[2] | ۲،۳۸۴ | ۲،۶۸۴ | ۳،۴۹۹ | ۸.۰۹٪ | ۳۰.۳۶٪ | ۴۶.۷۷٪ |
| معکوس ډله بندي شوي پورونه[3] | ۴،۲۳۸ | ۴،۹۶۱ | ۶،۰۳۲ | ۱۳.۹۵٪ | ۲۱.۵۸٪ | ۴۲.۳۳٪ |
| تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه[4] | ۲،۴۱۲ | ۴،۴۰۲ | ۲،۳۹۸ | ۵.۵۵٪ | −۴۵.۵۲٪ | −۰.۵۸٪ |
| په خساره کټګورۍ کې پورونه[5] | ۴۶۰ | ۶۶ | ۱۶۸ | ۰.۳۹٪ | ۱۵۴.۵۴٪ | −۶۳.۴۷٪ |

دا چې د پورونو د ډله بندۍ راپور (هره ربعه کې ) د بانکونو لخوا ورکول کیږي، له همدې امله مونږ د وروستۍ ربعې یعنې د ۱۳۹۳ کال د لیندۍ میاشتې ارقام له مخکنۍ ربعې او د هغې له تیرې دورې (د ۱۳۹۲ لیندۍ) سره پرتله کوو.

په ټولیزه توګه د بانکي نظام د شتمنیو کیفیت له ستونزو سره مخ ؤ. صعب الحصول پورونه د ۱۳۹۲ کال په لیندۍ او د تیرې ربعې ( د ۱۳۹۳ په وږي) کې له ۵.۰۸ سلنې او ۵.۹۹ سلنې څخه په دې دوره ( ۱۳۹۳ په لیندۍ) کې ۸.۰۹ سلنې ته زیات شوي دي چې اصلي لامل یې د پورونو کمزوره کیفیت

۲.صعب الحصول پورونه: هغه پور یا نورې شتمنۍ چې د اصلي مبلغ یا ګټتانې د بیا ورکړې د سر رسید له موعد څخه یې ۹۱ ورځې یا زیاتې تیرې شوي وي.

۳.معکوس ډله بندي شوي پورونه: هغه پور یا نورې شتمنۍ چې د اصلي مبلغ یا ګټتانې د بیا ورکړې د سر رسید له موعد څخه یې ۶۱ الی ۹۰ ورځې (تحت المعیار) ۹۱ ــ ۱۸۰ ورځې (مشکوکې) تېرې شوي وي.

۴.تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه: هغه پور یا نورې شتمنۍ چې د اصلي مبلغ یا ګټتانې د بیا ورکړې د سررسید له موعد څخه یې ۶۰-۳۱ ورځې تیرې شوي وي.

۵.په خساره کټګورۍ کې پورونه: هغه پور یا نورې شتمنۍ چې د اصلي مبلغ یا ګټتانې د بیا ورکړې د سر رسید له موعد څخه یې ۱۸۱ یا زیاتې ورځې تیرې شوي وي.

او د ټولیزه پورونو د کچې ټیټوالی دی. ۵۳ سلنه ټولیزه صعب الحصول پورونه په یو خصوصي بانک پورې اړه لري چې د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو په سلو کې ۳۱.۲۷ جوړوي. تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه دقیقې څېړنې او څارنې ته اړتیا لري ځکه هغه پورونه چې تر نظر لاندې کټګورۍ کې راغلي، زیات احتمال شته چې تر ټولو ټیټو صنفونو ته په آسانۍ واوړي او په پای کې په خساره کټګورۍ کې ډله بندي او په بانکي سکتور کې د زیان د لوړیدو لامل شي. د مالي چارو د څارنې لوی آمریت د پلان د طرحې او پلي کیدو په موخه د بانکي نظام په کیفیت کې ښه والي لپاره له مالي مؤسسو سره په نږدې اړیکه کې دی او له دوی څخه یې غوښتلي دي څو د ستونزې د حل لپاره، ځانګړي پلانونه طرح او له هغه سره سم عمل وکړي.


۴ جدول د یو بانک لخوا د کوچنیو پورونو ورکړه او د پنځو بانکونو لخوا د منځنیو پورونو ورکړه ښکاره کوي.

| اقلام | د ۱۳۹۲ لیندۍ ۲۰۱۳ دسمبر | د ۱۳۹۳ وږی د ۲۰۱۴ سپتمبر | د ۱۳۹۳ لیندۍ د ۲۰۱۴ دسمبر | د ټولیزه ناخالصو پورونو سلنه | د هرو دریو میاشتو د ودې سلنه | د کلنۍ ودې سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| کوچني پورونه | ۲،۹۶۴ | ۱،۰۱۴ | ۱،۸۳۰ | ۴.۲۳٪ | ۸۰.۴۷٪ | -۳۸.۲۵٪ |
| منځني پورونه | ۳،۶۲۳ | ۳،۱۵۵ | ۳،۰۷۳ | ۷.۱۱٪ | -۲.۵۹٪ | -۱۵.۱۸٪ |

۵ جدول د ۱۳۹۳ کال له مخې د بانکي نظام د ناخالصه پورونو تفکیک ښکاره کوي.

| بانک | ناخالص پورونه (ارقام په میلیون افغانی) |
|---|---|
| دولتي بانکونه | ۳،۸۱۱.۹۶ |
| خصوصي بانکونه | ۳۸،۵۰۳.۸۷ |
| د بهرنیو بانکونو نمایندګی | ۹۱۷.۵۴ |
| مجموع | ۴۳،۲۳۳.۳۷ |

۱۱ ګراف د ناخالصه صعب الحصول پورونو او د حصول وړ پورونو نسبت ښکاره کوي.




د ۱۳۹۳ کال د لیندۍ میاشتې د احصائیې پر بنسټ په ولایتونو او بېلابېلو سکتورونو کې د ټولیزه پورونو وېش په ۶ جدول کې وړاندې کیږي. په بېلابېلو سکتورونو کې د نورو پورونو وېش ۳۰ سکتورونو ته وېشل شوی دی[۶].

د بانکي نظام په جغرافیایي او اداري وېش کې بدلون نه دی راغلی، خو تمه کیږي چې د وخت په تیریدو سره د پورونو وېش متنوع شي.

۶ جدول په ولایتونو کې ( له جغرافیایي پلوه) د پورونو وېش وړاندې کوي:

[۶] د ۱۳۹۳/۶/۲۶ نېټې ۰۱/۹۳ ګڼې د محاسبې او راپور ورکولو متحدالمال

| شمېره | ولایتونه | د پور مبلغ (په میلیون افغانی) | ټولیزه پورونه د سلنې له مخې |
|---|---|---|---|
| ۱ | کابل | ۳۵،۰۱۱.۵۴ | ۸۰.۹۸٪ |
| ۲ | هرات | ۲،۴۲۸.۱۸ | ۵.۶۲٪ |
| ۳ | بلخ | ۱،۹۲۰.۴۵ | ۴.۴۴٪ |
| ۴ | ننگرهار | ۹۱۴.۳۵ | ۲.۱۱٪ |
| ۵ | کندهار | ۴۷۲.۰۴ | ۱.۰۹٪ |
| ۶ | بغلان | ۴۶۵.۹۱ | ۱.۰۸٪ |
| ۷ | بدخشان | ۳۴۴.۱۱ | ۰.۸۰٪ |
| ۸ | کندز | ۳۲۸.۵۵ | ۰.۷۶٪ |
| ۹ | پروان | ۳۱۶.۱۳ | ۰.۷۳٪ |
| ۱۰ | جوزجان | ۱۹۵.۶۶ | ۰.۴۵٪ |
| ۱۱ | تخار | ۱۶۲.۶۲ | ۰.۳۸٪ |
| ۱۲ | سرپل | ۱۳۱.۲۸ | ۰.۳۰٪ |
| ۱۳ | بامیان | ۱۱۸.۸۴ | ۰.۲۷٪ |
| ۱۴ | سمنگان | ۹۸.۸۱ | ۰.۲۳٪ |
| ۱۵ | فاریاب | ۸۷.۴۸ | ۰.۲۰٪ |
| ۱۶ | غزني | ۳۴.۰۲ | ۰.۰۸٪ |
| ۱۷ | نور ولایتونه | ۰.۰۷ | ۰.۰۰٪ |
| | **مجموعه** | ۴۳،۰.۳۰.۰۵ | **۹۹.۵۳٪** |
| | **له افغانستان څخه بهر پورونه** | | |
| ۱ | **پا کستان** | ۲۰۳.۳۱ | ٪ ۰.۴۷ |
| | **ټولیزه پورونه** | ۴۳،۲۳۳.۳۶ | ٪۱۰۰.۰۰ |

۷ جدول د ۱۳۹۳ کال په لینډۍ میاشت کې د سکتوري پورونو وېش ښکاره کوي.

| سکتور | د سلنې له مخې ټولیزه پورونه |
|---|---|
| رهني او ودانیز پورونه | ۱.۸۰٪ |
| نور سوداګریز پورونه | |
| کرنه | ۰.۲۷٪ |
| مالداري او فارمونه | ۰.۰۴٪ |
| د فلزونو، څرمنو، پلاستیکو، لرګیو او کاغذونو تولیدات | ۲.۴۸٪ |
| ماشیني تولیدات او صنایع | ۴.۱۹٪ |
| سمنټ، وسایل او ودانیز مواد | ۲.۸۶٪ |
| نساجي | ۲.۵۹٪ |
| انرژي | ۰.۳۵٪ |
| ساختماني او ودانیز | ۱۲.۵۲٪ |
| خدمتونه | ۴.۷۹٪ |
| هوټل او رستورانټ | ۱.۲۰٪ |
| مخابرات | ۲.۹۲٪ |
| ځمکنی ترانسپورټ | ۴.۸۷٪ |
| هوایي ترانسپورټ | ۴.۱۸٪ |
| روغتیا | ۰.۷۱٪ |
| د مطبوعاتو خپرونې او چاپتونونه | ۰.۰۴٪ |
| نور خدمتونه | ۱.۴۱٪ |

| | |
|---|---|
| عمده سوداګري | ۴.۹۳٪ |
| ماشين آلات | ۰.۱۲٪ |
| پطروليم او روغنيات | ۸.۷۴٪ |
| پرزې (پرزه جات) | ۰.۲۴٪ |
| برېښنايي وسايل | ۱.۴۰٪ |
| سمنټ او ودانيز مواد | ۱.۸۷٪ |
| خوراکي توکي | ۴.۵۲٪ |
| نور اقلام | ۵.۷۲٪ |
| پرچونه سوداګری | ۳.۹۲٪ |
| سرک او ريل پټلی | ۲.۴۱٪ |
| بندونه | ۰.۶۱٪ |
| کانونه | ۰.۰۸٪ |
| نورې بېخبنسټيزې پروژې | ۱.۸۱٪ |
| مالي او اعتباري مؤسسې | ۰.۰۰٪ |
| کرنيز پورونه | ۲.۳۴٪ |
| مصرفي پورونه | ۰.۲۶٪ |
| انفرادي اشخاصو ته استوګنيز رهني پورونه | ۷.۱۴٪ |
| نور ټول پورونه | ۶.۶۸٪ |
| **مجموعه** | ٪۱۰۰ |

۸ جدول د **۱۳۹۳** کـــال په لړم مياشت کې په مرکز، ولايتونـو او ناحيو کې د مؤسسو د شمېر له پلوه په هېواد کې د مسفـا د شريکانو عمومي جزئيات او د دې ترځنـګ د پـيـرودونـکـو، پوروړو، د پور د مبلغونو، د ښځينه پيرودونکو د سلنې، ښځينـه پوروړو او داسې نور جزئيات وړاندې کوي.

| | |
|---|---|
| د مسفا د شريکانو شمېر | ۵ |
| ولايتونه | ۱۴ |
| ناحيه | ۸۳ |
| مشتريان | ۱۶۷،۳۸۷ |
| مقروضين (پوروړي) | ۱۰۶،۲۶۹ |
| د ورکړل شوي پورونو شمېره | ۸۴۰،۷۵۱ |
| د ورکړل شوي پورونو مبلغ (په ميليون ډالر) | ۸۳۹ |
| د پاتې پورونو شمېر | ۱۰۶،۲۶۹ |
| پاتې ناخالصه ټوليز پورونه (په ميليون ډالر) | ۹۴ |
| د پيرودونکو پاتې سپما (په ميليون ډالر) | ۱۷ |
| د ښځينه پيرودونکو سلنه | ۳۱.۱٪ |
| ښځينه پوروړي | ۳۸،۳۲۶ |
| په کليو او بانډو کې پورونه ( په ميليون ډالر) | ۱۹ |
| په ښارونو کې پورونه ( په ميليون ډالر) | ۷۴ |
| **منبع** | www.misfa.org.af |


**ټوليزه امانات**

امانات د بانکي نظام د تمويل او پوراينو (بـديـهـيـو) تـر ټولو لويه برخه جوړوي. د بانکي نظام امـانـات د ۱۳۹۳ کال په لیندۍ کې **۲۱۸.۸۴** ميلیارده افغانۍ(**۳.۷۷** ميليـارده ډالرو) ته رسيږي چې د بانکي نظام د ټـولـيـزه پـورايـنـو (بديهيو) **۹۶.۵۷** سلنه جـوړوي او د تـيـرې دورې (د ۱۳۹۲ د لیندۍ) د **۲۰۷.۸۲** ميلیارده افغانۍ (**۳.۶۳** ميليـارده ډالرو) په پرتله **۵.۳۱** سلنه زياتوالی ښکاره کوي. د بانکي نظام ټوليزه امانات د **۲۰۱۴** زیږديز کال په لومړيـو دريـو ربعو کې نوساني بهير درلوده، خو د بانکي نظـام ډالـري امانات په همدې موده کې راټيټ شوي ؤ.

د بانکي نظام د ډالري اماناتو د ټيټيدو عمده لاملونه د ټولټاکنو د پروسې اوږدیدل او د هېواد په اقتصادي وضعيت کې رکـود دي. د **۲۰۱۴** زیږديز کال د وروستۍ ربعې په اوږدو کې د بانکي نظام ټوليزه اماناتو لوړيدونکی بهير درلوده چې **۱۳** سـلـنـه زيـاتـوالـی ښکاره کوي.


هغه امانات چې په افغانیو نومول شوي یا د بانکي نظام په افغانۍ امانات ۷۴.۵۸ میلیارده افغانۍ ( ۱.۲۸ میلیارده ډالرو ) ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه اماناتو ۳۴.۰۸ سلنه جوړوي او د مخکنۍ دورې (د ۱۳۹۲ لیندۍ) په پرتله یې ۱۲.۶۴ سلنه زیاتوالی موندلی دی. هغه امانات چې په ډالرو نومول شوي یا د بانکي نظام ډالري امانات ۱۳۷.۰۱ میلیارده افغانۍ (۲.۳۶ میلیارده امریکایي ډالرو) ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه اماناتو ۶۲.۶۰ سلنه جوړوي او د تیرې دورې (د ۱۳۹۲ د لیندۍ) په پرتله 1.15 سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. خصوصي بانکونه د بانکي نظام په ټولیزه اماناتو کې تر ټولو ډېره یعنې ۶۴.۲۹ سلنه ونډه درلوده او د بانکي نظام په ټولیزه اماناتو کې د دولتي بانکونو او د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو ونډې په ترتیب سره ۲۶.۲۴ سلنه او ۹.۴۷ سلنه جوړوي.

۱۲ ګراف د بانکي نظام ټولیزه پورونه او امانات ښکاره کوي.




د بانکي نظام ټولیزه امانات د ۱۳۹۱ او ۱۳۹۲ کلونو په اوږدو کې نوساني بهیر درلوده، په داسې حال کې چې د رواني میاشتې (د ۱۳۹۳ د لیندۍ) په ترځ کې د بانکي نظام امانات ۳.۸۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې د بانکي نظام په څلورو بانکونو پورې اړه لري.

۱۳ ګراف د بانکي نظام د ټولیزه اماناتو د ودې بهیر ښکاره کوي.





۹ جدول د ۱۳۹۳ کال د لیندۍ په پای کې د ټولیزه اماناتو ترکیب ښکاره کوي.

| د ۱۳۹۳ کال د لیندۍ په پای کې د ټولیزه اماناتو ترکیب (په میلیون افغانۍ) | |
|---|---|
| جاري | ۱۷۱،۲۳۳.۱۴ |
| موده ایز (میعادي) | ۷،۴۷۱.۷۲ |
| سپما | ۴۰،۱۴۲.۲۵ |
| **مجموعه** | **۲۱۸،۸۴۷.۱۱** |

**ټولیزه پانګه**

بانکي نظام کافي پانګه لري. د بانکي نظام مالي پانګه د ۱۳۹۳ کال په لیندۍ میاشت کې ۳۰.۲۵ میلیارده افغانۍ ( ۵۲۰ میلیونه ډالرو) ته رسیږي چې د تیرې دورې (د ۱۳۹۲ لیندۍ) د ۲۸.۳۱ میلیارده افغانۍ (۴۹۶ میلیونه ډالرو) په پرتله ۶.۸۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې عمده لامل یې په روان کال کې د ګټې او د پانګې د تزریق زیاتوالی دی.

۱۴ ګراف د بانکي نظام د مالي پانګې بهیر ښکاره کوي.




د ټولو بانکونو د مقرراتي پانګې نسبت د افغانستان بانک د ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد ( د خطر په اساس د عیار شوې شتمنۍ په سلو کې ۱۲ ) څخه لوړ دی.

**ګټه**

بانکي نظام د ۱۳۹۳ کال په لیندۍ میاشت کې ۱.۵۳ میلیارده افغانۍ ګټه کړې ده چې د تیرې میاشتې د ۹۵۸ میلیونه افغانۍ ګټې په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي. د ۱۵ بانکونو له

ډلې څخه شپږو بانکونو په اوسنۍ میاشت ( د ۱۳۹۳ په لیندۍ ) کې په ټولیزه توګه ۳۶۷ میلیونه افغانۍ زیان کړی دی چې په تیره میاشت (د ۱۳۹۳ په لړم) کې ۵۰ میلیونه افغانۍ زیان د دریو بانکونو لخوا شوی ؤ. په همدې میاشت کې بانکي نظام ۱.۰۱ میلیارد افغانۍ ګټه د اعتباري تأميناتو ( د پورونو د خسارې جبران) له مخې ترلاسه کړې چې د یو خصوصي بانك لخوا شوې وه. د خالصې ټکټانې په عوایدو او په غیر ټکټانه عوایدو کې د پام وړ ډېروالی او د اسعارو بیا ارزښت ټاکنه هغه نور عوامل دي چې په دې کې ونډه لري.


میدیان یا منځنی ارزښت (Spread) یا د بانکي نظام د پورونو د ټکټانې او د نوي اماناتو د ټکټانې ترمنځ توپیر ۱۲.۱۷ سلنه دی چې د مخکنۍ میاشتې( د ۱۳۹۳ لړم) په پرتله یې ۱.۱۸ سلنه زیاتوالی موندلی دی.

د ۱۳۹۳ کال په لیندۍ میاشت کې د څلورو بانکونو منځنی ارزښت (Spread) د بانکي نظام له منځني ارزښت څخه ټیټ ؤ او د اوو بانکونو منځنی ارزښت (Spread) د محاسبې وړ نه ؤ.[۷] د ۱۳۹۳ کال په لیندۍ میاشت کې د بانکي نظام د اغیزناکۍ(Efficiency) منځنی حد ۱.۵۷ سلنه دی چې د تیرې میاشتې په پرتله یې ۰.۵۲ سلنه کموالی موندلی دی. اووه بانکونه په بانکي نظام کې د مثمریت له منځني حد څخه ټیټ واقع دي. باید وویل شي چې بانکي نظام د ۱۳۹۳ مالي کال (د ۲۰۱۴ د دسمبر) په ترڅ کې په ټولیزه توګه ۲.۱۷ میلیارده افغانۍ ( ۳۷.۵۵ میلیونه ډالره) ګټه کړې ده چې د تېرې ورته دورې (د ۱۳۹۲ لیندۍ) د ۱.۴۳ میلیارده افغانۍ ګټې په پرتله زیاته شوې ده.

شتمنیو ته د بیا ګرځیدنې (برګشت) نسبت د لیندۍ میاشتې د ۰.۶۱ سلنې په پرتله په اوسنۍ دوره (د ۱۳۹۳ په لیندۍ) کې ۰.۹۰ سلنې ته زیات شوی دی. د بانکي نظام د ګټې عمده لاملونه، د خالصه ټکټانه عوایدو او غیر ټکټانه عوایدو زیاتوالی او د غیر ټکټانه عوایدو په لګښتونو او د مالیاتي او اعتباري تأميناتو( د پورونو د خسارې جبران) په لګښتونو کې د پام وړ ټیټوالی دي. په ورته وخت کې د همدې مودې په ترڅ کې د پانګه اچونو له کبله زیان او د معاشونو لګښتونه او زیان زیات شوي دي. په ټولیزه توګه دوو بانکونو ۳۶۶ میلیونه افغانۍ زیان کړی دی چې په تیره دوره (د ۱۳۹۲ په لیندۍ) کې ټولیزه زیان دریو بانکونو ته نسبت ورکول کیده چې ۵۸۷ میلیارده افغانۍ ته رسیده. باید یادونه وکړو چې اساسي عاید ( Core Income) پر بنسټ یو بانک په زیان کې دی چې په تیره دوره کې هم یو بانک په زیان کې ؤ.

۱۵ ګراف د دولتي بانکونو، خصوصي بانکونو او د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو په تفکیک د بانکي نظام ګټه او تاوان وړاندې کوي.

د بانکي نظام د ګروپونو ټولیزه ګټه او زیان




---

[۷] منځنی ارزښت ( د بانکي نظام د پورونو د ټکټانې او د نوي اماناتو د ټکټانې ترمنځ توپیر ) په میاشتنۍ توګه محاسبه کیږي. له همدې امله که چېرې یو بانک د یو میاشت په ترڅ کې هیڅ پور یا نوي امانات او یا دواړه یې درلودلي نه وي، د هغه بانک یا بانکونو منځنی ارزښت (سپرید) د محاسبې وړ نه دی.

**سیالیت**

د ټولو بانکونو د سیالیت نسبت، د افغانستان بانک د سیالیت لپاره د ټاکل شوي حد اقل ( د سیالیت پراخه نسبت ۱۵ سلنه او د سیالیت چټک نسبت ۲۰ سلنه) څخه لوړ دی. د ۱۳۹۳ کال د لینډۍ میاشتې له مخې د بانکي نظام د چټک سیالیت نسبت د منځني ارزښت له پلوه ۷۳.۶۰ سلنه دی چې د تیرې دورې ( د ۱۳۹۲ لینډۍ) د ۷۶.۰۷ سلنې په پرتله یې په دې دوره (د ۱۳۹۳ لینډۍ) کې ۲.۴۷ سلنه ټیټوالی موندلی دی.

د ۱۳۹۳ کال د لینـډۍ میاشتې د شمېـــرو په بنسټ، په سترو اماناتو باندې (هغه امانات چې له ۵ میلیونو افغانۍ زیات وي) د بانکي نظام د اماناتو د ډېر تمرکز په هکله اندېښنې شتون لري. دغه ستر امانات د ټولیزه اماناتو شاوخوا ۶۲.۰۳ سلنه جوړوي او له ۵.۰۵۷ حسابونو څخه جوړه ده چې د نقدینه ګۍ له پلوه ډېره مهمه ګڼل کیږي او د تښتیدونکی پوراینو (مفر بدیهیو) له اقلامو څخه شمېرل کیږي. سر بېره پردې د سترو اماناتو منځنی حد ۱۷۵ میلیونه افغانۍ دی چې د تېرې ربعې د ۸۰ میلیونه افغانۍ په پرتله یې زیاتوالی موندلی دی.

**د اسعارو پرانیستی وضعیت**

بانکونه په ټولیزه توګه د افغانستان بانک د اسعارو عمومي پرانیستي وضعیت (±۴۰ سلنه) او د اسعارو انفرادي پرانیستي وضعیت (±۲۰ سلنې) لپاره د حد اقل ټاکل شوي حدودو په مطابقت کې واقع دي، پرته له څلورو بانکونو چې د عمومي او انفرادي پرانیستي وضعیت (ډالرو) لپاره یې له ټاکلي حد څخه سرغړونه کړې ده.

۱۰ جدول د ۱۳۹۳ کـال لپـاره د کارکوونکو، پوروړو، امانت اېښودونکو او نورو مشتریانو شمېر وړاندې کوي

| ځانګړتیاوې | شمېر |
|---|---|
| کورني کارکوونکي | ۸۷۳۵ |
| بهرني کارکوونکي | ۱۰۴ |
| پوروړي | ۵۴۲۱۷ |
| امانات اېښودونکي | ۳۱۳۴،۷۵۴ |
| نور مشتریان[۸] | ۲۳۸۹ |
| | |

۸. نور پیرودونکي هغه پیرودونکي دي چې بانکي تضمینونه، لیتراف کریډټ او نور تضمینونه او ژمنې یې درلودلي وي.

# د تادیاتو سیستم

# د تادیاتو سیستم


د قانون پر بنسټ، د افغانستان بانک اړ دی څو د ورکړې سالم او اغیزناکه سیستمونه تأسیس، خوندي او پراخه کړي. په همدې موخه د افغانستان بانک د ورکړې د سیستم او د مجریانو د ثبت، تنظیم او څارنې مسؤول دی.

د تادیاتو لوی مدیریت دا مهمه دنده د افغانستان بانک په اډانه کې پر مخ وړي. دا مدیریت په عصري تادیاتي سیستمونو سمبال دی چې ټولې کورنۍ او نړیوالې معاملې او انتقالي معاملې د بانکي سیستم له لارې ترسره کوي. هغه معاملې او لیږدونې چې د ۱۳۹۳ مالي کال په ترڅ کې د دې مدیریت لخوا د تادیاتي سیستمونو له لارې ترسره شوي دي، په لاندې ډول وړاندې کیږي:

**د بانکونو ترمنځ تادیات**

د بانکونو ترمنځ د تادیاتو برخه چې د بانکونو ترمنځ معاملې ترسره کوي، په ۱۳۹۳ مالي کال کې یې ۸۲۰۹۷ افغانۍ معاملې د ۵۱۵.۶۰۰ میلیارده افغانۍ په ارزښت او ۵۳۱۲۵ ډالري معاملې د ۹.۷ میلیارده امریکایي ډالرو په ارزښت او ۱۴۹۵ د یورو معاملې د ۷۴ میلیونه یورو په ارزښت چې په ټولیزه توګه ۱۳۶۷۱۷ معاملې کیږي، په ښه توګه ترسره کړي دي. د دې په پام کې نیولو سره چې ډېرې معاملې په افغانستان کې په نغدو پیسو ترسره کیږي، که چېرته د بانکونو ترمنځ د معاملو ودې ته وکتل شي دا په ډاګه کیږي چې د انتقالي معاملو لپاره د بانکي سیستمونو د کارولو فرهنګ ورو ورو د نغدي معاملو ځای نیسي چې دا کار په خپله له یوې خوا د بانکوالۍ په دودیدو اغیز پریږدي او له بلې خوا د پیسو د فزیکي لیږد له کبله لګښتونه او خطرونه راکموي.

۱۶ ګراف د ۱۳۹۳ مالي کال په ترڅ کې د بانکونو ترمنځ د تادیاتو د سیستم له لارې د افغانۍ، ډالري او د یورو د معاملو شمېر ښکاره کوي.





**نړیوال تادیات**

په دې برخه کې ۴۱۳۱ معاملې د ۱۰.۵ میلیارده ډالرو په ارزښت او ۳۹۹ معاملې د ۲.۴۴ میلیونه یورو په ارزښت ترسره شوي دي. باید یادونه وشي چې ۷۱۰ معاملې د IBRD او FX DEAL معاملې اړوندې دي چې د ۱،۴۷۵،۷۸۵،۵۶۷،۸۸ امریکایي ډالرو په ارزښت د نړیوالو تادیاتو سیستم له لارې طی مراحل او ترسره شوي دي.

**د نمایندګیو ترمنځ تادیات**

د ۱۳۹۳ مالي کال په اوږدو کې د نمایندګیو ترمنځ او تلګرام د سیستم له لارې په ټولیزه توګه ۱۲۶۴۹ افغانۍ وارده معاملې د ۸۹ میلیارده افغانۍ په ارزښت او ۷۰۹ ډالري وارده معاملې د ۴۲۳ میلیونه ډالرو په ارزښت او په ټولیزه توګه ۵۶۷۴ افغانۍ صادره معاملې د ۸۳.۶ میلیارده افغانۍ په ارزښت او ۲۷۱ ډالري صادره معاملې د ۴۶ میلیونه ډالرو په ارزښت، همدا ډول ۵ د یورو صادره معاملې د ۲۲۵،۰۰۰.۰۰ یورو په ارزښت او ۱۰ وارده او صادره د یورو معاملې د ۴۹۵،۹۲۳.۰۰ یورو په ارزښت ترسره شوي دي.


۱۷ ګراف د ۱۳۹۳ کال په ترڅ کې د افغانۍ او اسعاري معاملو شمېره ښکاره کوي.




**د چکونو د تسویې او تصفیې برخه (Clearing House)**

کلیرینګ هاوس د تادیاتو د مدیریت یو له کاري برخو څخه ده چې په ۱۳۹۳ مالي کال کې یې ۳۵۹۶ چکونه د ۱۰ میلیارده افغانۍ په ارزښت او ۳۰،۲۶ چکونه د ۲۶میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت او د یورو ۱۰ چکونه د ۱۷۱.۵۰۶.۰۰ یورو په ارزښت تسویه او تصفیه کړي دي.

۱۸ ګراف د ۱۳۹۳ کال په ترڅ کې د چکونو د تصفیې او تسویې د برخې د معاملو شمېر ښکاره کوي.



# د بازار عملیات

# د بازار عملیات

د افغانستان بانک د قانون پر بنسټ کولای شي د تبادلې وړ بهرنیو اسعارو، د دولت لخوا خپرو شوو د پور بها لرونکو سندونو، په قطعي پیرودنه او پلورنه (د فوري یا مخکنۍ پیرودنې) او د بیا پیرودنې د قرارداد په موجب له خپل لوري اقدام وکړي.

د افغانستان بانک په همدې موخه د بازار عملیات لوی مدیریت ته دنده سپارلې ده څو د پولي سیاست د اجرائیوي بنسټ ترڅنګ د اسعارو او بیه لرونکو پاڼو لیلام او د لیتراف کریډیټونو پرانیستل هم په لاره واچوي. د دې ترڅنګ د هېواد د اسعاري زېرمو اداره کول او پانګونه هم د بازار عملیات د لوی مدیریت له دندو څخه ګڼل کیږي. دلته په لنډه توګه د اسعاري زېرمو، د اسعارو او د بیه لرونکو پاڼو د لیلام او د لیتراف کریډیټونو د پرانیستلو له څرنګوالي څخه یادونه کیږي:

**اسعاري شتمنۍ:**

د ریزرف د مدیریت مهمه او بنسټیزه دنده د پورتفولیو پانګونه، اداره او تنظیم او په معامله لرونکو بانکونو کې د افغانستان بانک د جاري حسابونو کنټرول جوړوي.

د افغانستان بانک اسعاري شتمنۍ د ۱۳۹۲ کال د مرغومې په لومړیو کې ۷.۰۷۳ میلیارده امریکایي ډالره وې او د ۱۳۹۳ کال د لیندۍ په ۳۰ نېټه د افغانستان بانک په پورتفولیو کې د ۱۹۴ میلیونه امریکایي ډالرو په توپیر سره ۷.۲۶۷ میلیارده امریکایي ډالرو ته چې د زیاتیدنې ښکارندوي کوي، ورسیدې.

سربېره پر دې د افغانستان بانک،د پولي سیاست د انډول لپاره د ۱۳۹۲ مالي کال له لومړیو څخه د ۱۳۹۳ کال د لیندۍ میاشتې تر پای پورې په بازار کې د پولي پړسوب د انډول ساتلو په موخه ۳.۳۴۱ میلیارده امریکایي ډالره لیلام کړي دي.

د افغانستان بانک په پورتفولیو کې د ۱۳۹۲ کال په پرتله په زېرمې (ریزرف) کې د ټیټوالي اصلي لامل په نړیوال بازار کې د اسعارو او سرو زرو د نرخ غیر مترقبه کموالی ګڼل کیږي.

د پانګې اچونې له پراخ کړکیچ او په نړیوالو بازارونو کې د ټکټانې د نرخ د بې ساري ټیټوالي په پام کې نیولو سره، د ریزرف مدیریت د پانګونو د ټکټانې عواید شاوخوا ۳۰ میلیونه امریکایي ډالره اټکل کړي ؤ خو په پایله کې د افغانستان بانک وتوانیده په تیر مالي کال کې د خپلې بهرنۍ پانګونې له لارې ۲۶.۴میلیونه امریکایي ډالره ګټه ترلاسه کړي.

**د اسعارو لیلام:**

د اسعارو لیلام د کورنیو بیو د ټیکاو لپاره د افغانستان بانک د پولي سیاست یو مهم ابزار دی. د دې ترڅنګ، له دې ابزار څخه د ډالرو پر وړاندې د افغانۍ د مبادلې د نرخ له سختو نوساناتو څخه د مخنیوي لپاره هم ګټه اخیستل کیږي.

لیلام له معمول سره سم د شنبې او سه شنبې په ورځو کې ترسره کیږي چې له ۱۳۹۳/۱/۳ نېټې څخه تر ۱۳۹۳/۹/۲۹ نېټې پورې په ټولیزه توګه دوه میلیارده او شپږ سوه او دوه پنځوس میلیونه او دوه سوه زره (۲،۶۵۲،۲۰۰،۰۰۰ ) ډالره د ۷۱ ځله لیلام په ترڅ کې د ټولو ناظر او پولي سیاست د ادارو تر نظر لاندې لیلام شوي دي.

**د بیه لرونکو پاڼو لیلام:**

اوس مهال درې ډوله بیه لرونکي پاڼې د دې مدیریت لخوا چې له ۲۸ ورځني، ۱۸۲ ورځني او ۳۶۴ ورځني څخه عبارت دي، لیلامیږي.


د دې مدیریت د بیه لرونکو پاڼو برخې د ۱۳۹۳ مالي کال له پیل څخه د همدې مالي کال تر پای پورې، په اونۍ کې یو ځل د بیه لرونکو پاڼو لیلام ترسره کړی دی. د ۱۳۹۳ مالي کال په اوږدو کې درې ګونې بیه لرونکي پاڼې په لاندې ډول لیلام شوي دي:

۲۸ ورځنی ۴۶،۸۷۱،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ افغانۍ


۱۸۲ ورځنی ۲۱،۲۳۹،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ افغانۍ

۳۶۴ ورځنی ۰۰.۰۰۰،۰۰۰،۶۱۱،۲۵افغانی

۱۹ ګراف د ۱۳۹۳ مالي کال په ترخ کې د بيه لرونکو پاڼو ليلام ښکاره کوي.




د مالي کال په ترخ کې په ټولیزه توګه ۲،۳۳۹،۹۶۷،۵۰۹ افغانی د بيه لرونکو پاڼو د ټکټانې له کبله چې هر يو په ۲۰ ګراف کې تشريح شوي دي، پانګه اچوونکو ته تاديه شوي دي.




**د شپې د اماناتو آسانتياوې ( Overnight Deposit Facility):**

د روان کال په اوږدو کې د شپې د اماناتو د آسانتيا ( Overnight Deposit Facility ) اوسط چې د سوداګريزو بانکونو لخوا د افغانستان بانک سره اېښودل شوي دي، ۳،۲۵۱،۳۱۴،۲۳۸،۴۰ افغانی ته رسيږي او له همدې کبله د بازار عمليات دفتر ۴۴،۳۵۴،۴۷۹ افغانۍ ټکټانه امانات اېښودونکو ته ورکړې ده.

د يادونې وړ ده چې د پولي سياست د ۱۳۹۳/۳/۲۰ نېټې وړانديز او د افغانستان بانک د عامل پلاوي د تصويب پر بنسټ د شپې په شتمنيو کې پانګونه ودرول شوې ده.

همدا ډول د همدې مودې په ترخ کې د اجباري زيرمو (Required Reserve) له کبله په ټوليزه توګه ۳۹۷،۱۱۶،۸۳۰ افغانی ټکټانه سوداګريزو بانکونو ته تاديه شوې ده.

**ليتراف کرېډټونه:**

د ليتراف کرېډيټونو مديريت د ۱۳۹۲ کال د لیندۍ له ۳۰ نېټې څخه د ۱۳۹۳ کال د لیندۍ تر پای پورې د بهرنيو او کورنيو کمپنيو څخه د وزارتونو او نورو دولتي ارګانونو د اړتيا وړ سامان آلاتو او تجهيزاتو د واردولو په موخه ۱۷ وارداتي ليتراف کريډټونه د ماليې وزارت په موافقه له عادي او پرمختيايي بودجې څخه د اړوندو کمپنيو په وجه د بهرنيو او کورنيو معامله لرونکو بانکونو له لارې په بېلابېلو اسعارو پرانيستلي دي چې د لاندې اسعارو په تفکيک سره يې معلومات وړاندې کيږي:

۱- ۱۳ ليتراف کريډټونه د ۱۵۷،۴۹۷،۹۶۴/۶۳ امريکايي ډالرو په ارزښت

۲- ۲ ليتراف کريډټونه د ۱۹۹،۲۴۴،۶ يورو په ارزښت

۳- ۲ ليتراف کريډټونه د ۸۴۷،۷۳۵،۲۲۷ افغانی په ارزښت

بايد يادونه وکړو هغه مبلغونه چې د ليتراف کريډټ د پرانيستنې په موخه د ماليې وزارت او دولتي ارګانونو له حسابونو څخه د پرانيستنې پر وخت اخيستل کيږي، د ليتراف کريډټونو د ريزرف کوډ ته ليږدول کيږي. دا چې ليتراف کريډټونه د وخت په قيد کې د ورکړې وړ وي او د ليتراف کريډټ ډېری مبلغونه د هغه تر وروستۍ نېټې پورې چې اوږده موده په بر کې نيسي، د افغانستان بانک سره پاتې کيږي نو دا په خپله د افغانستان بانک د ريزرف (زېرمو) کچه لوړوي.

# د عامه اعتباراتو ثبت

# د عامه اعتباراتو ثبت

د پرمختیا په لور هېوادونو په اقتصاد کې؛ د کوچنیو او منځنیو سوداګریو رول د خصوصي سکتور ستره برخه جوړوي او د کار موندنې لپاره تر ټولو ډېرې زمینې برابروي. کوچنۍ او منځنۍ سوداګرۍ، پیسو ته په زیاتې لاسرسۍ سره کولای شي د پانګه اچونې د مناسبو فرصتونو ترڅنګ د مشتریانو شمېر زیات او لا ډېره ګټه ترلاسه کړي. خو د پیسو د غوښتونکو په اړه د معتبرو معلوماتو نه موجودیت د پرمختیا په لور هېوادونو کې پیسو ته د لاسرسۍ په برخه کې د بنسټیزو خنډونو له ډلې څخه شمېرل کیږي. څکه چې د مشتریانو د سوابقو په اړه له معتبرو معلوماتو پرته، مالي مؤسسې نه شي کولای هغوي ته پیسې برابرې کړي او پر ورانډې یې مشتریان هم اړتیا لري څو مالي مؤسسو ته د خپلو سوابقو په اړه معتبر سندونه وړاندې کړي. همدا ډول څارونکي ادارې اړتیا لري څو په بانکي سکتور کې اعتباري خطرونه تر څېړنې لاندې ونیسي.

د عامه اعتباراتو د ثبت اداره د اعتباري او رهني معلوماتو د برابرونکي په توګه د افغانستان بانک په اډانه کې جوړه او بنسټیز فعالیتونه یې د منقولو اموالو د رهني حقوقو د ثبت او د عامه اعتباراتو د ثبت سیستمونه رانغاړي، چې د نړیوال بانک لخوا تمویلیږي. ذکر شوي سیستمونه د اعتباراتو د راپور ورکونې او د منقولو اموالو د رهني خبرتیاوو د ثبت د مقررو پر بنسټ فعالیت کوي او په الکترونیکي بڼه د منقولو اموالو د رهني خبرتیاوو د ثبت او د اعتباري راپوروونو د ترلاسه کولو زمینې برابروي. پورته ذکر شویو سیستمونو اداري طی مراحل په بشپړه توګه راکم کړي او په هېواد کې مالي وجوه ته یې لاسرسی زیات کړی دی.

د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ میلادي کلونو په ترڅ کې چې له ۱۳۹۲ او ۱۳۹۳ مالي کلونو سره سمون خوري، په دې برخه کې د پام وړ پرمختګونه شوي چې په پایله کې د عامه اعتباراتو د ثبت او د منقولو اموالو د رهني حقوقو د ثبت سیستمونه فعال او ګټې اخیستنې ته وړاندې شوي دي. د افغانستان د بانکي سکتور د اړتیاوو په پام کې نیولو سره د ذکر شویو سیستمونو فعالول نه یوازې د افغانستان بانک لپاره د پام وړ پرمختګ ګڼل کیږي، بلکې د افغانستان بانکي سکتور لپاره هم له ځانګړي ارزښت څخه برخمن دی، څکه چې اعتباري او رهني معلوماتو ته یې لاسرسی، له ورځو څخه دقیقو ته راکمه کړی دی. یاد سیستمونه د نړیوال بانک، نړیوالې مالي ادارې او د حرکت مؤسسې لخوا تمویلیږي چې بنسټیزه موخه یې په افغانستان کې پیسو ته د لاسرسۍ د خنډونو کموالی دی. د عامه اعتباراتو د ثبت اداره توانیدلې ده چې د ترسره شویو اجرااتو په اړه د تمویلي ادارو رضایت ترلاسه کړي چې د ذکر شویو سیستمونو په ټینګښت او ټیکاو کې مهم رول لوبوي.

د عامه اعتباراتو د ثبت ادارې د لومړي ځل لپاره د عوایدو په راټولولو پیل کړی او تر اوسه پورې په ټولیزه توګه ۶۴۴،۳۲۰ افغانۍ د دې ادارې د عوایدو حساب ته کریډېټ شوي دي. د دې ترڅنګ دا اداره د سیمې د هېوادونو په کچه په عصري تکنالوژۍ سمباله ده او ډېری اجراات یې الکترونیکي دي.

له هغه ځایه چې د عامه اعتباراتو د ثبت سیستمونه د لومړي ځل لپاره په بانکي سکتور کې فعال شوي دي؛ د دې ادارې حقوقي برخه له قوانینو او مقررو سره سم د چارو له ترسره کولو څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه اړوندو برخو لپاره حقوقي مشورې ورکوي.

د ۱۳۹۳ مالي کال په ترځ کې د عامه اعتباراتو د ثبت د ادارې اجراات په لنډه توګه په لاندې ډول وړاندې کیږي:

### ۱. د عامه اعتباراتو د ثبت سیستم

د عامه اعتباراتو د ثبت اداره او یا د اعتباراتو د راپور ورکونې آژانس؛ د انفرادي اشخاصو او شرکتونو اعتباري معلومات ( د پور اخیستونکي د هویت معلومات، د ورکړې او تضمین تاریخچه) راټولوي، څېړي او د اعتباري راپوروونو په ترځ کې

يې نورو مؤسسو ته وړاندې کوي. د عامه اعتباراتو د ثبت اداره د اړتيا وړ معلومات له بېلابېلو منابعو( سوداګريزو بانکونو، مالي کوچنيو مؤسسو، مخابراتي شرکتونو، سوداګريزو محکمو، د بيمو شرکتونو، برېښنا شرکت، د مالي اجارې شرکتونو،...) څخه راټولوي او د يو منسجم راپور په ترڅ کې چې د مشتري ډله بندي هم رانغاړي، وړاندې کوي. دا معلومات کيداى شي مثبت او يا منفي وي. منفي معلومات زيات خطرونه رانغاړي او مثبت معلومات د ښه اعتبار ښکارندوى دى.

له هغه ځايه چې مالي مؤسسې د اقتصاد مهمه برخه جوړوي، نو له همدې امله د هېواد په اقتصاد کې پيسو ته د دوي د لاسرسي لپاره معتبرو اعتباري معلوماتو ته اړتيا ده چې دا معلومات د عامه اعتباراتو د ثبت د ادارې له لارې برابريږي.

د عامه اعتباراتو د ثبت د سيستم بنسټيزه لاسته راوړنه اعتباري راپورونه (Credit Reports) دي چې د ورکړې تاريخچه، د هويت معلومات، د پورونو شمېر، د مشتريانو منفي او مثبت وضعيت رانغاړي. دا تفصيلي راپور له مالي مؤسسو سره مرسته کوي څو ښه مشتريان وپيژني او په دې برخه کې معقول تصميمونه ونيسي. له همدې امله اعتباري راپورونه د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې د معلوماتو د ډېرې مهمې منبع په توګه د اعتباري خطرونو د ارزونې او تصميم نيولو په موخه په پام کې نيول کيږي.

د عامه اعتباراتو د ثبت سيستم د اعتباري معلوماتو د درجولو په موخه د لومړي ځل لپاره په هېواد کې د افغانستان بانک لخوا د ۱۳۹۲ کال د ليندۍ په ۲۵ نېټه پرانېستل شو. دا سيستم په بشپړه توګه الکترونيکي دى او له نړيوالو معيارونو سره سم عيار شوى دى. له دې سيستم څخه په ګټې اخيستنې سره په هېواد کې پيسو ته د لاسرسي آسانتياوې زياتې شوي او هغه پيرودونکي چې د پيسو غوښتنې يې درلودلې وې، د دې سيستم له ګټو څخه برخمن شوي. دا سيستم، مالي مؤسسو سره د پور ورکونې په تصميم نيولو کې مرسته کوي او د اړتيا وړ اعتباري معلومات له طی مراحل او د وخت له ضايع کيدو پرته له آنلاين لارې ترلاسه کولاى شي.

د افغانستان بانک د عامه اعتباراتو د ثبت ادارې د دې سيستم د امتحاني دورې له تيريدو وروسته؛ د اعتباري راپورنو لومړنۍ بسته چې د انټرنټ له لارې د لاسرسي وړ ده، د ۱۳۹۳ کال د وري په ۱۲ نېټه مالي مؤسسو او پيريدونکو ته معرفي کړه چې د هېواد د بانکي سکتور يو له سترو برياليتوبونو څخه شمېرل کيږي. څرنګه چې وويل شو اعتباري راپورونه چې له آنلاين لارې وړاندې کيږي د اعتباري خطرونو د کميدو ترڅنګ د مشتري اعتباري معلومات په منظمه توګه راټولوي او مالي مؤسسو ته يې وړاندې کوي. دې آسانتياوو د پور ورکولو لګښت راټيټ کړى او په هېواد کې يې پيسو ته لاسرسي زياته کړې.

د اعتباري راپورونو بسته لاندې راپورونه رانغاړي:

۱. د اعتباري معلوماتو راپور (Credit Info Report)

۲. په ډله بندۍ سره د اعتباري معلوماتو راپور (Credit Info Report Plus)

۳. د ډله بندۍ راپور (Scoring Report)

۴. د مشتري اعتباري راپور (Consumer Report)

۵. په ډله بندۍ سره د مشتري اعتباري راپور (Consumer Report Plus)

د افغانستان بانک د عامه اعتباراتو د ثبت سيستم د افغانستان بانک د قانون او د اعتباراتو د راپور ورکولو د مقررې په رڼا کې فعاليت کوي او ټول سوداګريز بانکونه له هغه څخه ګټه پورته کوي. تر اوسه پورې شاوخوا اويا زره پورونه چې دوديزه او اسلامي پورونه رانغاړي، په دې سيستم کې ثبت شوي او تمه کيږي چې د نورو ادارو د اعتباري معلوماتو د راټولولو لړۍ هم پيل شي.


سره له دې چې د عامه اعتباراتو د ثبت د سيستم بنسټيز محصول اعتباري راپورونه دي، خو د دې سيستم احصائيوي برخه هم يو شمېر راپورونه لري چې لنډيز يې په دې سيستم کې د چمتو شويو معلوماتو پر بنسټ وړاندې کيږي:


۱۱ جدول د عامه اعتباراتو د ثبت په سیستم کې د ډولیزه ثبت شویو پورونو شمېر ښکاره کوي.

| سلنه | مجموع | غیر رسمي قراردادونه | رسمي قراردادونه | د قرارداد ډولونه |
|---|---|---|---|---|
| ۰.۰۳٪ | ۲۲ | ۸ | ۱۴ | لیتر اف کریډټ |
| ۱۰.۰۷٪ | ۷۶۸۲ | ۳۳۸۰ | ۴۳۰۲ | بانکي ګرنټیانې |
| ۱.۰۷٪ | ۸۲۰ | ۵۴ | ۷۶۶ | کریډټ کارت |
| ۵.۴۵٪ | ۴۱۶۰ | ۱۳۳۲ | ۲۸۲۸ | کښت (قسط) |
| ۱.۸۳٪ | ۱۳۹۹ | ۶۸۲ | ۷۱۷ | غیر کښت (قسط) |
| ۰.۲۰٪ | ۱۵۵ | ۳۸ | ۱۱۷ | اسلامي پورونه |
| ۸۱.۳۴٪ | ۶۲۰۶۱ | ۸۲۴۶ | ۵۳۸۱۵ | کوچني پورونه |
| ۱۰۰٪ | ۷۶۲۹۹ | ۱۳۷۴۰ | ۶۲۵۵۹ | |

د ۲۰۱۴ میلادي کال له اپریل څخه تر نومبره پورې د پورته ذکر شویو معلوماتو ثبتول د پام وړ لاسته راوړنه ګڼل کېږي، څکه چې د اعتباري معلوماتو راټولول په بشپړه توګه الکترونیکي (XML & CSV) دي او هیڅ ډول اداري طی مراحلو ته اړتیا نه لري. د دې ترڅنګ د پورته ذکر شویو پوروړو اعتباري راپورونه له آنلاین لارې له یو واحد ډیټابیس څخه د لاسرسی وړ دي.

۲۱ او ۲۲ ګرافونه د حکمي، حقیقي اشخاصو او جنډر د ثبت شویو پوروړو نوعیت ښکاره کوي.





د ثبت شویو تړونونو له ډلې ۸ سلنه سوداګریز شرکتونه او ۹۲ سلنه انفرادي اشخاص جوړوي.

د دې ترڅنګ د انفرادي پورونو ۷۷ سلنه نارینه او ۱۵ سلنه ښځینه رانغاړي.

- **د افغانستان د بانکي سکتور د اعتباراتو ټوکری**

د ثبت شویو تړونونو پر بنسټ، د بانکي سکتور ټولیزه اعتبارات ۶۷.۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي. که چېرې د بانکي تضميناتو مبلغ له پورته ذکر شوي مبلغ څخه تفریق شي؛ پاتې شوی مبلغ يې ۴۳.۴ میلیارده افغانۍ ته رسیږي.

۲۳ ګراف د عامه اعتباراتو د ثبت، د ثبت شویو تړونونو سلنه ښکاره کوي.




د افغانستان بانک د عامه اعتباراتو په سیستم کې د تعبیه شویو معلوماتو پر بنسټ؛ د بانکي سکتور د اعتباراتو ۳۶ سلنه، بانکي تضمينات (Bank Guarantees) جوړوي چې ۲۴.۱ میلیارده افغانۍ ته رسیږي.

**۲. د منقولو اموالو د رهني حقوقو د ثبت اداره**

د منقولو اموالو د رهني حقوقو د ثبت سیستم "په بانکي معاملو کې د منقولو اموالو د رهن قانون" د ۴۸ مادې د حکم له مخې او" د منقولو اموالو د رهني خبرتیاوو د ثبت مقرره" د منقولو اموالو د رهني خبرتیاوو د ثبت په موخه جوړ شوی دی.

د دې سیستم موخه، د منقولو اموالو د رهني حقوقو ثبت؛ د رهني حقوقو د تقدم ثابتول او د دریم شخص د خبرتیا په موخه د رهني خبرتیاوو خپرول دي. التزامونه د رسمي طی مراحلو له لارې د رهني حقوقو د ثبت په موخه د منقولو

اموالو د رهن د مقررې په پام کې نیولو سره په حداقل توګه تنظیم شوي او هیڅ ډول اداري طی مراحلو او د ثبت دفتر لخوا منظورۍ ته اړتیا نه لري. ذکر شوی سیستم په عملي توګه د سوداګریزو بانکونو د کارولو وړ ګرځېدلی او له ګټو څخه یې په لاندې ډول یادونه کیږي:

- مالي پیسو ته لاسرسي زیاتوي.
- د پور ورکولو لګښت راکموي
- په بازار کې سیالی زیاتوي
- په پور ورکولو کې تنوع زیاتوي

ذکر شوی سیستم نه یوازې د رهني خبرتیاوو د ثبت په موخه، بلکې د مالیاتي حبس (Tax Lien) د حقوقو ثبت لپاره هم کارول کیږي چې دا موضوع په رسمي توګه له مالیې وزارت سره مطرح شوې ده.

د رهني حقوقو د ثبت سیستم اوسنی احصائیې په ۱۲ جدول کې وړاندې کیږي:

| | |
|---|---|
| د ثبت شویو رهني خبرتیاوو شمېر | ۳۰۷۶ |
| (سوداګریز بانکونه) د کاروونکو شمېر | ۱۵ |
| (د افغانستان بانک څارونکي) د څارنیزو کاروونکو شمېر | ۱۳ |
| د ثبت شویو خبرتیاوو ټولیز ارزښت | ۳۹.۲ میلیارد افغانی |
| الکترونکي ټولیزه پلټنې | ۷۱۴۹ |

د تیر کال په پرتله د رهني خبرتیاوو شمېر ۱۰۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. همدا ډول د رهني خبرتیاوو ټولیز مبلغ چې د منقولو اموالو د لومړني او دویمي تضمیناتو پر وړاندې ثبت شوي دي، د تیر کال په پرتله ۴۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. همدا ډول د رهني خبرتیاوو شمېر او د هغه ټولیز ارزښت په متراکم (Cumulative) ډول اټکل شوی دی څو په ټولیزه توګه د منقولو اموالو پر وړاندې مالي وجوه ته لاسرسی زیات کړي.

د یادونې وړ ده چې د معتبرو رهني حقوقو ثبت؛ د ثبت شیبې له اعتبار څخه د دریم شخص پر وړاندې پر مرهونه باندې د رهني حقوقو د تقدم د جوړېدو لامل کیږي. کله چې په منقولو اموالو باندې د رهن اخیستونکي لخوا د رهني حق خبرتیا په سیستم کې ثبت او خپره شي؛ د دریم شخص د مطالباتو پر وړاندې د رهني حق تقدم د منقولو اموالو د رهن د قانون له حکمونو سره سم تثبیت او خوندي کیږي. د رهني حقوقو د تقدم د تثبیت په موخه تر ټولو ښه چلند؛ په دې سیستم کې د رهني حقوقو د خبرتیاوو ثبت دی. که چېرته مرهونه د څو رهن اخیستونکو تر رهن لاندې راغلی وي او رهن ورکوونکي د پور په بیا ورکولو کې ځنډ وکړي، د رهني حق د تقدم تثبیت په دې سیستم کې د ثبت شویو خبرتیاوو پر بنسټ کیږي.

د ذکر شوي سیستم د پرمختیا او د غیر مترقبه پېښو له کبله د خطرونو د راکمېدو په موخه؛ دې اداري پرمختیایي پلان چې د احصائیوي نویو راپورونو زیاتوالی، له طبیعي آفتونو څخه د مخنیوی د مرکز جوړول او د دې اداري کارکوونکو ته د روزنیزو پروګرامونو برابرول رانغاړي، طرح او په عملي توګه د پلي کیدو په پړاو کې دی.

**۳. سوداګریزه پرمختیا او عامه پوهاوی**

له هغه ځایه چې د عامه اعتباراتو سیستم او د منقولو اموالو د رهني حقوقو د ثبت سیستم د لومړي ځل لپاره په هېواد کې جوړ شوی دی او د دې سیستمونو فعالیت چې ظرفیت جوړونې، د نویو محصولاتو پرمختیا او عامه پوهاوی ته اړتیا لري؛ له همدې امله د عامه اعتباراتو د ثبت ادارې په ۱۳۹۳ مالي کال کې د سوداګریزې پرمختیا برخه او د پیریدونکو د خدمتونو برخه جوړه کړه. ذکر شوې برخې د عامه اعتباراتو د ثبت د سیستمونو د کارکوونکو ستونزو ته د رسیدو منظم میکانیزم جوړ او په روان کال کې یې شاوخوا ۴۳۰ الکترونکي مراسلو ته ځوابونه وړاندې کړي دي. د دې ادارې د پیریدونکو د خدمتونو برخه له لومړنیو آسانتیاوو ( ایمیل، ټیلفون او وب پاڼې) څخه ګټه پورته کوي چې لا زیاتو تجهیزاتو او کارکوونکو ته اړتیا لري. د سوداګریزې پرمختیا په برخه کې د حرکت مؤسسې په همکارۍ د پام وړ کړنې

ترسره شوي دي چې په لاندې توګه تصريح کيږي:

- **د روزنيزو ورکشاپونو او د عامه پوهاوۍ د پروګرامونو د جوړولو په برخه کې**

د ورکشاپونو او د عامه پوهاوۍ د پروګرامونو په برخه کې په ټوليزه توګه ۸۵۷ ګډون کوونکو په مرکز او ولايتونو کې د مسلکي او د عامه پوهاوۍ تر روزنې لاندې نيول شوي چې له دې ډلې ۹۵ تنه يې ښځينه او ۷۶۲ ته يې نارينه جوړوي. د ارزونو له فورمو څخه د ترلاسه شويو پايلو پر بنسټ شاوخوا ۸۵ سلنه ګډون کوونکو د دې ډول پروګرامونو له جوړويدو څخه رضايت څرګند کړی او د دا ډول پروګرامونو د زياتيدو غوښتنه يې کړې ده. مالي مؤسسو ته د عامه پوهاوۍ او ظرفيت جوړونې د ورکشاپونو جوړول په بشپړه توګه افغاني دي او د عامه اعتباراتو د ثبت د کارکوونکو لخوا مديريت او وړاندې شوي دي چې د اوسنۍ تکنالوژۍ په برخه کې د دې اداري د کارکوونکو د ظرفيت لوړولو ښکارندوی دی. د ظرفيت جوړونې او د عامه پوهاوۍ ورکشاپونه چې په ۱۳۹۳ کال کې جوړ شوي دي، په لاندې توګه وړاندې کيږي:

- د عامه اعتباراتو د ثبت سيستم او د منقولو اموالو د رهني حقوقو د ثبت سيستم د کارولو په برخه کې د سوداګريزو بانکونو کارکوونکو لپاره په تخنيکي او حقوقي برخو کې د دريو روزنيزو ورکشاپونو جوړول.
- د ذکر شويو سيستمونو د اغيزناکه کارولو په اړه د پور د شعبو د څېړلو په موخه داخلي پلټنې (تفتيش)، مالي خطرونو او د سوداګريزو بانکونو د قوانينو د رعايت او پيروۍ آمرينو ته د عامه اعتباراتو د ثبت د سيستمونو د ورکشاپ جوړول.
- د ذکر شويو سيستمونو د قانوني اړانې د پوهاوۍ په موخه د سوداګريزو بانکونو حقوقي سلاکارانو ته د عامه اعتباراتو د ثبت او د منقولو اموالو د رهني حقوقو د ثبت د سيستمونو په اړه حقوقي ورکشاپ جوړول.
- د مالي کوچنيو مؤسسو کارکوونکو لپاره د عامه اعتباراتو د ثبت او د منقولو اموالو د رهني حقوقو د ثبت د سيستمونو په اړه د دوو روزنيزو ورکشاپونو جوړول.
- د مالي چارو د څارنې د لوی آمريت څارونکو لپاره د عامه اعتباراتو د ثبت او منقولو اموالو د رهني حقوقو د ثبت د سيستمونو د څارنيز ارزښت په اړه د دريو ورکشاپونو جوړول څو د سيستم له پلي کيدو او کارولو څخه څارنه وکړي.
- د افغانستان بانک د پولي سياست، حقوقي مشاوريت، مالي خطرونو، د ټولو ناظر اداري، او مارکيټ د آمريتونو کارکوونکو لپاره د عامه اعتباراتو د ثبت سيستم په اړه د ورکشاپ جوړول.
- د دولتي او خصوصي پوهنتونونو استادانو او محصلينو لپاره د عامه اعتباراتو د ثبت د سيستمونو په اړه د عامه پوهاوۍ د ورکشاپ جوړول.
- په هرات، بلخ، کندهار او ننګرهار ولايتونو کې د عامه اعتباراتو د ثبت د سيستمونو په اړه د عامه پوهاوۍ د پروګرامونو جوړول.
- **د تبليغاتي موادو د چاپ په برخه کې**
- په دري، پښتو او انګليسي ژبو په ټوليزه توګه۶۰۰۰ جلده د يادداشت کتابچې چاپول.
- په دري، پښتو او انګليسي ژبو په ټوليزه توګه د ۹۰۰۰ جلده فايل فولډرونه چاپول.
- د عامه اعتباراتو د سيستم د ۷۰۰۰ جلده بروشورو چاپول.
- د رهني حقوقو د ثبت د سيستم د ۱۰۰۰ جلده بروشورو چاپول.
- د دواړو سيستمونو په اړه په ټوليزه توګه د ۴۶ پايو ولاړو بينرونو چاپول.
- له تبليغاتي شعارونو سره يو ځای د دواړو سيستمونو په اړه د ۴۰۰۰ قلمونو جوړول.
- په بانکي معاملو کې د منقولو اموالو د رهن د قانون ۹۰

جلده وېشل.

- د منقولو اموالو د رهني خبرتياوو د ثبت د مقررې ۱۶۵ جلده وېشل.
- د اعتباراتو د راپورونو د مقررې ۱۶۵ جلده وېشل.
- **د اشتهارونو او اعلانونو په برخه کې**
- د عامه اعتباراتو د ثبت لپاره د خپلواکې وب پاڼې جوړول (WWW.pcr.gove.af)
- د صافي ايرويز په مجله کې د عامه اعتباراتو د ثبت د اعلان خپرول.
- د افغانستان ټايمز په وب پاڼه کې د اعتباري راپورونو د اعلان خپرول.
- د افغانستان ټايمز په ورځ پاڼه کې د عامه اعتباراتو د ثبت د اشتهارونو خپرول(۲۰ ځلې)
- د هشت صبح په ورځپاڼه کې د عامه اعتباراتو د ثبت د اشتهارونو خبرول (۲۱ ځلې)
- د انيس په ورځپاڼه کې د عامه اعتباراتو د ثبت د اعلان خپرول (يو ځل)
- د افغانستان بانک په مجله او ويب پاڼه کې دوامداره ونډه اخيستل.
- د حرکت مؤسسې په وب پاڼه کې ونډه اخيستل.
- په ټولنيزو پاڼو کې د عامه اعتباراتو د ثبت د اشتهارونو خپرول.
- **د تلويزيوني اعلانونو په برخه کې**
- په انګليسي ژباړې سره د هېواد په رسمي ژبو د عامه اعتباراتو د ثبت د اعلان ترتيبول او خپرول.
- په انګليسي ژباړې سره د هېواد په رسمي ژبو د منقولو اموالو د رهني حقوقو د ثبت د اعلان ترتيبول او خپرول.
- **د ويډيويي لارښوونې او Success Story په برخه کې**
- د هېواد په رسمي ژبو د عامه اعتباراتو د ثبت د سيستم د لارښوونې ترتيبول (Interactive Guide)
- د هېواد په رسمي ژبو د منقولو اموالو د رهني حقوقو د ثبت د سيستم د لارښوونې ترتيبول.
- د عامه اعتباراتو د دواړو سيستمونو په اړه د لنډ فلم (Success Story) ترتيبول چې ( د روان کال د مرغومې تر ۳۰ نېټې پورې بشپړ کيږي).

د يادونې وړ ده چې تبليغاتي مواد د دې ادارې د کارکوونکو لخوا جوړ او ترتيب شوي دي چې وېش به يې اړوندو ادارو ته له اداري طي مراحلو وروسته په روښانه او مستند ډول ترسره شي.

**۴. الکترونکي خدمتونه او د اداري طي مراحل ټيټوالی**

د الکترونکي خدمتونو برابرول او د اداري طي مراحل ټيټوالی د عامه اعتباراتو د ثبت او د منقولو اموالو د رهني حقوقو د ثبت د سيستم د بنسټيزو موخو له ډلې څخه دي، ځکه هغه معيارونه چې د نړيوال بانک په کلني راپور کې خپريږي په الکترونيکي کيدو او د اداري التزاماتو په نه شتون تأکيد لري. هغه سيستمونه چې د سيمې په کچه تر ټولو ښه او منل شوي دي، لاندې ځانګړتياوې لري:

- په اوسنۍ ټکنالوژۍ په بشپړه توګه سمبال سيستم
- د انټرنټ او خونديي اړيکو له لارې د لاسرسۍ وړ
- د بشپړ اتوماتيکې پلټنې د وړتيا لرونکی
- د بشپړ الکترونيکي ډله بندۍ او څېړنې
- د ثبت لپاره اداري طي مراحل ته نه اړتيا
- په دويمي سايټ سمبال د امنيتي سيستم لرونکی

يادې شوې ځانګړتياوې په بانکي سکتور کې د اعتباري معلوماتو د شريکولو له اړخه د بيروکراسی په ټيټوالي کې ډېر ارزښت لري؛ ځکه دا سيستم په بربښنايي بڼه ۲۴ ساعته فعال دی او د اعتباري معلوماتو د شريکولو پروسه يې له ورځو څخه دقيقو ته راټيټه کړې ده.

د دې ادارې د معلوماتي تکنالوژۍ برخې د ۱۳۹۳ مالي کال په ترځ کې، له منعقده قرارداد سره سم له طبيعي آفتونو څخه د

مخنیوی مرکز د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ په وزارت کې جوړ او تمه کیږي چې په نږدې راتلونکي کې فعال شي. د دویمي سایټ په موجودیت سره عملیاتي خطرونه راکم شوي او که چېرته لومړنی سایټ خراب شي، د دې ادارې خدمتونه به له دویمي سایټ څخه د لاسرسي وړ وي. د دې ادارې د معلوماتي تکنالوژۍ کارکوونکي د عامه اعتباراتو د ثبت ادارې ته د ویب پاڼې په جوړولو کې د بنسټیز رول ترڅنګ د هغه د تخنیکي خوندیتوب مسؤولیت په غاړه لري.

د عامه اعتباراتو د ثبت په سیستمونو کې جوړ شوي یوزرونه په ۱۳ جدول کې وړاندې کیږي.

| | |
|---|---|
| د عامه اعتباراتو په سیستم کې سوداګریزو بانکونو لپاره جوړ شوي یوزرونه | ۳۲ |
| د منقولو اموالو د رهني حقوقو د ثبت په سیستم کې سوداګریزو بانکونو لپاره جوړ شوي یوزرونه | ۲۸ |
| د عامه اعتباراتو په سیستم کې د افغانستان بانک څارونکو ته جوړ شوي یوزرونه | ۲۶ |
| د منقولو اموالو د رهني حقوقو د ثبت په سیستم کې د افغانستان بانک څارونکو ته جوړ شوي یوزرونه | ۱۳ |

**د عامه اعتباراتو د ثبت او د منقولو اموالو د رهني حقوقو د ثبت سیستم د پرمختیا لپاره شته ننګونې**

سره له دې چې د عامه اعتباراتو د ثبت او د منقولو اموالو د رهني حقوقو د ثبت سیستمونه د اوسني عصر له نړیوالو معیارونو سره سم د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې جوړ شوي دي او یو د پام وړ نوښت ګڼل کیږي، خو له هغه ځایه چې د ذکر شویو سیستمونو کاروونکي سوداګریز بانکونه، مالي مؤسسې، د استوګنې د پورونو شرکتونه، د مالي اجارې شرکتونه، مخابراتي شرکتونه، سوداګریزې محکمې، د بیمې شرکتونه، د مالیاتو د راټولولو ادارې، د ملکیتونو د ثبت ادارې، احصائیوي ادارې، د برېښنا شرکت، د افغانستان بانک د مالي چارو د څارنې د لوی آمریت څارونکي، د پېژند پاڼو د وېشلو ادارې، د سوداګریز پاسپورټ فعالیت او د فعالیت جواز ورکونې ادارې دي، په همدې بنسټ اغیزناکه کارونه او د اعتباري معلوماتو همغږي کول له لاندې ننګونو سره مخ دي:

۱. د الکترونیکي پېژند پاڼو او په پرله پسې او منفردو شمېرو سره د پېژند پاڼو د وېشلو د واحد ډیټابیس نه شتون

۲. د اعتباراتو د راپور ورکونې د قانون نه موجودیت

۳. د اړوندو ادارو د تخنیکي ظرفیت ټیټوالی

۴. د اعتباري راپورونو په اړه د عامه پوهاوي ټیټوالی

۵. په اړوندو ادارو کې د الکترونیکي سیستمونو نه موجودیت

۶. د اعتباري معلوماتو کیفیت

۷. د سیستم له پلي کیدو او اغیزناکه کارونې څخه څارنه

۸. د عامه اعتباراتو د ثبت ادارې د الکترونیکي پلټنې تګلارې

**پایله**

په افغانستان کې د عامه اعتباراتو د ثبت او د منقولو اموالو د رهني حقوقو د ثبت د سیستم جوړول یو فوق العاده اغیزناکه ګام ګڼل کیږي او په هېواد کې پیسو ته د لاسرسي د زیاتیدو لامل کیږي. له هغه ځایه چې د نړۍ په نورو هېوادونو کې له ذکر شویو سیستمونو څخه اغیزناکه ګټه اخیستنې ښې پایلې تر شا درلودلي دي، له همدې امله په هېواد کې پیسو ته د لاسرسي د محدودیتونو شتون په پام کې نیولو سره، ټولې اړوندې ادارې باید په دې برخه کې لازم اقدامات ترسره کړي او په ګډه هلو ځلو د ذکر شویو سیستمونو په پرمختیا کې د عامه اعتباراتو د ثبت له ادارې سره همکار وي؛ ځکه چې د مرسته کوونکو مؤسسو لخوا د دې پروژې د پلي کیدو لپاره خورا ډېرې پیسې مصرف شوي دي چې د اړوندو ادارو همکارۍ او د دوی عملي اقدامات به د ذکر شویو سیستمونو د ټینګښت او پرمختیا ضامن وي.

# د افغان اماناتو د بیمې اداره( ADIC )

# د افغان اماناتو د بیمې اداره (ADIC)

- **د افغان اماناتو د بیمې د ادارې (ADIC) د جوړېدو موخه او رول**

د اوسنۍ نړۍ هېوادونه چې د منظم او با ثباته بانکي نظام درلودونکي دي، اغلباً په دې هېوادونو کې د اماناتو د بیمې د ادارې په نوم اداره موجوده ده چې دې ادارې په دې هېوادونو کې د بانکونو او مالي ادارو د ټیکاو ترڅنګ پر بانکونو د خلکو اعتماد زیات کړی، له همدې امله خلکو په بشپړ اعتماد او ډاډ سره خپلې پیسې په بانکونو او مالي ادارو کې د اماناتو په توګه اېښودلي او د خپلو اماناتو په اړه یې د احتمالي خطر له نشتوالي څخه ډاډ ترلاسه کړی دی.

د افغان اماناتو د بیمې اداره په سوداګریزو بانکونو کې د خلکو د اماناتو د خوندیتوب او ملاتړ، د بانکي سکتور د ثبات ساتلو، په بانکي نظام باندې د خلکو د اعتبار د روحیې او د اعتماد د دودیدو په موخه جوړه شوې چې د دې موخو په عملي کېدو سره به د هېواد په بانکي سکتور او مالي سیستم باندې د خلکو اعتماد زیات او ډاډمنه فضاء رامنځ ته شي.

د یادونې وړ ده چې د یو بانک د دیوالي کېدو پر مهال، د خلکو د اماناتو د بیا ورکړې پروسه له ننګونې ډکه ده چې په هغه وخت کې به ټول امانت اېښودونکي په ځانګړې توګه کوچني امانت اېښودونکي چې په سوداګریزو بانکونو کې د امانت اېښودونکو زیاته سلنه جوړوي، د خپلو اماناتو د نادرکه کیدو اندېښنې احساس کړي چې په همدې بنسټ د افغان اماناتو د بیمې اداره به د هېواد په کچه د یو ملاتړ کوونکې ادارې په توګه د خلکو د اماناتو د بیا ورکولو په پروسه کې مهم او بنسټیز رول ولوبوي او د خلکو امانات به په ټاکلي وخت او تر ټاکلو شرایطو لاندې ورکړي. د افغانستان بانک په جوړښت کې د دې ادارې جوړول د پورته موخو د عملي کولو لپاره، ځانګړې ارزښت لري.

- **د ۱۳۹۳ مالي کال په ترڅ کې د افغان اماناتو د بیمې د ادارې غړي بانکونه**

اوس مهال شپاړس سوداګریز بانکونه، د افغان اماناتو د بیمې د ادارې (ADIC) غړیتوب لري چې هر یو له دې بانکونو څخه د بانکي خدمتونو د کړنو سربېره له خپلو پیسو څخه ټاکلې اندازه پیسې هر کال په ربعواره توګه ADIC ادارې ته حق البیمه (Premium) ورکوي.

هغه بانکونه چې د افغان اماناتو د بیمې د ادارې غړیتوب لري په ۱۴ جدول کې وړاندې کیږي:

| شمېره | د بانک نوم | |
|---|---|---|
| ۱ | عزیزي بانک | Azizi Bank |
| ۲ | پنجاب نشنل بانک | Punjab National Bank |
| ۳ | آرین بانک | Arian Bank |
| ۴ | د افغانستان نړیوال بانک | Afghanistan International Bank |
| ۵ | فرسټ مایکرو فاینس بانک | The First Micro Finance Bank |
| ۶ | نشنل بانک آف پاکستان | National Bank of Pakistan |
| ۷ | الفلاح بانک | Bank Alfalah Limited |
| ۸ | نوی کابل بانک | New Kabul Bank |
| ۹ | حبیب بانک | Habib Bank Limited |
| ۱۰ | افغان یونایتید بانک | Afghan United Bank |
| ۱۱ | افغان ملي بانک | Bank- e-Millie Afghan |
| ۱۲ | پښتني بانک | Pashtany Bank |
| ۱۳ | د افغانستان سوداګریز بانک | Afghanistan Commercial Bank |
| ۱۴ | میوند بانک | Maiwand Bank |
| ۱۵ | غضنفر بانک | Ghazanfar Bank |
| ۱۶ | باختر بانک | Bakhter Bank |

- **د دې ادارې پولي منابع**

په بنسټيزه توګه د افغان اماناتو د بيمې د ادارې (ADIC) سرمايوي او عايداتي منابع د ځلورو مرجعو يعنې، د افغانستان بانک او ماليې وزارت څخه ترلاسه شوې لومړنۍ او دوراني پانګه، له سوداګريزو بانکونو څخه ترلاسه شوی حق العضويت، له سوداګريزو بانکونو څخه په ربعواره توګه د کلنۍ حق البيمې (Premium) راټولول او د دې ادارې د پانګې، پانګونه جوړوي:

د افغان اماناتو د بيمې د ادارې(ADIC) د پيسو منابع په ۱۵ جدول کې ښکاره کيږي.

| | |
|---|---|
| ۱ | لومړنۍ او دوراني پانګه |
| ۲ | حق العضويت |
| ۳ | حق البيمه (Premium ) |
| ۴ | د ادارې د فنډ پانګونه |

- **له سوداګريزو بانکونو څخه د حق البيمې (Premium) وضع کول**

د (ADIC) ادارې غړي سوداګريز بانکونه د افغانستان بانک د مالي چارو د څارنې د لوی آمريت لخوا څارل او څېړل کيږي چې دا بانکونه د خپلو کړنو د کچې له مخې په ټاکلې کټګوريو (CAMEL Rating) ډله بندي شوي چې د همدې ډله بندۍ په بنسټ، د هر بانک د کړنو ګراف تشخيص او تثبيت کيږي.

د (ADIC) ادارې لخوا له سوداګريزو بانکونو څخه د حق البيمې (Premium) د وضع کولو طريقه داسې ده چې لومړی د افغان اماناتو د بيمې (ADIC) ادارې د غوښتنې پر بنسټ، د سوداګريزو بانکونو د بنسټيزو اماناتو د راپور يو کاپي د مالي چارو د څارنې د آمريت لخوا دې ادارې ته ليږل کيږي او وروسته د هر بانک د کيمل ريټينګ په پام کې نيولو سره او د يو ټاکلي فورمول چې (ADIC) ادارې مخکې له بانکونو سره پرې موافقه کړې، په پلې کيدو سره دا اداره هر کال د ځلورو ربعو په ترڅ کې د سوداګريزو بانکونو له حسابونو څخه خپله حق البيمه (Premium) وضع کوي.

له بانکونو څخه د حق البيمې د وضع کولو د سلنې پروسه څو ځله بدلون کړی دی چې (ADIC) ادارې د بانکونو ترمنځ د رقابتي انګيزې د رامنځ ته کولو او د خطرونو د راکمولو په موخه دا طريقه د نړيوالو مطالعاتو او پرنسيپونو، د رياست د حکمونو او د افغانستان بانک د عامل پلاوي د تصويبونو پر بنسټ پر سوداګريزو بانکونو باندې پلې کړې ده چې اوس مهال (ADIC) اداره له ۱۶ جدول سره سم له بانکونو څخه خپله حق البيمه راټولوي.


| د بانکونو ډله بندي (CAMEL Rating) | د حق البيمې (Premium) د وضع کولو لپاره سلنه |
|---|---|
| ۱ | ۰.۱۳٪ |
| ۲ | ۰.۱۵٪ |
| ۳ | ۰.۱۸٪ |
| ۴ | ۰.۲۳٪ |
| ۵ | ۰.۲۵٪ |

دا اداره د سوداګريزو بانکونو له حسابونو څخه حق البيمه (Premium) خپل حساب ته وضع کوي چې په لاندې ډول يې مهم ټکي ذکر کيږي:

الف: د ۱۳۹۳ کال په اوږدو کې له سوداګريزو بانکونو څخه د ADIC حساب ته راټوله شوی حق البيمه


هغه پيسې چې د ۱۳۹۳ کال په اوږدو کې له سوداګريزو بانکونو څخه د افغان اماناتو د بيمې د ادارې (ADIC) حساب ته راټولې شوي (۳۶۰،۹۶۹،۱۶۴) ( درې سوه او شپېته ميليونه او نهه سوه نهه شپېته زره او يو سلو څلور شپېته) افغانۍ ته رسيږي چې په ۱۷ جدول او ۲۴ ګراف کې ښودل شوي دي:

| د ۱۳۹۳ مالي کال په ترڅ کې د سوداګریزو بانکونو له حسابونو څخه وضع شوې حق البیمه (Premium) ( د ۱۳۹۲ له مرغومې څخه د ۱۳۹۳ تر مرغومې پورې) | | |
|---|---|---|
| ځلورمه ربع | ۹۴،۵۲۲،۲۴۲ | د ۲۰۱۴ جنوري، فبروري او مارچ |
| لومړی ربع | ۹۸،۰۷۹،۲۶۸ | د ۲۰۱۴ اپریل، می او جون |
| دویمه ربع | ۸۲،۲۹۹،۸۲۱ | د ۲۰۱۴ جولای، اګست او سپتمبر |
| دریمه ربع | ۸۶،۰۶۷،۸۳۲ | د ۲۰۱۴ اکتوبر، نومبر او ډسمبر |
| | | |
| مجموعه | ۳۶۰،۹۶۹،۱۶۴ افغانۍ | |




ب: له پیل څخه تر اوسه پورې د راټولې شوې حق البیمې کچه:

هغه حق البیمې چې له سوداګریزو بانکونو څخه د (ADIC) د اداري حساب ته د تأسیسیدو له پیل څخه تر اوسه پورې راټولې شوې دي شاوخوا ۱،۵۹۱،۶۹۴،۴۱۶ ( یو میلیارد او پنځه سوه او یو نوي میلیونه او شپږ سوه او څلور نوي زره او څلور سوه شپاړس) افغانۍ ته رسیږي چې په ۲۵ ګراف کې ښکاره کیږي:




- **د افغان اماناتو د بیمې اداري(ADIC) د پیسو د پانګه اچونې پروسه:**


د افغان اماناتو د بیمې اداري د خپلو پیسو د خوندیتوب او په یو خوندي ځای کې چې له خطره پاک وي د دې پیسو د پانګونې لپاره د افغانستان بانک د ریاست د هوکړې په پام کې نیولو سره د افغانستان بانک عالي شورا ته د بازار عملیات مدیریت له لارې وړاندیزونه وکړ چې د لومړي ځل لپاره د افغانستان بانک د عالي شورا د تصویب له مخې د افغان اماناتو د بیمې اداري پیسو د افغانستان بانک د بیه لرونکو پاڼو د مقررې په دویمه ماده کې د (Applicability) عنوان په زیاتیدو سره د افغانستان بانک په بیه لرونکو پاڼو کې د ګډون اجازه ترلاسه کړې چې له هغه وخته تر اوسه پورې د دې اداري ټولې پیسې د بیډینګ(Bidding) له لارې د ټاکلو مودو یو کلن او شپږ میاشتني او د ورکړل شویو نرخونو د سلنو په درلودلو سره د ګمارل شوې کمیټې تر نظر لاندې د افغانستان بانک په بیه لرونکو پاڼو کې په پانګه اچول کیږي چې ګټه یې هم د دې اداري حساب ته لیږدول کیږي.

کله چې په بیه لرونکو پاڼو (کپیټل نوټ) کې د دې اداري د

پیسو د پانګونې موده (یو کال او شپږ میاشتې) پای ته ورسیږي، په بیه لرونکو پاڼو کې د دې ادارې پیسې په نوبتي بڼه پرته له کوم ځنډه د بنډینګ په پروسه کې په ګډون سره بیا په پانګه اچول کیږي چې له دې لارې د (ADIC) ادارې د افغانستان بانک په څو بیډینګونو کې ګډون کړی او خپلو راتلونکو موخو ته د رسیدو لپاره یې ډېره ګټه هم ترلاسه کړې ده.

- **د افغانستان بانک په بیه لرونکو پاڼو کې د (ADIC) د پیسو پانګونه**

د (ADIC) ادارې په ټولیزه توګه ۳۲ ځله د افغانستان بانک د بیه لرونکو پاڼو په بیډینګ کې چې د بازار عملیات د لوی مدیریت لخوا په لار اچول کیږي، ګډون کړی چې له هغه ډلې په ۲۶ کې ګټونکی شوی او په ۶ مزایدو کې ګټونکی شوی نه دی. دا مبلغونه د بېلا بېلو نرخونو په سلنو او مودو سره په یو کلن او شپږ میاشتني بیه لرونکو پاڼو کې په ۲۶ ګراف کې وړاندې کیږي:




څرنګه چې په پورته جدول کې ښکاره کیږي، په ټولیزه توګه ۱،۲۶۰،۲۸۱،۲۴۰.۶۰ افغانی په شپږ میاشتني(۱۸۲ ورځني) بیه لرونکو پاڼو کې او ۱،۲۰۴،۷۳۴،۷۲۴.۲۱ افغانۍ په یو کلن (۳۶۴ ورځني) بیه لرونکو پاڼو کې په پانګه اچول شوي دي چې د پورته مبلغونو د پانګونې له درکه ۱۱۶،۳۲۸،۸۳۲ افغانۍ ګټه (Interest) د (ADIC) ادارې حساب ته زیاته شوې چې اوس مهال د دې ادارې هغه پیسې چې تر پانګونې لاندې دي، په ټولیزه توګه ۲،۵۸۱،۳۴۴،۷۹۷.۶۰ افغانۍ ته رسیږي.

- **د افغان اماناتو د بیمې د ادارې(ADIC) د قانون او حقوقي حیثیت پروسه**

د افغان اماناتو د بیمې ادارې (ADIC) د جوړیدو له پیل څخه تر اوسه پورې د افغانستان بانک د حقوقي مشاوریت د دفتر په تفاهم او د افغانستان بانک د لوی ریاست تر لارښوونو او هدایت لاندې د خپل حقوقي او قانوني حیثیت د پروسې د بښې په برخه کې ډېر اجراات ترسره کړي دي څو د دې ادارې د قانون موضوع ژر تر ژره تصویب او بشپړه شي، څو د ځینو موضوعاتو، د نوم او د هغه د کاري طریقو په اړه د قانون د تصویبوونکو مراجعو د نظر د اختلافونو پر بنسټ، په پایله کې دې ادارې د افغانستان بانک د حقوقي مشاوریت د دفتر او د اړوندو ادارو په هوکړې سره، پرېکړه وکړه څو د دې ادارې قانون د افغانستان بانک د قانون په متفرقه باب په څو مادو کې راونغاړل شي.

د (ADIC) اداره د دې ادارې د نوي قانون د موضوع په اړه د حقوقي مشاوریت له دفتر سره وخت په وخت په اړیکه کې دی او د دې ادارې قانون اوس مهال د مطالعې او کتنې په موخه واکمنو مراجعو ته صادر شوی دی او د اړوندو ادارو له کتنې وروسته به تصویب او نهایي شي چې وروسته به اړوندې مقررې او پالیسی د دې ادارې لخوا د حقوقي مشاوریت د دفتر او اړوندو ادارو په همکارۍ سره ترتیب شي او د دې ادارې اجراات به د قانون پر بنسټ ترسره شي.

د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز

# د افغانستان د مالي معاملو او راپوررونو د څېړنې مرکز

د افغانستان د مالي معاملو او راپوررونو د څېړنې مرکز د نړيوالو معيارونو او د ملګرو ملتونو د پلارمو (Palermo) او ويانا (Vienna) د تړونونو پر بنسټ او د پيسو د تطهير او له جرمونو څخه د ترلاسه شويو عوايدو پر وړاندې د مبارزې د قانون د نولسمې مادې له حکم سره سم د افغانستان بانک په اډانه کې په ۱۳۸۵ کال کې تاسيس شوی. که څه هم د دې ادارې له جوړېدو څخه ډېره موده نه ده تيره شوې، خو بيا هم توانيدلی چې د پيسو د تطهير او د تروريزم د تمويل پر وړاندې د مبارزې د قوانينو په رڼا کې په بېلا بېلو برخو کې د پام وړ لاسته راوړنې ترلاسه کړي. په دی موده کی د افغانستان د مالي معاملو او راپوررونو د څېړنې مرکز توانيدلی څو پر بانکونو او د پولي خدمتونو پر وړاندې کوونکو باندې د پيسو د تطهير او د تروريزم د تمويل پر وړاندې د مبارزې د معيارونو د تطبيقولو په برخه کې د پام وړ څارنه ترسره کړي. دا مرکز په دې برخه کې د زياتو او جدي ننګونو او ستونزو سره په جدي توګه د څارنيزې کچې د پرمختيا او د دې ننګونو د له منځه وړلو په حال کې دی.

د لا وضاحت په موخه د ۱۳۹۳ کال په اوږدو کې د دې مرکز له کړنو او اجرااتو څخه يادونه کوو:

۱. په کابل کې د حواله لرونکو له بېلابېلو برخو څخه د څېړنيزو سرويګانو ترسره کول او د مارکيټونو له رئيسانو سره لومړنۍ ليدنې.

۲. د حوالې، شته مارکيټونو له وضعيت څخه د ستراتيژيکو راپوررونو جوړول او د حواله لرونکو د راپور ورکونې د احصائيو څېړل.

۳. حواله لرونکو لپاره د قوانينو د تطبيق د ګټو د پوهيدو او د هغه د پيروۍ په موخه د دريو روزنيزو ورکشاپونو جوړول.

۴. د پيسو د تطهير او د تروريزم د تمويل پر وړاندې د مبارزې او د افغانستان د مالي معاملو او راپوررونو د څېړنې مرکز ته د راپور ورکولو د سيستم په برخو کې د ننګونو او ستونزو د موندلو او د تخنيکي او مسلکي همکاريو د برابرولو په موخه د حوالې د مارکيټونو له رئيسانو سره د ربعوارو غونډو جوړول.

۵. د بانکونو د راپور ورکولو د څېړنې د بهير پيلول چې د کيفيت او کميت څېړنه او له معيارونو او قوانينو سره د راپور ورکولو جوړښت رانغاړي. اوس مهال دې ادارې د دريو بانکونو (آرين بانک، ميوند بانک او باختر بانک) د شکمنو معاملو د راپوررونو د څېړلو ترڅنګ د خپل څېړنيزې پروژې تر کار لاندې نيولي دي. له دې بهير څخه ترلاسه شوې پايلې به د ننګونو او ستونزو د پېژندلو او د اوسنيو ننګونو د له منځه وړلو په موخه د تطبيقي او عملياتي طرح له جوړېدو سره يوځای وړاندې شي.

۶. د پيسو د تطهير او د تروريزم د تمويل پر وړاندې د مبارزې د قوانينو د رعايتولو او پيروۍ د کميټې د جوړېدو طرح. دا طرح چې په تخنيکي ډول د ننګونو پېژندل، په اړه يې بحث، د دوي د له منځه وړلو لپاره د لارو چارو وړاندې کول، د قوانينو د يو شان رعايت او تطبيق لپاره د ملي همغږۍ را منځ ته کول رانغاړي، تر کار لاندې ده چې په نږدې راتلونکې کې به نهايي او اجراء شي.

۷. د سرحدي اسعارو د راپور ورکولو د فورمو د تعديلولو طرح ( د قانوني، ملي او نړيوالو معيارونو سره سم د سرحدي اسعارو د فورمو نوې نسخه له مخکې څخه بشپړه او د تطبيق وړ ده) .

۸. د سرحدي اسعارو د قضيو د ثبتولو د اطلاعاتي بانک طرح او تطبيقول. دا ډيټابيس اوس مهال د کابل او مزار شريف د نړيوال هوايي ډګر په منځنۍ ساحه کې د تطبيق په حال کې دی. ياد شوی ډيټابيس د مرتکبينو د حالاتو او جزئياتو له شرحې سره يو ځای د قضيو د ثبت او د نغدو پيسو د پټو قضيو د کره احصائيې د وړاندې کولو، د نغدو پيسو د ليږدولو، د پيسو د قاچاق او داسې نورو اړوندو مواردو په موخه جوړ شوی دی. د افغانستان د مالی استخباراتو اداره په پام کې لري څو دغه ډيټابيس د هرات او کندهار د هوايي ډګرونو په منځنۍ برخه کې هم عملي او تطبيق کړي.

۹. د ملګرو ملتونو د سازمان د فساد پر وړاندې د مبارزې د کنوانسیون پر بنسټ د افغانستان د Self-Assessment د ارزونې په غونډه کې برخه اخیستل چې په پایله کې د دې مرکز استازی د مالي هېواد د ارزونکي بورډ د غړي په توګه وټاکل شو.

۱۰. د سزا د قانون د تعدیل او سمون په غونډه کی د افغانستان د مالی معاملو او د څېړنې د مرکز ونډه اخیستل.

د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز د افغانستان د پیسو د تطهیر او د تروریزم د تمویل په رژیم کی د شاملو نهادونو او ادارو د ظرفیت د لوړولو په برخه کې فعاله ونډه درلوده چې له څو لاندې مواردو څخه یې یادونه کوو:

- حواله لرونکو لپاره د دوامداره روزنیزو ورکشاپونو جوړول او دوی د الکترونیکي راپورونو لیږدولو ته هڅول.
- د څارنوالی د ادارې، د کورنۍ چارو د وزارت د حساسو څېړنو، د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې، د پلان شویو جرمونو او د درندو جرمونو د برخو په شمول د قانون تنفیذوونکو ادارو ته د روزنیزو ورکشاپونو جوړول.
- د قوانینو د تصویب لپاره د زمینې د برابرولو په موخه د ملي شورا غړو ته د روزنیزو ورکشاپونو جوړول.

**د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې مرکز او نړیوال همکارۍ**

د افغانستان د مالي معاملو او راپورنو د څېړنې د مرکز د پیسو د تطهیر او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو پر وړاندې د مبارزه د قانون د ۲۷ مادې پر بنسټ په ۲۰۰۸ کال کې په کار پیل کړی او له اړوندو بهرنیو ادارو سره یې خپلې اړیکې ټینګې ساتلي دي چی وروسته یې د دې اړیکو د ټینګولو او پیاوړتیا لپاره، په ۲۰۱۰ کال کې د (Egmont Group) نړیوال سازمان غړیتوب ترلاسه کړی.

د دې ادارې مهمه موخه د همغږۍ را منځ ته کول، د نړیوالو ادارو ترمنځ د مالي معلوماتو د تبادلې په برخه کې د همکاریو لوړول، د ملي قوانینو د موادو او د نړیوالو معیارونو پر بنسټ د هوکړه لیکونو او د معلوماتو د تبادلې طرح او تطبیق جوړوي.

۱۸ جدول د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې د مرکز د ترلاسه شویو او لیږدول شویو مالي معلوماتو د غوښتنلیکونو احصائیې ښکاره کوي.

| نېټه | ۲۰۰۸ | ۲۰۰۹ | ۲۰۱۰ | ۲۰۱۱ | ۲۰۱۲ | ۲۰۱۳ | ۲۰۱۴ | ټولیزه غوښتنلیکونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مالي معلوماتو لپاره ترلاسه شوي غوښتنلیکونه | ۱۵ | ۲۵ | ۲۲ | ۵۴ | ۶۱ | ۵۰ | ۴ | ۲۳۱ |
| د مالي معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره استول شوي غوښتنلیکونه | ۰ | ۰ | ۱۸ | ۷ | ۸ | ۲۸ | ۱ | ۶۲ |

له نورو هېوادونو سره د مالي همکاریو لاسلیک شوي هوکړه لیکونه په ۱۹ جدول کې ښکاره کیږي:

| |
|---|
| د امریکا متحده ایالات |
| بنګله دیش |
| بلاروس |
| قرغیزستان |
| منګولیا |
| روسیه |
| ترکیه |
| بریتانیا |
| سعودي عربستان |

د افغانستان د مالي معاملو او راپورنو د څېړنې مرکز د قانون د تنفیذوونکو ادارو د غوښتنلیکونو پر بنسټ له ۲۰۰۷ کال څخه تر اوسه پورې ۹۲۲ بېلابېل غوښتنلیکونه ځواب کړي دي چې د حقیقي او حکمي اشخاصو په اړه د معاملو او معلوماتو څېړنه رانغاړي.

۲۰ جدول، د درخواست کوونکې ادارې او د اړوند کال په تفکیک سره د غوښتنلیکونو شمېر ښکاره کوي:


| د ادارې نوم | ۲۰۰۷ | ۲۰۰۸ | ۲۰۰۹ | ۲۰۱۰ | ۲۰۱۱ | ۲۰۱۲ | ۲۰۱۳ | ۲۰۱۴ | مجموع |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د لویې څارنوالی اداره | | ۲ | ۳۰ | ۳۱ | ۴ | ۴ | ۹ | ۲ | ۸۲ |
| د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې د معینیت د ځانګړو قطعو قوماندانې | | | ۱ | ۲ | ۲ | ۲ | ۶ | | ۱۳ |
| د مالي استخباراتو اداره | | | | | | ۱ | ۴ | | ۵ |
| د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د ستراتیژی پر تطبیق باندې د څارنې عالي اداره | | | | ۸ | ۱۹ | ۳۴ | ۱۷ | ۲ | ۸۰ |
| د پلان شويو جرمونو د کشف په برخه کې د درنو جرمونو پر وړاندې د مبارزې رياست | | | | | | ۱۸ | ۵ | | ۲۳ |
| د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د درنو جرمونو پر وړاندې د مبارزې رياست | | | | ۱۴۶ | ۷۹ | ۵۲ | ۲۵ | ۹ | ۳۱۱ |
| د ملي امنیت د سترو جرمونو ۸۸ اداره | | | ۱۷ | ۴۰ | ۴۵ | ۳۱ | ۲۱ | | ۱۵۴ |
| د کورنیو چارو وزارت | | | | ۳ | | ۲ | ۱ | ۱ | ۷ |
| د ملي امنیت ۱۲۴ اداره | | | | | | ۳ | ۷ | ۶ | ۱۶ |
| د ملي امنیت ۸۲ اداره | | | | | | ۱۳ | ۱ | ۲ | ۱۶ |
| د ملي امنیت د ۹۰ اداره | | | | | | ۱ | | | ۱ |
| د ملي امنیت شورا | | | | | | ۲ | | | ۲ |
| د مالیې وزارت د عوایدو رياست | | | | ۲ | | | ۱ | | ۳ |
| د کورنیو چارو د وزارت د حساسو څېړنو اداره | ۱۳ | ۱۰ | ۴۰ | ۷۷ | ۴۵ | ۵ | ۲ | ۲ | ۱۹۴ |
| د ګمرکونو رياست | | | | | ۱ | | | | ۱ |
| انترپول | | | | | | ۲ | | | ۲ |
| د ملي امنیت ۷۴ اداره | | | ۵ | ۵ | ۱ | | | | ۱۱ |
| نور | | | | | | | ۱ | | ۱ |
| مجموعه | ۱۳ | ۱۲ | ۹۳ | ۳۱۴ | ۱۹۶ | ۱۷۰ | ۱۰۰ | ۲۴ | ۹۲۲ |


هغه څوابونه چې په ۲۰۱۲، ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کلنو کې د اصلي او مهمو جرمونو پر بنسټ د قانون تنفیذوونکو ادارو ته وړاندي شوي دي، په لاندې جدول کی توضیح کیږي:

| اصلي جرمونه | ۲۰۱۲ | ۲۰۱۳ | ۲۰۱۴ | مجموعه |
|---|---|---|---|---|
| د شتمنیو ثبت | ۴ | ۶ | ۲ | ۱۲ |
| فساد او بډې اخیستل (اداري فساد) | ۱۲۰ | ۵۴ | ۸ | ۱۸۳ |
| د نشه یي توکو او نشه یي درملو قاچاق | ۵ | ۸ | ۲ | ۱۵ |
| د اسنادو جعل | | ۳ | ۱ | ۴ |
| درغلي، جعل او دوکه | ۱ | ۶ | ۲ | ۹ |
| د انسان قاچاق | | ۱ | | ۱ |
| خلک تختونې، غیر قانوني بندیزونه او برمته کول | | ۱ | | ۱ |
| د پیسو وینځل | ۱۳ | ۹ | ۱ | ۲۳ |
| پلان شوي جرمونه | ۱ | | | ۱ |
| د تروریزم تمویل | ۸ | ۷ | ۶ | ۲۱ |
| د الکترونکي معاملو جعل | | ۲ | | ۲ |
| سرقت یا غلا | | | ۱ | ۱ |
| نور | | ۲ | ۱ | ۳ |
| مجموعه | ۱۵۲ | ۹۹ | ۲۴ | ۲۷۶ |

دلته د افغانستان بانک د سیمه ایزو زونونو په همکارۍ د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې د مرکز لاسته راوړنې په لنډه توګه وړاندې کوو.

- د افغانستان بانک په لویدیځ، شمال، ختیځ، سویل ختیځ، سویل لو یدیځ سیمه ایزو زونونو کې د پولي خدماتو ۴۶۵ تنو وړاندې کوونکو ته د جواز ورکول چې سویل لویدیځ زون د پیسو د تطهیر او د تروریزم د تمویل پر وړاندې د مبارزې د قوانینو د پلي کیدو له پلوه دې مرکز لپاره له ننګونو ډک زون ګڼل کیږي، چې ۲۷ او ۲۸ ګرافونه په دې برخه کې شمېرې وړاندې کوي.






- د افغانستان بانک په لویدیځ، شمال، ختیځ او شمال ختیځو سیمه ایزو زونونو کې د پولي خدمتونو د ۲۲۹ تنو د وړاندې کوونکو د الکترونیکي راپور ورکونې پلي کول او همدا ډول د سوېل لویدیځ او سوېل ختیځو سیمه ایزو زونونو د پولي خدمتونو په ۴۱ تنه وړاندې کوونکو باندې د کتبي راپور ورکونې تطبیقول.
- د مزار شریف له نړیوال هوایي ډګر څخه د پیسو د لېږدولو د بهیر د څارنې او څېړنې په موخه د دوه نویو سیمه ایزو کارکوونکو او په لویدیځ زون کې د یو کارکوونکي او په سوېل ختیځ زون کې د یو بل کارکوونکي ګمارل.
- د کندهار ولایت د مارکیټونو څارل او د پولي خدمتونو د غیر قانوني وړاندې کوونکو د پیژندلو په موخه د غزني ولایت د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو له مارکیټونو څخه د سرویګانو ترسره کول او هغوي ته د جواز ورکول.

د افغانستان د مالي معاملو او راپوروونو د څېړنې مرکز د ۱۳۹۳ مالي کال په ترڅ کې د معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې لاندې کړنې درلودلي دي چې په لنډه توګه ترې یادونه کوو:

- د افغانستان د مالي معاملو او راپوروونو د څېړنې د مرکز په معلوماتي بانک کې د قضیو د مدیریت Case Management د سیستم طرح او جوړول.
- د دې سیستم جوړېدو، د قضیو مدیریت او د څېړنې پر چارو او د مدیریت د اړوندو نورو مواردو د څارنې بهیر او د احصائیې ترلاسه کول آسانه او ګړندي شوي دي.
- په مرکز کې د افغانستان د مالي معاملو او راپوروونو د څېړنې د مرکز ټولو حواله لرونکو او استازو لپاره د الکترونیکي راپور ورکولو د سیستم طرح او جوړول.
- له راپور ورکړل شویو ادارو څخه د رارسیدلو راپوروونو د ډله بندۍ د سیستم طرح او جوړول او همدا ډول د قوانینو د تنفیذوونکو ادارو د معلوماتي غوښتنلیکونو ډله بندي کول.
- درخواست کوونکو ادارو سره د محرمیت د ساتلو په موخه د خوندي الکترونیکي معلوماتو د تبادلې د سیستم طرح او جوړول.
- د افغانستان د مالي معاملو او راپوروونو د څېړنې د مرکز اطلاعاتي بانک ته د څارنې او د پلټنې د لاس رسي د سیستم طرح او جوړول.

# د مالي او محاسبې لوی آمریت

# د مالي او محاسبې لوی آمریت

د مالي او محاسبې لوی آمریت د مالي او محاسبې د مسائلو د مدیریت مسؤولیت لري او د اوږد مهاله، ستراتیژیک او د بودجې پلان ترتیبول د دې آمریت له مسوولیتونو څخه ګڼل کیږي. د مالي او محاسبې لوی آمریت د بودجې د کنټرول او د شفافه راپور ورکولو له لارې، عملاً په داخلي کنټرول کې مهم رول لوبولی دی. د پورته مسؤولیت تر څنګ، د افغانستان بانک عامل پلاوي ته د راپور چمتو کول د دې آمریت له دندو څخه شمېرل کیږي. دا راپور چې داخلي مهمې او محرمې شمېرې رانغاړي د پیسو نړیوال صندوق ته د راپورونو په وړاندې کولو او ترتیبولو ترې ګټه اخیستل کیږي.

د افغانستان بانک د قانون له نهمې مادې شپاړسمې فقرې سره سم، عالي شورا د افغانستان بانک د تصمیم نیولو او پالیسی جوړولو د تر ټولو لوړې مرجع په توګه د بودجې د تصویب مسؤولیت په غاړه لري.

**د بودجې جوړښت**

د افغانستان بانک بودجه له عادي او پرمختیایي بودجې څخه جوړه ده. د افغانستان بانک بودجه نورې اجزاوې او عناصر لکه د عوایدو بودجه، د پانګې بودجه، د لګښتونو بودجه، د مصرف بودجه او د استهلاک بودجه هم لري چې له ځینو څخه یې په لنډ ډول یادونه کوو.

**د عوایدو بودجه:** د عوایدو بودجه له کمیشنونو، ټکټانو، واقعي او غیر واقعي ګټو څخه جوړه ده.

**د لګښتونو بودجه:** د لګښتونو بودجه د امتیازونو، د بانکنوټونو د چاپ، سفرونو، فیس او کمېشن، د ودانۍ د ساتلو او مراقبت، خوراک/ روزنې او د ظرفیتونو د لوړولو، د واقعي او غیر واقعي زیانونو لګښتونه رانغاړي.

**د پانګې بودجه:** د پانګې بودجه منقولې ثابتې شتمنۍ، جایدادونه/ ودانۍ، کارکوونکو ته د پور ډولونه او داسې نورې برخې رانغاړي.

د بودجې شمېرې د افغانستان بانک د ټولو آمریتونو کلنۍ اجرائیوي پروګرامونه منعکسوي. دا شمېرې د آمریتونو د اجرااتو پلان په هغه پولي مبلغونو کې ښکاره کوي چې په اړونده کوډونو کې یې درج شوي، دا مبلغونه کېدای شي اټکلي او غیر اټکلي وي.


بودجه له زونونو څخه د رارسیدلو شمېرو پر بنسټ چمتو، ترتیب او توحیدیږي چې زونونه دا شمېرې له اړوندو نمایندګیو څخه ترلاسه کوي. د بودجې ټول کوډونه له زونونو، نمایندګیو او د مرکز د برخو څخه راټولې شوې شمېرې ښکاره کوي.

**د ۱۳۹۳ کال د بودجې راپور**

د عالي شورا د مالي کال د څلورمې ربعې له غونډې درې میاشتې مخکې، عملاً د بودجې د ترتیبولو بهیر پیل کیږي. مالي لوی آمریت د نورو شعبو د اړتیا وړ پیژندل شویو منابعو په پام کې نیولو سره، هغه ډله بندي، ترتیب او توحیدوي.

له ترتیب او نهایي کیدو وروسته، بودجه د کتنې او ارزونې لپاره د بودجې کمیټې ته وړاندې کیږي. ګمارل شوې کمیټه له تخنیکي ارزونو او د لازمو تعدیلاتو له رامنځ ته کولو وروسته هغه له وړاندیزونو سره یو ځای د بودجې مدیریت ته استوي او د تائیدیدو په صورت کې د افغانستان بانک عامل پلاوي او عالي شورا ته د نهایي تصویب په موخه وړاندې کیږي.

۲۹ ګراف د بودجې د شقوقو زياتوالى او كموالى ښكاره كوي.




## عايداتي شقوق

د عوايدو په شقوقو كې يوه شامله برخه د كمېشنونو عوايدو برخه ده، د كميشنونو شقوق د مالي كنټرول كمېشنونه، د جاري حساب پرانيستل، چكبوكونه، سويفټ، د پانګې ليږد، د ډالرو او نورو اسعارو د پلور پر وړاندې جريمه، د ډالرو د مبادلې پر وړاندې جريمه او متفرقه كميشنونه رانغاړي. د ۱۳۹۳ كال حقيقي شمېرې د كميشن په شقوقو كې د پلان شوې بودجې له مخې ۱۶ سلنه ټيټوالي ښكاره كوي چې د دې ټيټوالي لامل د افغانۍ په ارزښت كې بدلونونه او د كميشنونو په مقرره (پاليسۍ) كې بدلونونه دي.


د رمپ (RAMP) له پروژې څخه ډالري ترلاسه شوي عوايد، په بهرنيو بانكونو كې د اماناتو او د معامله لرونكو بانكونو له دركه ټكټانه او همدا ډول د بيه لرونكو پاڼو په پيرلو كې تخفيف د اسعاري پانګې د ټكټاني عوايد ګڼل كيږي. د ۱۳۹۳ كال حقيقي شمېرې د بهرنيو اسعارو د پانګونو له پلوه د ټكټاني د عوايدو په شقوقو كې د پلان شوي بودجې له مخې ۳۲ سلنه ټيټوالى ښكاره كوي چې د دې ټيټوالى لامل په نړيوالو بازارونو كې د كاري معاملو ټيټوالى دى.

د اسعارو د مبادلې له پلوه نا ترلاسه شوي عوايد د پلان شوي بودجې له مخې ۱۰۶ سلنه ټيټوالى ښكاره كوي چې د دې ټيټوالي لامل په نړيوال بازار كې د نرخونو ښكته راتلل دي.

د اسعارو د مبادلې له دركه د ترلاسه شويو(تحقق موندونكو) عوايدو شقوق د پلان شوې بودجې له مخې ۲۵ سلنه ټيټوالى موندلى دى چې دا ټيټوالى هم په بازار كې د افغانى پر وړاندې د ډالرو د نرخ د ټيټيدو له امله دى.

نور عوايد چې د نوي اسعاري حساب د پرانيستلو فيس، په هوكړه ليكونو كې د ځنډ په موخه جريمه، د مرستو له كبله عوايد، د مالي ادارو پر وړاندې جريمه، د كرايې عوايد، د بانكونو د څارنې فيس، د بانكونو د مالي وضعيت كنټرول، د جايدادونو عوايد، د فزيكي پيسو د ليږد فيس، د الكترونيكي پيسو د خدماتو د اداري كلني عوايد او داسې نور عوايد په بر كې نيسي، د ۱۳۹۳ كال حقيقي شمېرې يې د پلان شوي بودجې له مخې ۲۰۷ سلنه زياتوالى ښكاره كوي چې د دې زياتوالي لامل پر بانكونو د فيس لوړوالى دى.

۳۰ ګراف د ۱۳۹۳ كال د عوايدو شقوق ښكاره كوي.




## لګښتي شقوق


په لګښتي شقوقو كې له شاملو برخو څخه يو هم پرسونلي شقوق دي چې د معاشونو، د اضافه كارۍ، د هڅوونكو امتيازونو، د مرستو او تقاعد شقوق رانغاړي. د ۱۳۹۳ كال

حقیقي شمېرې په پرسونلي شقوقو کې ۴ سلنه ټیټوالی په ګوته کوي چې د پلان شوې بودجې له مخې جزوي بدلون ښکاره کوي.

عملیاتي شقوق متفرقه عملیاتي لګښتونه رانغاړي. د ۱۳۹۳ کال حقیقي شمېرې په ځینو برخو کې زیاتوالی او په ځینو برخو کې ټیټوالی ښکاره کوي چې په ټولیزه توګه د پلان شوې بودجې له مخې یې ۲۴ سلنه ټیټوالی موندلی دی.

د احتیاطي عملیاتي او د ناڅاپي/ احتمالي پیښو د لګښتونو شقوق په ۱۳۹۳ کال کې د پلان شوې بودجې په نورو شقوقو کې شامل دي.

۳۱ ګراف د ۱۳۹۳ کال لګښتي شقوق ښکاره کوي.




## پانګه ایزه شقوق

د مخارجو شقوق پرمختیایي (اثاثیه او تجهیزات)، تعمیراتي پرمختیایي، احتیاطي پرمختیایي او کارکوونکو ته د پور ورکړې شقوق رانغاړي.


پرمختیایي برخه (اثاثیه او تجهیزات) فرنیچر او اثاثیه، برېښنایي سامان الات، موټرونه، کمپیوټر او پرنټر، د ټکنالوژۍ د وسایلو تجهیزات، د متفرقه برخې تجهیزات او پوستکالی (سافټ ویر) په بر کې نیسي. د ۱۳۹۳ کال حقیقي شمېرې په یاد شقوق کې د پلان شوې بودجې له مخې ۹۹ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي چې دا ټیټوالی د قراردادونو په لاسلیک کې د ځنډ، د قرارداد لاسلیک کولو لپاره د شرکتونو د نه حاضرېدو او د سم بودجوي پلان د نه شتون له امله رامنځته شوی دی. په تعمیراتي پرمختیایي شقوق کې تر لاسه شوې شمېرې د مرادخانی په ځمکه کې د افغانستان بانک د نوې ودانۍ طرح او ډیزاین، د نمایندګیو احاطې او یا ودانۍ لپاره د ځمکې پېرېدل، نمایندګیو لپاره د ودانۍ جوړول، د مرکز او نمایندګیو د اړتیا وړ رغول او ترمیمول او نورې تعمیراتي چارې په بر کې نیسي چې د مرکز او نمایندګیو د موقعیتونو له مخې وېشل شوې دي.

د ۱۳۹۳ کال حقیقي شمېرې په یادو شقوق کې د پلان شوې بودجې له مخې ۴۷ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي چې د پاتې پیسو د نه لګښت لامل شته خنډونه لکه ملکیت/ځمکې ته نه لاسرسي، امنیتي ستونزې، تخنیکي ستونزې، په نمایندګیو کې د قراردادونو نه موجودیت او داسې نور موارد دي.

احتیاطي پرمختیایي شقوق په ۱۳۹۳ کال کې حقیقي شمېرې او مخارج نه درلوده او پلان شوې بودجه نه ده لګول شوې ځکه چې د افغانستان بانک له دا ډول حالاتو سره نه دی مخ شوی.

کارکوونکو ته د پور ورکړې شقوق هغه بیلا بېل پورونه رانغاړي چې د افغانستان بانک کارکوونکو ته ورکول کیږي چې د ۱۳۹۳ کال حقیقي شمېرې یې ۵۰ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

۳۲ ګراف د ۱۳۹۳ کال د مخارجو شقوق ښکاره کوي.




وروسته له هغې چې د افغانستان بانک عالي شورا مامورینو ته د کور پېرېدنې اوږد مهاله پور تصویب کړ، په دې اړه د پور د شقوق د تعدیل لپاره وړاندیز وشو چې د افغانستان بانک د عالي شورا د (۳۸) ګڼې د ۱۳۹۳/۷/۶ نېټې تصویب سره سم مامورینو ته د پور په شقوق کې تعدیلي مبلغ ورزیات شو.

**دافغانستان مرکزی بانک**

**د مالی حالت صورت حساب**

**د ۱۳۹۳م کال د لیندی پر ۳۰مه نیټه ( د ۲۰۱٤ کال د دسامبر میاشتی پر ۲۱مه نیټه)**

| | یاداشتونه | 1393 (2014) (افغانی '۰۰۰) | 1392 (2013) (افغانی '۰۰۰) |
|---|---|---|---|
| **شتمنی** | | | |
| د سرو زرو زیرمی | *8* | ***48,722,845*** | 47,508,874 |
| د بهرنیو اسعارو نقدې زیرمې | *9* | ***57,761,986*** | 28,756,401 |
| د حصول وړ پر بانکونو او مالی موسساتو باندی | *10* | ***187,464,919*** | 260,535,340 |
| پانګونی | *11* | ***125,663,886*** | 62,684,564 |
| د پور ورکونی د وروستۍ مرجع په توګه طلبات | *12* | ***27,731,280*** | 29,139,914 |
| طلبات او نور د حصول وړ شتمنی | *13* | ***1,812,191*** | 1,378,797 |
| پانګه آچونه په ملکیتونه کې | *14* | ***9,000*** | 9,000 |
| ملکیتونه او اثاثیه جات | *15* | ***4,815,248*** | 4,736,184 |
| نه انتقالیدونکی شتمنۍ | *16* | ***5,685*** | 273 |
| نوری شتمنۍ | *17* | ***12,855,043*** | 13,202,523 |
| **ټولی شتمنۍ** | | ***466,842,083*** | 447,951,872 |
| **ورکړی او پانګه ( اکویتی )** | | | |
| **ورکړی** | | | |
| په چلند کې افغانی پیسی | *18* | ***196,980,245*** | 168,796,698 |
| نوی نشر ( ارزښت لرونکی سندونه ) | *19* | ***36,865,995*** | 30,122,669 |
| د تادیی وړ بانکونو او مالی موسساتو ته | *20* | ***64,925,062*** | 53,196,284 |
| بیریدونکو ته د پور ورکړه | *21* | ***85,940,370*** | 110,552,509 |
| نړیوال وجهي صندوق ته ورکړه ( ای . ام . اف ) | *22* | ***37,023*** | 32,268 |
| د متقاعدینو حقوق | *23* | ***1,653,292*** | 1,408,269 |
| بی بدیله مرستی | *24* | ***5,819*** | 6,683 |
| ( پرویژنونه ) او نوری ورکړی | *25* | ***5,947,265*** | 10,623,558 |
| **ټولیزه ورکړی** | | ***392,355,071*** | 374,738,937 |
| **پانګه** | | | |
| مجاز پانګه ( اکویتی ) | *26* | ***19,237,435*** | 18,135,021 |
| بیا ارزښت موندونکی زیرمې | *26* | ***36,992,110*** | 37,167,831 |
| عمومی زیرمه | *26* | ***18,257,467*** | 17,910,083 |
| **ټولی شوی ګټی** | | | |
| **د ورکړو مجموعه** | | ***74,487,012*** | 73,212,935 |
| **ټول ټال ورکړی او پانګه** | | ***466,842,083*** | 447,951,872 |

**له( ا) خخه تر (۳۷) شمیری پوری ضمیموی یاداشتونه د دې مالی صورتحساب بنسټیزی برخی جوړوی**

**سید یونس سادات**
**د افغانستان بانک**
**مالی او حسابی چارو لوی آمر**

**الحاج عیسی خان طراب**
**د افغانستان بانک**
**دوهم مرستیال**

**خان افضل هډه وال**
**د افغانستان بانک**
**لومړی مرستیال او سرپرست**

## د افغانستان بانک

## د ګټې او زیان صورت حساب

**د ۱۳۹۳م کال د لیندی پر ۳۰مه نیټه ( د ۲۰۱٤ کال د دسامبر میاشتی پر ۲۱مه نیټه)**

| | یادښتونه | 1393 (2014) ('000' افغانی) | 1392 (2013) ('000' افغانی) |
|---|---|---|---|
| د ټکټانی عواید | 27 | **1,934,741** | 1,739,096 |
| د ټکټانی لګښت | 28 | **(2,339,971)** | (1,494,809) |
| **خالص عاید د تکټانو له درکه** | | **(405,230)** | 244,287 |
| د کمیشنونو عواید | | **312,267** | 308,083 |
| د کمیشنونو لګښت | | ***(73,077)*** | (126,707) |
| **د فیس او کمیشن خالص ګټه** | | ***239,190*** | 181,376 |
| د بهرنیو اسعارو مبادلې له درکه عواید | | ***2,236,959*** | 10,244,441 |
| پلور ته چمتو شوې شتمنیو له درکه عواید | | ***21,585*** | (18,000) |
| ټول عملیاتی عواید | | ***171,702*** | 98,026 |
| **تولیزه** | | ***2,430,246*** | 10,324,467 |
| **عملیاتی عاید** | | ***2,264,206*** | 10,750,130 |
| پرسونلی لګښت | 30 | ***(1,173,732)*** | (1,050,657) |
| د بانک نوټونو د چاپ لګښت | | **-** | (995,394) |
| نور لګښتونه | 31 | **(391,415)** | (358,771) |
| استهلاک او فرسایشونه | 15&16 | ***(66,744)*** | (61,212) |
| **خالص عملیاتی عاید** | | ***632,315*** | 8,284,097 |
| د بهرنیو اسعارو د مبادلی له درکه غیر حقیقی عواید | | ***817,484*** | 12,455,248 |
| **ګټه/عواید** | | ***1,449,799*** | 20,739,345 |
| **ټولی ګټی او زیان** | | | |
| متقاعدینو د حقونو بیا سنجش له درکه لګښت | 23 | ***(24,721)*** | - |
| د سرو زرو زیرمی بیا ارزښت ټاکنی له درکه ډیروالی | 8 | ***9,954*** | (16,686,722) |
| خرڅلاو ته چمتو مالی شتمنیو له امله دغیر حقیقی ګټه / زیان | | ***(161,091)*** | (32,215) |
| خرڅلاو ته چمتو مالی شتمنیو د اسعارو بدلون له درکه غیر حقیقی ګټه | | ***137*** | - |
| **ټولی ګټی او ضرر** | | ***(175,721)*** | (16,718,937) |
| **ټولیزه ګټه** | | ***1,274,077*** | 4,020,408 |

**له ۱ څخه تر ۳۷ شمیری پوری ضمیموی یاداشتونه د دی مالی صورتحساب بنسټیزی برخی جوړوی.**

| | | |
|---|---|---|
| **سید یونس سادات** | **الحاج عیسی خان طراب** | **خان افضل هډه وال** |
| **د افغانستان بانک** | **د افغانستان بانک** | **د افغانستان بانک** |
| **مالی او حسابی چارو لوی آمر** | **دوهم مرستیال** | **لومړی مرستیال او سرپرست** |

د افغانستان مرکزی بانک

د نقدی بهیر صورت حساب

د ۱۳۹۳م کال د لیندی پر ۳۰مه نیټه ( د ۲۰۱٤ کال د دسامبر میاشتی پر ۲۱مه نیټه)

| | یادداښتونه | 1393 (2014) ('000' افغانی) | 1392 (2013) ('000' افغانی) |
|---|---|---|---|
| **د عملیاتی چارو فعالیتونو له درکه نقدی بهیر** | | | |
| ګټه/عواید | | **1,449,798** | 20,739,345 |
| د غیر نقدی فعالیتونو لپاره تعدیلات | | - | - |
| استهلاکونه او فرسایشونه | 15 & 16 | **66,744** | 61,212 |
| د ټکټانی عواید | 27 | **(1,934,741)** | (1,739,096) |
| د ټکټانی لګښت | 28 | **2,339,971** | 1,494,809 |
| د مرستو له کبله عواید | 29 | **(1,179)** | (216) |
| کارکوونکو د تقاعد تقویې په خاطر مرسته او همېرغی | 23 | **198,321** | 247,697 |
| په زیرمې کې د سروزرو د بدلون له درکه غیر حقیقی عواید | | **(1,204,017)** | (3,771,517) |
| د نقدی پیسو له امله او یا د دغې معادل غیر حقیقی عواید | | **28,983** | 48,667 |
| | | **885,914** | 16,983,567 |
| په کار اچول شوی پانګو کی بدلون | | | |
| د بانکونو او نورو مالی مؤسساتو څخه قابل حصول | 10 | **(59,506,202)** | 16,995,570 |
| مرسته د وروستنی پور ورکونکی مرجع په توګه. | 12 | **1,506,352** | 1,275,002 |
| **طلبات او نور د حصول وړ حسابونه** | 13 | **(433,394)** | (742,324) |
| تولی شتمنی | 17 | 362,978 | 3,393 |
| په چلند کی افغانی پیسې | 18 | **28,183,547** | 18,788,219 |
| د ورکړی وړ بانکونو او نورو مالی موسساتو ته | 20 | **11,728,778** | 13,098,984 |
| د ورکړی وړ پیریدونکو ته | 21 | **(24,612,139)** | 6,340,242 |
| نړیوال وجهی صندوق ( آی ، آم ، اف ) ورکړی | 22 | **4,755** | - |
| پرویژنونه)او نوری ورکړی) | 25 | **(4,676,292)** | 735,747 |
| | | **49,256,175** | 56,488,047 |
| د عملیاتی فعالیتونو له درکه نقدی بهیر | | **48,370,261** | 73,520,280 |
| ترلاسه شوی ټکټانه | | **1,821,526** | 1,897,795 |
| پرداخت شوی ټکټانه | | **(2,339,971)** | (1,494,809) |
| ترلاسه شوی لګښتونه | | **315** | 6,899 |
| د متقاعدینو حقوق او برخه او د دغی ورکړه کارکونکو ته | 23 | **21,981** | (206,866) |
| د عملیاتی فعالیتونو له درکه خالص نقدی بهیر | | **(48,866,410)** | 73,723,299 |
| **د پانګوونی فعالیتونو له درکه نقدی بهیر** | | | |
| پانګونی د کال په اوږدو کې | 11 | **(63,137,762)** | (5,274,456) |
| د ملکیتونو او اثاثیه جاتو پلیرل | 15 | **(147,248)** | (148,259) |
| د نه لیدو وړ/ نه انتقال وړ شتمنیو پلیرل | 16 | **(6,483)** | (140) |
| د پانګونی فعالیتونو له امله خالص نقدی بهیر | | **(63,291,493)** | (5,422,855) |
| د کپیټال نوټ له درکه لاسته راوړنی | 19 | **6,743,326** | - |
| بهالرونکی یانی نوی نشر | | **-** | (4,967,140) |
| د مالی فعالیتونو له درکه خالص نقدی بهیر | | **6,743,326** | (4,967,140) |
| په خالص نقدو او یا دهغی معادل کې ډیروالی/لږوالی | | **(105,414,578)** | 63,381,971 |
| په نقدی پیسو او یا د هغی معادل باندی نرخ نوساناتو آغیزه | | **28,983** | (48,667) |
| نقدی پیسی او یا دهغی معادل د کال په پیل کې | | **184,592,628** | 121,259,325 |
| نقدی پیسی او یا دهغی معادل د کال په پای کې | 32 | **79,207,033** | 184,592,628 |

له(۱) څخه تر (۳۷) شمیری پوری ضمیموی یاد داشتونه د دی مالی صورتحساب بنسټیزی برخی جوړوی

| | | |
|---|---|---|
| **سید یونس سادات** | **الحاج عیسی خان طراب** | **خان افضل هډه وال** |
| **د افغانستان بانک** | **د افغانستان بانک** | **د افغانستان بانک** |
| **مالی او حسابی چارو لوی آمر** | **دوهم مرستیال** | **لومړی مرستیال او سرپرست** |

# اداره او پراختیا

# اداره او پراختیا

د افغانستان بانک د قانون په بنسټ، دافغانستان بانک عمده موخه د کورنیو بیو د ثبات تأمینول او ساتل دي. د افغانستان بانک نورې موخې چې د هغې د لومړنۍ موخې تابع دي، له سیالیت (نقدینه ګۍ)، د پورونو د ورکړې له قابلیت، د بازار پر اقتصاد ولاړ ثابت مالي سیستم له اغېزناکه فعالیت څخه ملاتړ او د ورکړې د خوندي، سالم او اغېزمن ملي سیستم پیاوړتیا څخه عبارت دي. په همدې ډول د افغانستان بانک، د افغانستان د پولي سیاست طرح کول، تر لاس لاندې نیول او اجراء کول، د افغانستان د بهرنیو اسعارو د ارزي سیاست او ترتیباتو طرح کول، ترلاس لاندې نیول او اجراء کول، د افغانستان د بهرنیو اسعارو د رسمي زېرمو ساتنه او اداره کول، د افغانستان د کاغذي پیسو او فلزي مسکوکاتو چاپول، ضربول او خپرول، د د دولت بانک لرونکي(بانکدار)، سلاکار او د مالي استازي په توګه د دندو سرته رسول، د جواز صادرول یا ثبتول، تنظیم او پر بانکونو، د اسعارو پر صرافانو، د پولي خدمتونو پر وړاندې کوونکو، د ورکړې د سیستم پر مجریانو، د بیه لرونکو سندونو د خدمتونو پر وړاندې کوونکو، د بیه لرونکو سندونو د لېږدونې د سیستم پر مجریانو او نورو هغو اشخاصو باندې څارنه چې د افغانستان بانک کولای شي د قانون د حکمونو مطابق د هغوی څارنه وکړي؛ د بیه لرونکو سندونو د ورکړې او لیږد په موخه د اغېزمن او سالم سیستم جوړول، ساتل او وده چې د دولت یا د افغانستان بانک لخوا صادر شوي وي او د ورکړ ایزو (پرداختي) معاملو او هغو معاملو د حساب تصفیه او تسویه چې دغه ډول بیه لرونکو سندونو کې صورت نیسي، په غاړه لري.

د پورته اهدافو او دندو د لا ښه ترسره کولو په موخه د افغانستان بانک هڅه کړې ده څو یو پیاوړې اداره منځ ته راولي چې د اوسني عصر د اړتیاوو ځواب ورکوونکي وي او د پام وړ پراختیا په پام کې نیولو سره د پولي سیاست، مالي نظام او تادیاتي سیستم ابزارونو، په لاندې پرمختګونو او د افغانستان بانک موخو ته د رسیدو په برخه کې ښه رول ولوبوي.

د افغانستان بانک د خپلو اهدافو د اغېزناکه تحقق او د ټولیزو دندو د اجراء کولو په موخه، د خپلو تشکیلاتو په اډانه کې حمایوي اداري تأسیس کړي دي چې په **۱۳۹۳** کال کې د دې ادارو لاسته راوړنې او کړنې دلته په لنډه توګه وړاندې کیږي:

- **د ټولو ناظر اداره**

د ټولو ناظر اداره په ۱۳۸۴ کال کې تأسیس شوې او د افغانستان بانک د یوویشتمې مادې سره سم، د افغانستان بانک د احتمالي خطرونو د مخنیوی په موخه د کړنلارو د وضع کولو او خوندیتوب ترڅنګ د مناسبو سندونو ساتل او د هغو پر تطبیق باندې څارنه، د افغانستان بانک د نافذو قوانینو او مقرراتو پر رعایت باندې د څارنې لپاره د افغانستان بانک د اداري او کړنو دوامداره څېړنه، د افغانستان بانک د حسابونو، ریکارډونو او همدا ډول د کړنلارو، د حسابدارۍ د کنټرول او بودجې په اړه د افغانستان بانک عالي شورا ته د راپورونو او مشورو وړاندې کول او څېړل، د افغانستان بانک د مالي صورت حسابونو او نورو اړونده سندونو منظمه څېړنه او رسیدګي او د هغو د سموالي (صحت په صورت کې) د تصدیق پاڼې صادرول او د افغانستان بانک عالي شورا او لوی رئیس د تصمیمونو له رغنده اجراء او سالم تطبیق څخه څارنه او د عالي شورا او لوی رئیس لخوا د نورو ورسپارل شویو دندو او مکلفیتونو ترسره کول د ټولو ناظر د ادارې له دندو څخه شمېرل کیږي.

د ټولو ناظر ادارې د ۱۳۹۳ کال د کاري اجرااتو لنډ راپور:
د ټولو ناظر ادارې د ۱۳۹۳ کال له کاري پلان سره سم د ریاست دفتر، لومړی معاونیت، دویم معاونیت، ښاري څانګې او د ولایتونو نمایندګۍ په شمول د افغانستان بانک ټولې شعبې د خطر پر بنسټ ارزولي او په درې درجو ( لوړ، منځنۍ او ټیټ) یې ووېشلي او د څېړنې شپږو ټیمونو او د کیفیت د تضمین سکشن ته یې دندې سپارلي څو د شعبو ټول اجراات وڅېړي او د افغانستان بانک د اډیټ کمېټې او عامل پلاوي ته راپور ورکړي.
د ټولو ناظر ادارې د ۱۳۹۳ کال د لومړي دریو ربعو په ترڅ کې( د مرکزي شعبو، د ولایتي نمایندګیو او ښاري څانګو) د څېړنې لاندې ۷۰ شعبو له ډلې څخه توانیدلی ۵۲ ساحې وڅېړي، ۴ ساحې تر څېړنې لاندې ونیسي او د ۲۹ ساحو سپارښتنې تعقیب کړي. د یادونې وړ ده چې په ۷۰ ساحو کې د آمریتونو، مدیریتونو او د بانک د ادارو تر سرلیک لاندې د افغانستان بانک د عامل پلاوي تصویبونه تعقیب شوي دي.
سربېره پر دې، د ټولو ناظر ادارې د ۱۳۹۳ کال د لومړیو دریو ربعو په ترڅ کې ۲۰ ځانګړې موضوعګانې چې د ریاست لخوا دې ادارې ته سپارل شوي، تر څېړنې لاندې نیولي دي.
په لنډه توګه باید وویل شي چې د ټولو ناظر ادارې له ستونزو او ننګونو سره توانېدلې ده د پام وړ لاسته راوړنې ولري. د ۱۳۹۳ کال په اوږدو کې یې د څېړنې لاندې ۷۰ ساحو له ډلې ۵۲ ساحې ډیرې څېړلې او ۴ ساحې یې تر څېړنې لاندې نیولې دي. څېړل شوې ساحې د ټولو ناظر د ادارې د کیفیت د ډاډمنتیا د ټیم لخوا تعقیب شوي او د څېړنې د ټیم شپارښتنې په هغه کې پلې شوي دي.
د ټولو ناظر ادارې وکړای شوه چې له خپل کلني پلان سره سم اجراات په بریالیتوب سره پر مخ بوځي او د همدې لپاره ډاډ لري چې خپل اهداف او طرح شوي پلانونه به په اغیزناکه توګه ترلاسه کولای شي.

- **د اسنادو او اړیکو لوی آمریت**

د اسنادو او اړیکو لوی آمریت د اداري دندو تر څنګ، د افغانستان بانک د اړیکو اصلي مسؤول دی چې د دوو مدیریتونو خپرونو او اړیکو په اډانه کې په بشپړه همغږۍ سره خپلې دندې پر مخ وړي.
دې آمریت له ورسپارل شویو مسؤولتونو سره سم خپلې دندې په ټاکلي وخت سره ترسره کړې دي چې دلته د اسنادو او اړیکو د لوی آمریت د خپرونو او اړیکو په برخو کې د ۱۳۹۳ کال کړنې په لنډه توګه وړاندې کوو:
**خپرونې:**
د اسنادو او اړیکو د لوی آمریت د خپرونو مدیریت د افغانستان بانک د خپرونکي او خبر رسوونکي مرجع په توګه تل هڅه کړې ده څو د بانک کنفرانسونه، ورکشاپونه، سیمینارونه او نورې غونډې د بانک د میاشتنۍ خپرونې له لارې تر پوښښ لاندې ونیسي. همدا ډول دا مدیریت د افغانستان بانک لاسته راوړنې او کړنې په بیلابیلو برخو لکه؛ پولي سیاست، مالي نظام، تادیاتي، عملیاتي او اداري سیستم کې د میاشتنۍ خپرونې او کلني راپور له لارې د خلکو، رسنیو، خصوصي سکتور، حکومت، ملي شورا او اکاډمیکې ټولنې د پوهاوی لپاره خپروي. دې مدیریت د پورته نشراتي چارو تر څنګ، د بانکدارۍ د مسائلو، د افغانۍ د ترویجولو او ساتلو په شمول په افغانستان کې د سکې او بانکنوټ د بهیر د رسالې، د انځوریزو کلیپونو او پوسترونو د ترتیبولو او خپرولو له لارې عامه ذهنونه روښانه کړي دي.
د پولي سیاست د تطبیق او د مالي نظام د پیاوړتیا په برخه کې د نشراتي کار د ارزښت په پام کې نیولو سره د دې برخې

کړنې د ۱۳۹۳ کال په ترڅ کې په لنډه توګه وړاندې کوو:

- د ۱۳۹۲ له مرغومې څخه د ۱۳۹۳ تر مرغومې پورې د دولسو ګڼو مجلو (بانک) خپرول چې په هغه کې په پښتو او دري ژبو شاوخوا ۲۰۰ اقتصادي مقالې او د افغانستان بانک د لاسته راوړنو او کړنو راپورونه او نورې اقتصادي مقالې خپرې شوي دي.
- په دري، پښتو او انګلیسي ژبو کې د افغانستان بانک د ۱۳۹۲ کلني راپور چمتو کول چې د پولي سیاست (د پړسوب نرخ، نقدینه ګی، د اقتصادي ودې نرخ، د اسعارو د نرخ څرنګوالی او ...) د بازار عملیات (د اسعارو لیلام، د بیه لرونکو پاڼو لیلام، لیتراف کریډټونه او ...) بانکي نظام ( د بانکي نظام شتمنی، د بانکي نظام پورونه، د بانکي نظام امانات او د بانکي نظام د سیالیت څرنګوالی) او د تادیاتي سیستم کړنې رانغاړي.
- د افغانی د دودیدو او د افغانی بانکنوټونو د ساتلو په موخه د عامه ذهنونو د روښانه کولو لپاره د تبلیغاتي وسیلې په توګه د دیوالي او سرمیزي کلیزې چمتو کول.
- د افغانی د دودیدو په برخه کې په پښتو او دري ژبو د یو انځوریز کلیپ جوړول او په تلویزیوني شبکو کې د هغه خپرول.
- په پښتو، دري او انګلیسي ژبو په افغانستان کې د سکې او بانکنوټ د بهیر د انځوریزې رسالې جوړول چې یوه معلوماتي رساله ده او محصلینو، اکاډمیکې ټولنې او عام خلکو لپاره د مبادلې د بهیر او د هغه د ابزارو د پوهاوي په برخه کې اغیزناکه بریښي.
- په هېواد کې د سکې او بانکنوټ له بهیر څخه د پوهاوي په موخه د افغانستان بانک اووه ګونو زونونو ته په افغانستان کې د سکې او بانکنوټ د بهیر د پوسترونو جوړول.

**اړیکې (ارتباطات):**

د اسنادو او اړیکو لوی آمریت تل هڅه کړې ده څو د چټکو او دقیقو اړیکو له لارې د افغانستان بانک عمومي موخې، دندې، سیاستونه او کړنې د خپر پاڼو او د دوو (داخلي او بهرنی) ویب پاڼو او همدا ډول د کنفرانسونو په جوړولو سره د رسنیو له لارې عامه پوهاوي ته ورسوي.

د پورته دندو په پام کې نیولو سره د دې آمریت د اړیکو مدیریت په ۱۳۹۳ کال کې لاندې کارونه ترسره کړي دي:

- د رسنیو له لارې د افغانی د دودیدو په برخه کې له ۱۰ څخه د زیاتو انځوریزو او چاپي اعلانونو خپرول.
- د ایمیل له لارې دولتي او غیر دولتي ادارو( حکومت، پارلمان، رسنی، اکاډمیکو ټولنو، خصوصي سکتورونو او ...) ته د مجلو، کلني راپور، بوکلیت او راپورونو د پوستکالي لیږدول، دا مواد چې د افغانستان بانک سیاستونه او کړنې رانغاړي ۱۵ ځلې لیږدول شوي دي.
- په دري، پښتو او انګلیسي ژبو د ۵۹ خبرپاڼو جوړول او د افغانستان بانک په داخلي او بهرني ویب پاڼو کې د هغه خپرول او همدا ډول رسنیو ته د هغه لیږدول.
- د ۱۶ کنفرانسونو، ۴ ورکشاپونو او د بانکونو له رئیسانو سره د لوی رئیس د ۵ غونډو جوړول او د۱۶ بانکونو او ۶۰ رسنیو متواتره رابلل.
- په دوو ژبو پښتو او دري د افغانستان بانک د داخلي ویب پاڼې جوړول او پراختیا چې اوس مهال د http://10.0.28/dab/posts لینک کې د لاسرسی وړ دی.
- په دري، پښتو او انګلیسي ژبو د افغانستان بانک د

بهرني ویب پاڼې طرح کول چې په نږدې راتلونکي کې به آنلاین شي.

- د ورځپاڼو، ویب پاڼو او اوونیزو مانیټورینګ او په داخلي ویب پاڼه کې د ګڼورو اقتصادي، مالي او بانکي موارد ځای پرځای کول.
- د داخلي او بهرنۍ ویب پاڼو د منځپانګې جوړول او ایډیټول او د افغانستان بانک د نورو برخو په همکارۍ سره د ویب پاڼو بډایه کول.
- د افغانستان بانک د کړنو، لاسته راوړنو، سیاستونو او پالیسیو په اړه هېواد والو په ځانګړې توګه هغو محصلینو ته چې له دې برخې سره اړیکه لري، د معلوماتو وړاندې کول.

باید یادونه وکړو چې د اسنادو او اړیکو لوی آمریت د لا اسانتیاوو او په لږ وخت کې د تیرو کلونو سندونو ته د لاسرسي په موخه، د سندونو لپاره یو پوستکالي طرحه او د معلوماتي تکنالوژۍ په همکارۍ سره یې نهایي کړی چې د عامل پلاوي له تائیدۍ وروسته به عملي شي.

- **حقوقي مشاوریت**

د افغانستان بانک حقوقي مشاوریت چې د بانکي قوانینو په طرح، ترتیب او تعدیل باندې کار کوي او همدا ډول د افغانستان بانک په حقوقي چارو کې مشوره ورکوي، د ۱۳۹۳ مالي کال په ترځ کې یې د مطلوبو او قانوني اجراآتو په موخه لاندې کړنې ترسره کړې دي:

- د افغانستان بانک په قانون کې د تعدیلاتو د طرح ترتیبول او د راتلونکو چارو د ترسره کولو په موخه یې د عدلیې وزارت تقنیني ریاست ته وړاندې کول.
- د بانکدارۍ دودیزه قانون او د اسلامي بانکدارۍ قانون څخه مرکب د بانکدارۍ د قانون د تعدیلاتو د پښتو او دري متن بشپړول چې د تصویب په موخه ولسي جرګې ته لیږل شوی دی.
- د پیسو د وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو پر وړاندې د مبارزې په قانون او د تروریزم د تمویل پر وړاندې د مبارزې په قانون باندې کار کول چې توشیح او په رسمي جریده کې خپور شوی دی.
- د افغانستان بانک د کارکوونکو د ملاتړ د مقررې د طرحې جوړول او ترتیبول چې د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا تصویب شوې.
- د کوچنیو پورونو د مالي مؤسسو (DMFI) د مقررې تعدیلول چې د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا تصویب شوې.
- د منقولو او غیر منقولو اموالو د رهن په قانون کې د تعدیلاتو وضع کول.
- د کابل بانک د پور د سندونو په راټولولو کې د کابل بانک د تصفیې له مدیر سره همکاري او د مشورې ورکول.
- د مالي اجارې د مقررې طرح کول
- د افغانستان بانک د کارکوونکو د مصؤنیت د مقررې تائیدول.
- د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۳۹۳/۷/۶ نېټې ۳۱ ګڼې تصویب په ترځ کې د کوچنیو پورونو د مؤسسو (DMFI) د جواز ورکولو د تنظیم او څارنې په مقرره کې د تعدیلاتو تائیدول.
- **بانکي عملیات**

د بانکي عملیاتو لوی آمریت د ۱۳۹۳ مالي کال په اوږدو کې د خپلو دندو او واکونو سره سم، ولایتونو ته د فزیکي پیسو د لیږدولو، د افغانۍ د دودولو په اړه د وزیرانو شورا د

۱۳۸۳/۱۲/۱۷ نېټې ۱۳ ګڼې مصوبې او د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ۱۳۹۱/۵/۵ نېټې ۴۵ ګڼې فرمان د پلي کیدو، د بانکنوټونو د نشر او مراقبت، د افغانۍ پیسو د ګردښت او نورو برخو کې مهم فعالیتونه درلوده چې په دې ځای کې له مهمو فعالیتونه څخه یادونه کوو:

- د افغانستان د اسلامي جمهوریت د وزیرانو د عالي شورا د ۱۳۸۳/۱۲/۱۷ نېټې ۱۳ ګڼې مصوبې او د افغانستان د اسلامي جمهوریت د مقام د ۱۳۹۱/۵/۵ نېټې ۴۵ ګڼې فرمان د بشپړ پلي کیدو او د افغانۍ چې په حقیقت کې د ملي یووالي سمبول او ملي هویت دی، د دودیدو په اړه د افغانستان بانک د قانون د ۳۳ مادې د صراحت په پام کې نیولو سره لازمه ده چې د خدمتونو د وړاندې کولو په شمول د هر ډول اموالو او توکو پیر او پلور په افغانۍ ترسره شي چې د افغانستان بانک کارکوونکو د هېواد د امنیتي ادارو د استازو په همکارۍ منځویانې، سوداګریز، مخابراتي او ودانیز شرکتونه، د هوایي شرکتونو نمایندګۍ، پلورنځیونه، موټر پلورنځیونه، هوټلونه او میلمستونونه، د معاملاتو رهنماګانې او ټول بازارونه کنټرول او بررسي کړي او هغه پلورنکو چې پلور او د خدمتونو وړاندې کول یې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د وزیرانو د شورا د ۱۳۸۳/۱۲/۱۷ نېټې ۱۳ ګڼې د مصوبې خلاف په اسعارو ترسره کول، له لایحې سره سم له سلو څخه تر سلو زرو افغانۍ پورې نغدي جریمه کړي دي چې په ټولیزه توګه له دې لارې د ۱۳۹۳ کال په اوږدو کې ۹،۹۶۷،۰۱۰ افغانۍ جریمه ترلاسه شوې چې د افغانستان بانک د بانکنوټونو د نشر او مراقبت په چارو کې د بانکي عملیاتو د معاونیت ۹۹۹۹۰۰۲۳۳۱۵۰۰ شمېرې حساب ته لیږدول شوي دي.
- د ۱۳۹۳ مالي کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه ۲،۳۷۱،۹۷۷،۰۰۰ افغانۍ مندرس بانکنوټونه له دقیق شمېر او کنټرول وروسته د بانکنوټونو د سوځیدو (حریق) د مراقبت د پلاوي تر نظر لاندې له ګردښت څخه بهر شوي دي.
- **د بشري منابع لوی آمریت**

د بشري منابع لوی آمریت څرنګه چې له نوم څخه یې معلومیږي له ګمارنې، د سوانحو د دوسیو له ترتیب او تنظیم، د ظرفیتونو له لوړولو، د کړنو او فعالیتونو له ارزولو، له حقوقو او امتیازونو، مکافاتو او مجازاتو، مقررۍ او تبدیلۍ، د مناسب کاري چاپیریال له برابرولو او د افغانستان بانک کارکوونکو پورې له اړوندو نورو موضوعاتو سره اړیکه لري. د افغانستان بانک د بشري منابع لوی آمریت د بېلا بېلو برخو د کاري چارو د آسانتیا او د باکیفیته خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د بشري منابع نوی الکترونیکي سیستم پیریدلی دی چې د دې آمریت د یو شمېر برخو چارې او کړنې د همدې سیستم لخوا ترسره کیږي چې ډېر ژر به د بشري منابع په ټولو برخو کې پلي شي.

د بشري منابع د لوی آمریت بېلابېلو برخو د ۱۳۹۳ مالي کال په اوږدو کې یو شمېر کړنې ترسره کړې دي چې دلته د پراختیا، پلان او پالیسۍ، روزنې او د کارکونکو د ودې له برخو څخه په لنډه توګه یادونه کوو:

**۱. د پراختیا، پلان او پالیسۍ برخه:**

د دې آمریت د پراختیا، پلان او پالیسۍ برخې په مسلکي، علمي او تخصصي توګه د هېواد د نافذه قوانینو او د افغانستان بانک د قانون په پام کې نیولو سره د بشري منابع پالیسۍ، مقررې او لارښودونې ترتیب کړې دي چې په لاندې ډول

دي:

۱. د اصلاحي او انضباطي اقداماتو پالیسي او کړنلاره

۲. د محصلینو د پرکټیکي دورې پالیسي

۳. د بشري منابع د داخلي اړیکو، بدلونونو او تبدیلیانو پالیسي

۴. د افغانستان بانک د کارکوونکو د اضافه کارۍ پالیسي

۵. د کار د وخت، د استراحت د حق او رخصتیو مقرره

۶. د افغانستان بانک د هغو کارکوونکو د درملنې لپاره چې په شدیدې ناروغۍ اخته وي د مالي مرستې کړنلاره

۷. د افغانستان بانک د روغتیایي کلینیک کړنلاره

**په لاندې پالیسیو کې اړین سمونونه راغلي دي:**

۱. د کړنو د ارزونې پالیسي

۲. د ګمارنې پالیسي

۳. د مصالحې او نارضایتۍ پالیسي

**۲. د کارکوونکو د روزنې او ودې برخه:**

د کاري چارو ښه والي لپاره د هرې ادارې د ظرفیتونو لوړول یو اړین کار ګڼل کیږي. دې برخې د افغانستان بانک د کارکوونکو د ظرفیت د لوړولو په موخه له هیڅ ډول هڅې او هاند څخه دریغ نه دی کړی او تل یې کارکوونکو لپاره روزنیز پروګرامونه برابر کړي دي چې د CBS، بانکوالۍ، محاسبې، د افغانستان بانک د پیژندنې، منجمنټ، انګلیسي ژبې، اقتصاد او کمپیوټر په برخو کې عمومي او خصوصي پروګرامونه او د اداري او سوداګرۍ په برخو کې د لیسانس او ماسټرۍ پروګرامونه رانغاړي. دې برخې په هېواد کې د روزنیزو پروګرامونو د برابرولو تر څنګ ۲۱۲ تنو کارکوونکو ته ۱۰۴ روزنیز پروګرامونه له هېواد څخه بهر هم برابر کړي دي.

**د ګمارنې برخه:**

له مقرریدو څخه مخکې مخامخ مرکې، ګمارنې، تبدیلي او منفکي د بشري منابع د لوی آمریت د دې برخې له دندو څخه دي. دې برخې د ۱۳۹۳ مالي کال په ترڅ کې د خپلو دندو په رڼا کې لاندې کړنې ترسره کړي دي:

۱. د ۱۳۹۲ مالي کال له پیل څخه د ۱۳۹۳/۹/۲ کال پورې د بېلا بېلو پُستونو نوماندانو سره شاوخوا ۱۴ مخامخ مرکې ترسره شوي چې د افغانستان بانک د عامل پلاوي د بیلو تصویبونو او حکمونو په پایله کې ۲۰۸ تنه نوي کارکوونکي ګمارل شوي او په مختلفو برخو کې یې په رسمي توګه کار پیل کړی دی.

۲. ۶ کارکوونکي په بېلابېلو دلیلونو د افغانستان بانک له بست څخه ګوښه (منفک) شوي او شاوخوا ۱۱ تنه کارکوونکي له یوې برخې څخه بلې برخې ته تبدیل شوي دي.

۳. بېلا بېلو پُستونو لپاره له ۱۰ زیاتې لیکلي آزموینې په لاره اچول شوي چې د اړتیا له مخې یو شمېر یې له مخامخ مرکې وروسته په مختلفو برخو کې ګمارل شوي دي.

۴. شاوخوا ۱۰۰ تنه د افغانستان بانک د مشر تابه پلاوي د حکمونو پر بنسټ د بیلو استعلامونو له لارې د مالي چارو د څارنې لوی آمریت ته ورپیژندل شوي څو په مجوزه آزموینه کې د بریالیتوب په صورت کې، د هغه آمریت په تشو پُستونو کې وګمارل شي چې دا لړۍ د تشو پُستونو په ډکیدو سره پای ته رسیدلې ده.

- **د مالي سکتور د ټینګښت پروژه**

په اوسنۍ نړۍ کې، د هر هېواد اقتصادي وده د بانکونو لخوا برابریږي او بانکونه د هېوادونو په اقتصادي پرمختیا کې مهمه برخه ګڼل کیږي. د هېوادونو په مالي او بانکي نظام کې دا کار د عصري او معیاري الکترونیکي سیستمونو له فعالت پرته ناشونی دی. له همدې امله د قوانینو د طرحې او تعدیلولو، د

الکترونیکي او عصري سیستمونو د جوړولو او نصبولو لپاره زیاته اړتیا لیدل کیږي. په همدې بنسټ د مالیې وزارت، نړیوال بانک او د افغانستان بانک په ۲۰۰۹ او ۲۰۱۱ میلادي کلونو کې د بانکونو په څارنه کې د کاري ظرفیت د لوړولو، د تادیاتي سیستمونو او مالي بېخبنسټونو د پراېستلو په موخه د مالي سکتور د ټینګښت تر پروژې لاندې درې اړخیزه هوکړه لیکونه لاسلیک کړي څو د بانکونو د څارنې، د تادیاتي سیستمونو د جوړولو او نصبولو او د بانک نورې بېخبنسټیزې برخې په مسلکي توګه د اغیزناکه خدمتونو وړاندې کولو ته چمتو شي.

د لا زیاتو معلوماتو په موخه د ۱۳۹۳ مالي کال په ترخ کې د دې پروژې د اجرااتو له څرنګوالي څخه په لنډه توګه یادونه کوو:

**۱. د افغانستان د ورکړې د سیستم د ملکیت او د حقوقي موقف تثبیتول ( Afghanistan Payments System Ownership):**

د کارت او موبایل له لارې د ورکړې د سیستم د ادارې د ملکیت او حقوقي موقف د موضوع د څېړنې په موخه د افغانستان بانک یو ځانګړی پلاوی ګمارلی دی چې دې پلاوي د مالي سکتور د عاجل څواب د پروژې (FSRRP) سندونه او د APS مقرره کتلې او د APS د ادارې د ملکیت او د حقوقي موقف د څرنګوالي په اړه یې خپل وړاندیزونه د افغانستان بانک عامل پلاوي ته وړاندې کړي چې د عامل پلاوي لخوا منظور شوي او د پلي کیدو په برخه کې یې اصولي اجراات ترسره شوي دي.

**۲. د افغانستان بانک ته د نړیوال بانک د پاتې مالي مرستو د هوکړه لیکونو طی مراحل:**

د مالي سکتور د ټینګښت پروژه (FSSP) د ډېرو پلان شویو کړنو د بشپړیدو پر بنسټ د نړیوال بانک لخوا پای ته رسیدلې چې نړیوال بانک د هغه اضافي بلا عوضه مرستې په بدل کې له افغانستان سره د ۶.۷ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د مالي سکتور د عاجل څواب پروژې لپاره چې د FSSP د پروژې د نا بشپړې شویو کړنو دوام او د FSRRP د پروژې کړنې رانغاړي مرسته کړې ده، موضوع د افغانستان بانک د ریاست د حکم پر بنسټ د حقوقي مشاوریت دفتر ته لیږل شوې څو د حقوقي مسایلو له پلوه وارزول شي چې په پایله کې د مالیې وزارت او نړیوال بانک، نړیوال بانک او د افغانستان بانک او د مالیې وزارت او د افغانستان بانک ترمنځ هوکړه لیکونه لاسلیک شوي دي.

په دوبۍ کې د کارت او موبایل له لارې د ورکړې د سیستم د هارډ ویر د تخنیکي معاینې، په دوبۍ کې د ناورین څخه د رغاونې د سایټ لپاره د مناسب ځای د تدارک د پروسې څرنګوالی، د افغانستان د ورکړې د سیستم د دفتر د بودجوي پلان او تدارکاتي پلان ترتیبول او د دې اداري جوړښت هغه موارد رانغاړي چې دې پروژې د ۱۳۹۳ مالي کال په اوږدو کې په یو ډول نه یو ډول په کې رول درلودلی دی.

**۴. نړیوال بانک او د مالیې وزارت د (PIU) د پروژو ریاست ته د مالي سکتور د عاجل څواب د پروژې (FSRRP) د پلي کیدو د څرنګوالي د راپورونو لیږدول:**

په ۱۳۹۳ مالي کال کې دې دفتر دریو ربعو لپاره د مالي سکتور د عاجل څواب د پروژې د پلي کیدو د پرمختګ د څرنګوالي مفصل ربعوار راپورونه ترتیب کړي او نړیوال بانک ته یې استولي دي. تمه کیږي چې د ۲۰۱۴ میلادي کال د څلورمې ربعې د پروژې د پلي کیدو راپور هم ترتیب او نړیوال بانک ته واستول شي. په همدې ترتیب د ۱۳۹۳ مالي کال لومړی، دویمې او دریمې ربعې لپاره د (IFR) موقت

مالي راپور د مالیې وزارت د (PIU) د پروژو د ریاست دفتر ته لیږدول شوی او د څلورمې ربعې راپور به هم ډېر ژر دې اداري ته ولیږدول شي.

**۵. د مالي سکتور د عاجل ځواب د پروژې (FSRRP) د تدارکاتي پلان ترتیبول:**

د دې دفتر تدارکاتي پلان د ۲۰۱۴ میلادي کال په لومړیو کې ترتیب او له طی مراحلو وروسته د نړیوال بانک او د افغانستان بانک لخوا منظور شوی چې اوس مهال اصولاً د پلي کیدو په حال کې دی.

**۶. د افغانستان بانک کارکوونکو ته د روزنیزو پروګرامونو برابرول:**

د ظرفیت د لوړولو چټکتیا د افغانستان بانک دریم استراتیژیک اصل دی، په همدې موخه د مالي سکتور د ټینګښت پروژې د افغانستان بانک کارکوونکو لپاره یو شمېر روزنیز پروګرامونه تمویل کړي چې په ۲۰۱۴ میلادي کال کې د دې پروګرامونو ټولیزه لګښت ۳۵۶۷۶۹۹۸۲ امریکایي ډالرو ته رسیږي.

- **معلوماتي تکنالوژئ**

د معلوماتي تکنالوژئ لوی مدیریت د افغانستان بانک له مهمو برخو څخه شمېرل کیږي. دا عمومي مدیریت د معلوماتي تکنالوژئ د اسانتیاوو د برابرولو او د عصري تکنالوژئ له لارې د افغانستان بانک په کاري چارو کې د ښه والي په موخه د معلوماتي تکنالوژئ د ابزارو له لارې د ټول برخو په اتوماتولو کې مهم او حیاتي رول لري.

دلته د مرکز او ولایتونو د شبکو د برخو، د مرستې د میز (Help Desk)، اپلیکیشن، د ډومین او Swift سیستمونه، او د ویب پاڼې کاري چارې د ۱۳۹۳ مالي کال په اوږدو کې د لا زیاتو معلوماتو لپاره وړاندې کوو.

**شبکه:**

د افغانستان بانک د معلوماتي تکنالوژئ د مدیریت د شبکې برخه د مرکز او ولایتونو د ټولو شبکو په ساتلو، نصب او مواظبت او په ټول هېواد کې له نمایندګیو سره د مرکز د اړیکو په ټینګولو باندې کار کوي. دا برخه له آفتونو څخه د خوندیتوب لپاره د مصؤنیت دوه مرکزونه لري چې یو یې په عربي متحده اماراتو (دبۍ) او بل یې د مخابراتو او د معلوماتي تکنالوژئ په وزارت کې دی.

د شبکې برخه د بانکي سیستمونو له سرورونو څخه د مواظبت مکلفیت لري څو ډاډ ترلاسه کړي چې سرورونه او د شبکې اړوند ټول وسایل په ورځ کې ۲۴ ساعته او په اونۍ کې ۷ ورځې فعال دي.

دلته د دې برخې د دندو په پام کې نیولو سره د هغه له لاسته راوړنو څخه یادونه کوو:

۱. په سیمه ایزو زونونو کې د معلوماتي تکنالوژئ د مدیریت د ګمارل شویو استازو له لارې په اونۍ کې یو ځل د سیمه ایزو زونونو، ولایتونو او ښاري څانګو د شبکې د فعالیت له څرنګوالي څخه راپور ترلاسه کول.

۲. په مرکز، نمایندګیو او شپږ واړو زونونو کې په دوامداره توګه د شبکې او انټرنټ د ستونزو له منځه وړل؛ ذکر شوې برخه د انټرنټ د ترمیمولو د خدمتونو له کمپنیو سره هم په اړیکه کې ده څو د کمپنۍ لخوا رامنځ ته شوې ستونزه ژر تر ژره حل شي.

۳. د سي بي اس سیستم او انټرنټ د لا چټکتیا په موخه د افغانستان بانک د نمایندګیو د بک اپ کنکشن انټرنټ سرعت له kbps ۱۲۸/۲۵۶ څخه Kbps ۵۱۲/۵۱۲ ته لوړول چې د افغان تلیکام د فایبر نوري شبکې او یا د روشن شبکې په چټکتیا کې د ستونزې د راپیدا کیدو په صورت کې له بک اپ کنکشن څخه ګټه اخیستل کیږي.

۴. له ۲۰۰۳ څخه ۲۰۱۲ ته د DHCP نوی کول او د شبکې د

خونديتوب په موخه د نويو پاليسيو جوړول چې په ګټې اخيستنې سره يې کولای شو د کاروونکو او شبکې د کمپيوټرونو د لا خونديتوب ترڅنګ په ورځنيو تخنيکي کړونو کې ډېرې نورې اسانتياوې رامنځ ته کړو.

۵. د دې برخې يو له مهمو دندو څخه د دکتنګ او کيبلنګ پراختيا او نصبول دي چې دې برخې د مرکزي دفتر او د ختيځ او جنوب ختيځ سيمه ايزو زونونو د کاري برخو له غوښتنو سره سم د دکتنګ او کيبلنګ پراختيا په معياري توګه برياليتوب بشپړه کړې.

۶. د سايبرروم Cyberoam د فايروال فعالول: د معلوماتي تکنالوژۍ مديريت د تکنالوژۍ په برخه کې د نويو او چټکو بدلونونو په راوستلو سره، نوی فايروال نصب کړی څو د افغانستان بانک داخلي شبکه خوندي او غير اړينې ويب پاڼې او پوستکالي فلتر او هغه سايټونه چې په شبکه کې ستونزې پيدا کوي، بلاک کړي.

**د مرستې ميز ( Help desk)**

د مرستې ميز هم يو تخنيکي برخه ده چې په مرکز او د افغانستان بانک په نمايندګيو کې د سيستمونو او د معلوماتي تکنالوژۍ د نورو وسايلو د ستونزو حل ته رسيږي. دا برخه لومړی د ټيلفون له لارې په ولايتونو کې د نمايندګيو او ښاري څانګو ستونزې حلوي او د زياتې ستونزې په صورت کې، د مرستې د ميز تخنيکي کارکوونکی اړوندې نمايندګۍ ته استول کيږي څو ستونزه حل کړي.

په همدې ترتيب په سيمه ايزو زونونو کې د معلوماتي تکنالوژۍ د کارکوونکي لخوا ستونزې حل او د جدي ستونزې په صورت کې، ذکر شوی سيستم د ترميم په موخه مرکز ته رالېږل کيږي او يا دا چې د ستونزې د حل په موخه د ای ټي فني کارکوونکی اړوندې نمايندګۍ ته استول کيږي.

د دې برخې لاسته راوړنې په لنډه توګه وړاندې کوو:

- د مرکز د ټولو کمپيوټرونو د نوي ډومين د بدلولو په برخه کې همکاري چې دا پروژه په ډېر دقت، په لږ وخت او په منظم پلان سره بشپړه شوه.
- په ۷ وينډوزونو باندې د XP وينډوزونو تبديلول؛ XP وينډوزونه د مايکروسافټ شرکت له خوا انقضاء ته رسيدلي او موجوديت يې په شبکه کې د ستونزو لامل کيده.
- د کاري اسانتياوو د برابرولو او په ښه ډول او ټاکلي وخت د ورځنيو ستونزو د له منځه وړلو په موخه د دې برخې د نوي پوستکالو د نصبولو لپاره د کاري پلان برابرول.

**اپليکيشن:**

اپليکېشن د معلوماتي تکنالوژۍ د لوی مديريت يو له بنسټيزو برخو څخه ده چې د ټولو ډيټابيسونو او اپليکيشنونو د ساتلو او جوړولو مسووليت په غاړه لري؛ سربېره پر دې، د هر ډول ډيټابيس، ويب پاڼې ډيزاينول او د افغانستان بانک د نورو هارډويرونو جوړول هم د دې برخې له دندو څخه دي. دلته د دې برخې د دندو په پام کې نيولو سره د هغه لاسته راوړنې هم وړاندې کيږي:

- د معلوماتي تکنالوژۍ په وزارت او د دوبۍ ښار په (Dubai Internet City ) کې د CBS سيستم له افتونو څخه د خوندي سايټ فعالول. د دې مهم کار په پام کې نيولو سره د افغانستان بانک يوازينی اداره ده چې له آفتونو څخه خوندي دوه مرکزونه د افغانستان دننه او بهر لري.
- په نمايندګيو کې په يو واحد ډيټابس کې د CBS د بيلو ډيټابيسونو يوځای کول څو له تخنيکي، راپور

ورکونې او راپور اخیستنې له پلوه ستونزې حل شي.

- د سرورونو لپاره د Domain Controller جوړول، د دريو واړو سايټونو (Data Center، Near Disaster Recovery Site او Far Disaster Recovery Site) په سرورونو کې د Cluster زياتول او جوړول، د اصلي ډومين کنټرولر د لا خونديتوب لپاره د Additional Domain Controller جوړول او برابرول چې د هر ډول ستونزې د رامنځ ته کيدو په صورت کې له احتمالي خطرونو څخه مخنيوى وشي.
- له Virmati ټيم سره د Merging Tool نوي کولو او پراختيا، د CBS د ډيټابيسونو د يو ځاى کولو او د CBS د ډيټابيسونو په لاس کې ورکولو يا High Availability په موخه همکاري کول او همدا ډول د افغانستان بانک ټولو نمايندګيو، سوداګريزو بانکونو او نورو مالي مؤسسو لپاره د CBS د واحد ډيټابيس جوړول او د مديريت، راپور اخيستنې، د RTGS او ماديولونو ( Module ) د سيستم د نښلولو د اسانتياوو برابرول.
- د افغانستان بانک په ټولو نمايندګيو کې له سرورونو څخه د اغيزناکه ګټې اخيستنې په موخه د Vault E-Banking او د CBS سرور د Clustering لپاره د مجازي سرورونو (Hyper V) جوړول.
- د بشري منابع او ثابتو شتمنيو د ماديولونو پلي کول چې د څو کلونو راپديخوا عملي شوي نه ؤ.
- په مرکزي ډيټا سنټر او د معلوماتي تکنالوژۍ په وزارت کې له آفتونو څخه په خوندي مرکز کې د Stand B په بڼه د سي بي ايس کانفيګور اپليکيشن چې له احتمالي خطرونو څخه مخنيوى کوي او همدا ډول دې مديريت په ډېر برياليتوب سره د ACSS/AFTS سيستم او د چک سيستم Real Time Replication بشپړ کړى چې د سي بي ايس سيستم تر څنګ په اتومات ډول د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ په وزارت، د افغانستان بانک په مرکز او په دوبۍ کې له آفتونو څخه په خوندي دوو سايټونو کې په اتومات ډول کاپي کيږي چې دا کار دې مديريت لپاره ستر برياليتوب ګڼل کيږي.
- د مالیې وزارت لپاره په ACSS سيستم کې د Bulk Upload فعالولو چې د چکونو د ترتيب په برخه کې يې آسانتياوې رامنځ ته کړي دي.
- د افغانستان بانک له استراتيژيک پلان سره سم داخلي ويب پاڼه د دې مديريت لخوا ډيزاين او محتويايت يې د اسناد او اړيکو د لوى مديريت لخوا ترتيب او ګټې اخيستنې ته وړاندې شوي دي څو کارکوونکي د هغه څخه په عملي توګه ګټه پورته کړي چې ډېرى آسانتياوې يې رامنځ ته کړي دي. د دې تر څنګ په بشپړ خونديتوب سره د نوې بهرنۍ ويب پاڼې برابرول او ډيزاينول او د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ په وزارت کې د هغه هاست کول د دې برخې يو بل فعاليت دى.
- د وېش برخې لپاره د جامع اپليکيشن ترتيبول څو ذکر شوې برخه ټول ورځني کارونه او د معلوماتي تکنالوژۍ ټول پيريدل شوي وسايل په اپليکيشن کې درج کړي، په همدې ترتيب ټول وېشل شوي او يا تکنالوژيکي پيريدل شوي وسايل په دې سيستم کې ثبت شي او په راپور ورکونه کې ترې ګټه واخيستل

شي.

- د بازار عمليات د مديريت د ګټې اخيستنې لپاره په امتحاني توګه په بريالیتوب سره د PAT2 اپليکيشن پلي کول او همدا ډول په لوړو معيارونو سره د اسناد او اړيکو لوی آمريت لپاره د ټولو سندونو د ثبتولو په موخه د سندونو د سيستم جوړول او ترتيبول چې د دې مديريت د بېلابېلو برخو راپور ورکونې په بر کې نيسي.

**د معلوماتي تکنالوژۍ د مديريت د ډومين سيستم او د SWIFT سيستم:**

دا برخه د Domain Controller، Additional Domain Controller او SWIFT د سرورونو د خوندي ساتلو مسؤوليت په غاړه لري چې د افغانستان بانک د موجوده کمپيوټرونو ټول يوزرونه په ډومين کنټرولر کې جوړ او په دې برخې کې ټولې ورځنۍ ستونزې له منځه وړي. همدا ډول دا برخه دنده لري څو ورځنۍ ستونزې د سويفټ په سيستم کې حل کړي او په نورو تخنيکي چارو کې برخه ولري او ټول نوي پچونه او نور اړين انسټاليشنونه په سويفټ سيستم کې ترسره کړي.

**د معلوماتي تکنالوژۍ د مديريت د ډومين سيستم او د سويفټ سيستم د برخې لاسته راوړنې په لاندې ډول دي:**

- له ۲۰۰۳ څخه ۲۰۱۲ ته د DC نوی کول او د کاروونکو د ډيټاوو د خونديتوب په موخه يوزرونو لپاره د نويو پاليسيو او د Additional DC جوړول او د مرکزي دفتر په کمپيوټرونوکې بدلونونه چې کاملاً په بريالیتوب سره بشپړ شوي. همدا ډول د افغانستان بانک د کمپيوټرونو د لا خونديتوب په موخه نوې پاليسۍ هم جوړه شوې ده.
- ټول پوستکالي لکه: USB، CD Rom او نور غير اړين پوستکالي او هارډويرونه چې د وايروس د ليږد او نورو ستونزو د رامنځ ته کيدو لامل کيږي، د دې برخې لخوا بلاک شوي دي.
- نړيوال تادياتي سيستم يا سويفټ چې د افغانستان بانک يوه مهمه او بنسټيزه برخه ده، د بهرنيو، دولتي، مالي او نړيوالو مؤسسو د معاملو د اجراء کولو لپاره ترې کار اخيستل کيږي چې د هغه د تخنيکي موارودو خونديتوب ډېر اړين دی. له همدې امله د سويفټ سيستم په اصلي سرور کې په ورځني ډول او له مهالې وېش سره سم د بکپ اتومات فعالول ترتيب شوی چې پر بنسټ به يې احتمالي خطرونه راکم شي او د احتمالي خطرونو د رامنځ ته کيدو په صورت کې له بکپ سيستم څخه کار اخيستل کيږي چې دا سيستم د تادياتو د کارکوونکو لخوا په رسمي وختونو کې کارول کيږي او همدا ډول د سويفټ سيستم اصلي سرور لپاره د Juniper VPN Box او VPN SSL Connectivity بيا فعالول هم عملي شوی دی.
- سرور تيسټ چې د ټولو بدلونونو او يا د پچ يا نويو انسټاليشنونو پلي کول رانغاړي فعال شوی او عملياتي او تخنيکي کارونه لومړی په سيستم کې کنټرول او وروسته يې په اصلي سرور کې عملي کوي چې په همدې ترتيب احتمالي خطرونه راکميږي.
- **مالي خطرونه**

د مالي خطرونو لوی آمريت د بشري منابع، عملياتي، تدارکاتي، معلوماتي تکنالوژۍ، سياليت او د اسعارو د نرخ، پانګه اچونې او د ټکټانې د نرخ په برخو کې د افغانستان بانک د بېلابېلو خطرونو د پيژندلو، کنټرول، راکميدو او مخنيوي مسؤوليت په غاړه لري.

دې آمریت په ۱۳۹۳ مالي کال کې لاندې کړنې ترسره کړې دي:

- د افغانستان بانک د ټولو مدیریتونو او آمریتونو د سندونو، پالیسیو، کاري کړنلارو او د دندو د لایحو مطالعه، د خطرونو له پلوه د هغوی د ستونزو تجزیه او څېړنه، د سفارشونو وړاندې کول او د احتمالي خطرونو د مخنیوی لپاره د حل لارې؛
- د افغانستان بانک د بېلابېلو برخو د ارزولو لپاره د کاري پلان ترتیبول؛
- هندوستان، پاکستان، سنګاپور او ... هېوادونو ته د خطرونو په بېلابېلو برخو کې رونیزو پروګرامونو ته د کارکوونکو معرفي کول؛
- د افغانستان بانک د دفترونو د ارزولو لپاره د چک لست ترتیبول؛
- د مالي خطرونو د آمریت له مخکې ټاکل شوي پلان سره سم د منابع بشري د لوی آمریت او د معلوماتي تکنالوژۍ او خدماتو د عمومي مدیریتونو ارزول چې پایلې یې په لنډه توګه وړاندې کیږي:

دا د بشري منابع آمریت د څېړلو پر مهال دې پایلې ته ورسید چې د اداري خطر د راټیټولو لپاره باید ټاکنه او ګمارنه، روزنه او ارتقاء، د انګیزې رامنځ ته کول او رضایت او په پایله کې د انساني منابعو ساتل په جدي توګه په پام کې ونیول شي څو خطرونه د منابع بشري په برخه کې کم یا حد اقل ته را ټیټ شي.

همدا ډول په ۱۳۹۳ کال کې د خدماتو او د معلوماتي تکنالوژۍ له عمومي مدیریتونو څخه د دې آمریت د ارزولو پایلې دادي چې باید د عملیاتي خطرونو په برخو کې ښه مدیریت رامنځ ته شي او د تدارکاتو په مراحلو کې د یوې رنې او اغیزناکې پروسې جوړول، د مالي چارو او لګښتونو اغیزناکه کنټرول، د توکو او خدمتونو د تهیې او تدارکاتو اقتصادي کول، باکیفیته ساختماني چارې، د مسؤولیت پېژندلو او حساب ورکولو د رامنځه ته کولو په موخه د افغانستان بانک په داوطلبیو کې د اړتیا او شرایطو وړ ټولو داوطلبانو لپاره د زمینې برابرول په پام کې ونیول شي. دې آمریت د پورته مواردو په پام کې نیولو سره خپل کاري ټیمونه له کاري پلان سره سم د خدماتو او د معلوماتي تکنالوژۍ په مدیریتونو کې د عملیاتي خطرونو د پیدا کولو او پېژندلو لپاره په دنده ګمارلي دي چې اړوندو برخو ته د مطلوبو اجرااتو په موخه لازمې مشورې وړاندې کړې دي.